د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

د اسلام سیاسي نظام کې د شورا احکام،

# ارزښت او ځانګړتیاوې

د ماسترۍ رساله


محصل: محمد طاهر عطشان

لارښود: دکتور رفیع الله عطاء



کال: ۱۴۰۱ هـ ش ۱۴۴۴ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسټرۍ پروګرام

# د اسلام سیاسي نظام کې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتیاوې

د ماسټرۍ رساله

محصل: محمد طاهر عطشان

لارښود: دکتور رفیع الله عطاء

کال: ۱۴۰۱ هـ ش/ ۱۴۴۴ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنټ

### د ماسترۍ بورډ

---

# تـــصـدیـق نـــامــــه

ښاغلی محمد طاهر د علاؤالدین زوی د SH-MSF-98-624 :ID نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د اووم دورې محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې: د اسلام سیاسي نظام د شوروي احکام ارزښت او ځانګړتیاوې د سه شنبه ورځ په ۱۴۰۱/۱۲/۱۶ هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۸۰ (نمرو په عدد) اتیا نمره (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور ابراهیم صافی | دحکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۲ | استاد شکرالله مخلص | د حکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۳ | دکتور رفیع الله عطاء | لارښود او دحکم پلاوي مشر | [signature] |

دماسترۍ د بورډ آمر.................................          علمی مرستیال .................................

# ډالۍ

دا تحقیقي رساله زه خپلو قدرمنو استادانو ته ډالۍ کوم او دوی ته په چارو کې بریالیتوب غواړم.

# لنډیز

ددې تحقیقي رسالې عنوان د اسلام سیاسي نظام کې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتیاوې دي، چې دا عنوان د ماسټرۍ بورډ د قدرمنو استادانو او محترمو مسؤلینو لخوا تائید شویدی. ددې تحقیقي رسالې موخه د شورا د احکامو، ارزښت او ځانګړتیاؤ څیړل دي، همدارنګه د شورا په هکله هر اړخیز معلومات راټولول دي. تر څنګ یې د بحث هدف لاسته راوړل دي چې هغه د اسلام سیاسي نظام او شورا پیژندل او نورو ته ورمعرفي کولو څخه عبارت ده.

د شورا په هکله په ملي ژبو پښتو او دري کې ډیر کم مأخذونه شته دي، د شورا په هکله علماؤ په پښتو ژبه کې ډیر څه نه دي کړي، مګر یوازې د اسلام سیاسي نظام په اړانه کې د شورا په اړه مختصر معلومات شته دي، د ځانګړې موضوع په توګه چې په تفصیلي او جامع توګه یې شورا بیان کړې وي، په پښتو کې ما داسې څه پیدا نه کړل. نو ځکه مې پریکړه وکړه ترڅو د شورا په هکله یوه تحقیقي رساله ولیکم او په هکله یې تفصیلي وغږیږم چې له نیکه مرغه پدې برخه کې استاد هم راسره مرسته وکړه او دا موضوع راته انتخاب او بیا مې وروسته وربانديې پیل وکړ.

شورا د اسلام د سیاسي نظام مهم رکن دی، او پدې رکن باندې اسلام ډیر ټینګار کړیدی همدارنګه د مسلمانانو اتفاق او اخوت یې پدې رکن پورې تړلی دی، شورا د استبداد او دیکتاتورۍ مخه نیسي او د مسلمانانو امیر په مشورې مکلف کوي، همدارنګه شورا په لویو وطني او سیاسي موضوعاتو کې نور متنفذین او علماؤ هم شریکوي او د دوی نظر اخیستل ډیر مهم ګڼي، شورا د اسلام د سیاسي نظام په ثبات او تداوم کې ډیر مهم رول لوبوي. د اسلام په سیاسي نظام کې له علماؤ، سیاسیونو او متنفذینو سره باید مشوره وشي، او د دوی نظر او رأیې باید احترام وشي، ترڅو وروستۍ پریکړه په شورا متکي، قوي او واحده وي، او د ټولو لخوا تائید وي، ترڅو په مشترکه توګه تطبیق او عملي شي.

ددې تحقیقي بحث په لومړي فصل کې د اسلام د سیاسي نظام په لغوي او اصطلاحي تعریف، د اسلام د سیاسي نظام سرچینې، الهي/شرعي حاکمیت، د سیاسي نظام اصول او ارکان، د سیاسي نظام مقاصد او موخې، د اسلام د سیاسي نظام منابع، د اسلام د سیاسي نظام اهداف او داسې نور مهم موضوعات څیړل شویدي.

همدارنګه پدې تحقیقي رساله کې، په دویم فصل کې د شورا په هر اړخیزې پیژندنې، د شورا په هکله د علماؤ نظریات، د شورا سیاسي ګټې، د شورا اهمیت او ارزښت، په سیاست کې د شورا نقش او آیا امام د شورا د پریکړو په تطبیق مکلف دی؟ او داسې نورو مهمو مسایلو باندې بحث ترسره شویدی.

تر څنګ یې په دریم فصل کې د شورا احکام (په قران او احادیثو کې) بیان شویدي، ورسره د شورا په تشکیل او د شورا په ګټو هر اړخیز بحث شویدی. او بالاخره پدې فصل کې د شورا د غړو په صفاتو او ځانګړتیاوو بحث شویدی. همدارنګه د شورا مجلس موده، د ریاست مشرحق نلري چې د شورا رأیه رد کړي، په نبوي دور کې د شورا تاریخي غونډه، د شورا اساسي اهداف، د شورا اختیارات، د زیاتو رأیو پر بنسټ پریکړه، په شورا کې د میرمنو غړیتوب، څوک اهل مشوره دي او داسې نورو مهمو مسایلو باندې خبرې اترې شویدي.

وروسته ددې تحقیقي رسالې په څلورم فصل کې د اسلام د سیاسي نظام او ډیموکراسۍ تر منځ په توپیرونو خبرې شوي دي، ترڅنګ یې د شورا او پارلمان توپیرونه تر بحث لاندې نیول شویدي، همدارنګه د طاغوت او په طاغوت د پریکړې په هکله هم معلومات راټول شویدي، او بالاخره په افغانستان کې د پارلمان په مخینې او شالید هم رڼا اچول شویده.

# مننلیک

د الله ج د شکر او ستاینې ځای دی چې ما ته یې ددې توفیق راکړ، چې له ځنډ وروسته او له مصروفیتونو سره سره پدې وتوانیدم چې خپل تیزس ترتیب او دفاع کړم، همدارنګه د لوړو زده کړو قدرمن وزارت څخه ډیر مننندوی یم چې خپلو هیوادوالو ته په ډیرو کمو امکاناتو خو په کلک هوډ سره په ناوړه اقتصادي شرایطو کې په لږ لګښت د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو زمینه برابروي.

همدارنګه د سلام پوهنتون له اداري څخه مننه چې د افغانستان پدې ناوړه شرایطو کې خپلو هیوادوالو ته د تعلیم او تحصیل د ور ښودلو او زمینې برابرولو په برخه کې خدمات وړاندې کوي، او منحیث د اداري له محصلینو سره ډیر نیک او اکاډمیک برخورد کوي، دوی ته د تیزس د لیکلو په برخه کې لازمي لارښوونې کوي او په دفاع کې یې ورسره همکاري کوي. ددې خبرو تر څنګ د سلام پوهنتون د ماسټري بورډ له مسؤلینو هم ډیره مننه او ستاینه کوم چې ما سره یې په خلاصه تندې او په ښه سلوک سره تل همکاري او لارښوونه کړېده.

ددې رسالې په پلان کولو، ترتیبولو او لیکلو کې د ګران استاد ډاکټر صاحب رفیع الله عطاء له لارښوونو، همکارۍ او مرستې ډیر مننندوی یم، هغه له ستړیاوو او مصروفیتونو سره سره له ما سره ډیره مرسته او خواخوږي کړېده، الله ج دې نوموړي ته اجرونه ورکړي، کور یې ودان. همدارنګه د ماسټرۍ بورډ همکارانو هر یو قدرمن استاد مخلص صاحب او محترم استاد ادریس صاحب دواړو ورونو څخه ډیر مننندوی یم، دواړو راسره هر وخت د تیزس چارو پر مخ وړلو، طی مراحل او همغږۍ کې پوره مرسته او همکاري کړېده.

همدارنګه له خپلې کورنۍ او ملګرو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په تحصیلي ډګر کې د هر ډول ستونزو او مشکلاتو د هوارولو په موخه یې راسره تل هر اړخیزه مرسته کړېده او تحصیلي چارو په مخته وړلو کې یې راسره همکاري یې کړېده. دعاء کوم چې الله ج ما ته توفیق راکړي چې له ډیرو ستونزو او شرطونو سربیره دا تیزس په ښه ډول ترتیب او ولیکم او ستاسې حضور ته په پوره امانت او صداقت سره وړاندې کړم.

نوملړ مخ


پیلیزه........................................................................................ أ
لنډیز........................................................................................ ب
مننلیک........................................................................................ ج
نوملړ........................................................................................ د
سریزه........................................................................................ ز


## لومړی فصل؛

## د اسلام سیاسي نظام پیژندنه


لومړی مبحث؛ د اسلام سیاسي نظام لغوي او اصطلاحي تعریف ................................ ۲
لومړی مطلب؛ د نظام تعریف................................................................ ۲
دویم مطلب؛ د سیاست تعریف ................................................................ ۲
دریم مطلب؛ د سیاست اصطلاحی معنا ........................................................ ۴
څلورم مطلب: سیاست د فقهاؤ له لیدلوري ...................................................... ۵
دویم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام سرچینې ...................................................... ۷
لومړی مطلب؛ قران کریم ........................................................................ ۷
دویم مطلب؛ حدیث او نبوي سیرت ................................................................ ۸
دریم مطلب؛ د اصحابو کرامو او راشدینو خلفاؤ اجماع او تګلاره ...................................... ۹
څلورم مطلب؛ اجتهاد ............................................................................ ۹
دریم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام ارکان.......................................................... ۱۰
لومړی مطلب؛ الهی/شرعی حاکمیت.................................................................. ۱۰
لومړی جزء: د الهي حاکمیت په هکله قراني آیات ...................................................... ۱۰
دویم جزء: د الهي حاکمیت په اړه د رسول الله ص احادیث.............................................. ۱۱
دریم جزء؛ د الهي حاکمیت په هکله د راشدینو خلفاؤ رض تګلاره ...................................... ۱۴
څلورم جزء؛ د الهي حاکمیت په اړه د اسلامي پوهانو نظریات ............................................ ۱۵
دویم مطلب؛ د ملت سیادت ........................................................................ ۱۹

دریم مطلب؛ شورا ........................................................................19
څلورم مطلب؛ عدل او قسط .............................................................. 19
پنځم مطلب؛ اطاعت کول................................................................. 20
څلورم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام اهداف .......................................... 21
لومړی مطلب؛ د دین غلبه او د الله تعالی بنده ګی ...................................... 21
دویم مطلب؛ د عدل ټینګښت .............................................................. 21
دریم مطلب؛ د خلکو د دنیوي ژوند سمون.............................................. 22
څلورم مطلب؛ د خلکو د مال، ځان او عزت ساتنه......................................22

## دویم فصل؛

## د شورا پېژندنه

لومړی مبحث؛ د شورا لغوي او اصطلاحي پېژندنه......................................24
لومړی مطلب؛ د شورا اصطلاحي تعریف................................................24
دویم مبحث؛ د شورا په هکله نظریات .................................................. 26
دریم مبحث؛ د شورا اهمیت او ارزښت .................................................27
څلورم مبحث؛ په سیاست کې د شورا نقش............................................30
لومړی مطلب؛ د شورا سیاسي ګټې......................................................31
پنځم مبحث؛ آیا امام د شورا په پریکړو مکلف دی ..................................... 32
شپږم مبحث؛ د قرانکریم له نظره د غیر اسلامي نظامونو شورا ......................... 37

## دریم فصل؛

## د شورا احکام او ځانګړتیاوې

لومړی مبحث؛ د شورا په اړه قرآني آیات.............................................. 41
دویم مبحث؛ د شورا په هکله د رسول الله ص احادیث ................................ 43
دریم مبحث؛ په نبوي دور کې د شورا تاریخي غونډې .................................46
لومړی مطلب؛ د اذان شورا ..............................................................46

دویم مطلب؛ د بدر کبری شورا ........................................ ۴۷
دریم مطلب؛ د بدر د بندیانو په هکله شورا ........................................ ۴۸
څلورم مطلب؛ د احد شورا ........................................ ۴۸
پنځم مطلب؛ د خندق شورا ........................................ ۴۸
شپږم مطلب؛ د خندق شورا د روغې جوړې لپاره ........................................ ۴۹
اووم مطلب؛ د افک په هکله شورا ........................................ ۴۹
اتم مطلب؛ د حدیبیې شورا ........................................ ۴۹
څلورم مبحث؛ د شورا د غړو صفات ........................................ ۵۱
پنځم مبحث؛ د شورا اساسي اهداف ........................................ ۵۳
شپږم مبحث؛ د شورا صلاحیتونه ........................................ ۵۴
اووم مبحث؛ د ریاست مشر حق نلري د شورا رأیه رد کړي ........................................ ۶۱
اتم مبحث؛ د زیاتو رأیو پر بنسټ پریکړه ........................................ ۶۴
نهم مبحث؛ په شورا کې د میرمنو غړیتوب ........................................ ۶۷
لسم مبحث؛ په شورا کې د نامسلمانو متنفذینو ګډون ........................................ ۶۹
یوولسم مبحث؛ د شورا د غړو ځانګړنې ........................................ ۷۱
لومړی مطلب؛ ایمان ........................................ ۷۱
دویم مطلب؛ فقاهت ........................................ ۷۱
دریم مطلب؛ عدالت او دیانت ........................................ ۷۲
څلورم مطلب؛ عقل او بلوغ ........................................ ۷۲
پنځم مطلب؛ له رواجونو څخه آګاهي ........................................ ۷۲
شپږم مطلب؛ اعتماد او باور ........................................ ۷۳
دولسم مبحث؛ د شورا لپاره د مودې ټاکل ........................................ ۷۴
دیارلسم مبحث؛ څوک اهل مشاوره دي ........................................ ۷۵
لومړی مطلب؛ العرفاء ........................................ ۷۵
دویم مطلب؛ النقباء ........................................ ۷۶
دریم مطلب؛ ملاء القوم ........................................ ۷۶

ځلورم مطلب؛ اولو الامر ........................................................................ ۷۷


## ځلورم فصل؛

## د اسلامي شورا او د ډیموکراسي پرتله


لومړی مبحث؛ د ډیموکراسۍ پیژندنه ........................................................۸۰
لومړی مطلب؛ د ډیموکراسۍ تاریخي مخینه ..................................................۸۰
دویم مطلب؛ د ډیموکراسۍ د رامنځته کېدو شرایط...........................................۸۰
دریم مطلب؛ د ډیموکراسۍ خصوصیات .........................................................۸۱
دویم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام خصوصیات ...............................................۸۲
دریم مبحث؛ د اسلام او ډیموکراسۍ پرتله .....................................................۸۳
لومړی مطلب؛ د شورا د قانون جوړولو چوکاټ....................................................۸۴
دویم مطلب؛ د اشتراک ټکی ..........................................................................۸۵
ځلورم مبحث؛ تحاکم الطاغوت .......................................................................۸۷
لومړی مطلب؛ د طاغوت مفهوم د لغت پوهانو له نظره..........................................۸۹
دویم مطلب؛ د طاغوت مفهوم د صالحینو له نظره ...............................................۹۰
پنځم مبحث؛ شریعت او شارع ........................................................................۹۲
لومړی مطلب؛ مقننه قوه ..............................................................................۹۲
دویم مطلب؛ د ملي شورا تاریخي مخینه .........................................................۹۳
لومړۍ فقره؛ د نادرخان د واکمنۍ ملي شورا ....................................................۹۴
دویمه فقره؛ د هاشم خان د صدارت ملي شورا ..................................................۹۴
دریمه فقره؛ د شاه محمود خان د صدارت ملي شورا ............................................۹۴
ځلورمه فقره؛ د داوود خان د صدارت پر مهال ملي شورا .........................................۹۵
پنځمه فقره؛ ملي شورا د جمهوریت په لسیزه کې..................................................۱۰۰
شپږم مبحث؛ په افغانستان کې ملي شورا او شالید یې ........................................۱۰۰
اووم مبحث؛ د ملي شورا جوړښت ..................................................................۱۰۰
لومړی مطلب؛ ولسي جرګه...........................................................................۱۰۰
دویم مطلب؛ د ولسي جرګې اداري هیئت............................................................۱۰۱

دریم مطلب؛ په ولسي جرګه کې د قانون جوړونې پړاوونه........................................۱۰۱
څلورم مطلب؛ په مشرانو جرګه کې د قانون جوړونې پړاوونه...................................... .۱۰۲
پنځم مطلب؛ د ملي شورا دندې او صلاحیتونه ........................................................۱۰۳
لومړۍ فقره؛ د قوانینو او فرمانونو تصویبول ..........................................................۱۰۳
دویمه فقره؛ د بودجې تصویب او د پور اخیستلو یا ورکولو اجازه..................................۱۰۴
دریمه فقره؛ د اجرائیه قوې کنټرول او څارنه ..........................................................۱۰۴
پایله اخیستنه؛ .................................................................................................۱۰۵
وړاندیزونه؛ .....................................................................................................۱۰۷
د قرآنکریم آیتونه؛ ............................................................................................۱۰۸
احادیث؛........................................................................................................۱۱۰
اعلام؛...........................................................................................................۱۱۱
مأخذونه؛ .......................................................................................................۱۱۲
Conclusion in English؛.....................................................................................۱۱۵

# سریزه

**الحمدلله و كفى و الصلاة والسلام على رسول الله، و بعد: قال الله تبارک و تعالى؛ "وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ". (الشورى ٣٨[1])، و ايضاً قال الله تعالى و شاوِرهُم فِي الأمر. و عن ابي هريرة رضى الله تعالى عنه: مَا رَأَيْتُ أَحَداً أَكْثَرَ مَشْوَرَةٍ لِأَصْحَابِهِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) و قال رسول الله ص: أَمَا اَنَّ اللَّه وَرَسُولَهُ لَغَنِيَّانِ عَنْهَا وَلَكِنْ جَعَلَهَا اللَّهُ رَحْمَةً لِأُمَّتِي فَمَنْ اِسْتَشَارَ مِنْهُم لَمْ يَعْدِم رُشْداً وَمَنْ تَرَكَهَا لَمْ يَعْدِمْ غياً.**

محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي دي: لو یه ښتنه ! مونږ ته ددې وړتیا راکړې چې شیان لکه څنګه چې دي هماغسې یې وپیژنو. د حقیقت او رښتینوالي لټون او موندنې ته تحقیق ویل کیږي. قرآن کریم په سورة حجرات کې سپارښتنه کوي چې کله یو مسلمان فاسق سره مخ شي او کوم خبر ورته بیان کړي نو مسلمان باید پدې اړه تحقیق او تبیین وکړي او ژر پرې باور و نه کړي.

تحقیق د تېرو پلټنه، دوام او پرمختګ ته وایي، که دغه دوام، پلټنه او پرمختګ په هره برخه کې وي؛ تحقیق، څېړنې او ریسرچ ته ویل کیږي. د تحقیق لفظ له حق څخه اخیستل شوی دی، د رښتیا، سم، د باطل ضد، ثابت او واجب معناء ورکوي. تحقیق عربي لفظ دی په فارسي کې ورته پژوهش او پښتو کې څېړنه او پلټنه ګڼل کیږي. خو په عربي ژبه کې څیړنې او پلټنې ته تحقیق نه ویل کیږي بلکې د (بحث) اصطلاح ورته کارېدلې ده او په اصطلاح کې هغه زیار او هڅې ته وایي چې نوې لټول کیږي او د یو شي حقیقت پکې راسپړل کیږي د یوې موضوع، فکر او عمل تیاره او تت اړخونه پکې پلټل کیږي.

تحقیق او څېړنې موخه لرونکو پوښتنو ته د یو منظم فعالیت په توګه ځواب ورکوي. محقق او څیړونکی هغه څوک دی چې په تحقیق لاس پورې کوي او محققانو ته د تحقیق انګیزه هغه مهال پیدا کیږي چې له یوې نوې پوښتنې سره مخ شي، په واقعیت کې هر تحقیق ځانته ټاکلی هدف او معین روش لري. څېړنه د تفکر او تمرکز محصول دی له همدې امله قرآن کریم او حدیث مطهره کې هم د یوې موضوع د تأکید، صدق او اعتبار لپاره د (لقد) او خامخا الفاظ ډیر کارېدلي دي ترڅو بنده ګان په عقیدوي لحاظ یوې موضوع ته د شک په سترګه و نه ګوري او موضوع ثابته او صادقه وښئي.

زما موضوع چې "د اسلام سیاسي نظام کې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتیاوې" په هکله ده، چې د څیړنې میتود به یې توصیفي یا تحلیلي وي، ددې موضوع د څیړلو او تشریح لپاره مو د ښو او معتبرو کتابونو لوستل په پام کې نیولي دي، ترڅو ښه او ګټور معلومات ترې ترلاسه کړو چې لوستونکو ته په درد وخوري او د موضوع اړوند وي. تر څنګ یې هغه هدف چې مونږ

[1]. القران الكريم: الشورى سورت، ٣٨ آية

ټاکلی دی ورته ورسیږو، او هدفمند مطالب ترې را وباسو. زه دلته پدې رساله کې د شورا په تعریف، ارزښت، ځانګړتیاوو او په احکامو یې غږیږم، او ددې موضوع تت اړخونه او ټول جوانب یې څیړم او بحث وربانديې کوم. همدارنګه د اسلام سیاسي نظام کې د شورا ارزښت، ترکیب او امیر ته یې مسؤلیت باندې خبرې کوم.

وروستي په نورو فصلونو کې به د شورا په غړو او معاصر جوړښت به یې هم بحث ولرو، او شورا به له پارلمان او ډیموکراسۍ سره پرتله کړم. هڅه کوم چې دا تیزس جامع، معلوماتي او ګټور ولیکل شي، او د قدرمنو استادانو د تائید وړ وګرځي.

## د موضوع معرفي:

ددې تحقیقي رسالې عنوان د اسلام سیاسي نظام کې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتیاوې دي، چې دا عنوان د ماسترۍ بورډ د قدرمنو استادانو او محترمو مسؤلینو لخوا تائید شویدی. ددې تحقیقي رسالې موخه د شورا د احکامو، ارزښت او ځانګړتیاؤ څیړل دي، همدارنګه د شورا په هکله هر اړخیز معلومات راټولول دي. تر څنګ یې د بحث هدف لاسته راوړل دي چې هغه د اسلام سیاسي نظام او شورا پیژندل او نورو ته ورمعرفي کولو څخه عبارت ده.

پدې بحث کې به د اسلام سیاسي نظام او شورا په هکله ډیر څه زده کړو او په هکله به یې ولولو. دا رساله شورا په هر اړخیزه او جامع توګه بیانوي، او ټول جوانب یې څیړي، زما هڅه داده چې ددې موضوع ټول تت اړخونه روښانه کړم.

هغه حکومتونه بقاء لري کومو چې هراړخیز عدالت تأمین کړی وي، د خلکو حقوق یې ورکړي وي. اسلامي شریعت یې پلی او نافذ کړی وي، خلک معروفو ته را وبولي، او د له منکراتو او منهیاتو یې مخنیوی وکړي. همدارنګه په شورا متکي وي، او له استبداد یې مخنیوی کړی وي. هر کار او چاره یې په شورا مخته ځي، د علماو، متنفذینو او سیاسیونو مشوره او سپارښتنه ورسره وي، هغه به بریالی نظام وي او پرمختګ به کوي. د انسانانو ځاني او مالي امنیت یې خوندي کړی وي. او د هغوی عقیدې یې له فکري هجومه ساتي. هغه نظامونه او حکومتونه چې د ظلم، جنایت، تیري، غصب او فساد مخه یې نیولې وي تل به د ولس په مرسته تداوم پیدا کوي او سیاسي عمر به یې زیات وي. هغه سیاسي نظام چې د ولس رأیه اخلي، د ولس په رأیه خپلې دولتي چارې او وطني مسایل مخته وړي، شورا یې له سیاسیونو، علماؤ او متنفذینو څخه ترکیب وي، او په شورا یې د استبداد مخه نیولې وي، هغه به د اسلامي شریعت مطابق او د خلکو د خوښې وړ نظام وي.

## د موضوع ارزښت:

شورا د اسلام سیاسي نظام دویم رکن دي، هغه سیاسي نظام چې په شورا او عدالت متکي وي، اتباع یې ترې راضي او تر ډېره بقاء کوي. په قران، حدیث او د جمهورو په اقوالو کې د شورا ډېر فضیلت او اهمیت بیان شوی دی. شورا او مشوره کې خیر دی، او شورا د ټولو په ګټه ده.

ددې تحقیقي رسالې ارزښت پدې کې دی چې دا موضوع په پښتو کې ډېره څېړل شوې نه ده، او پدې برخه کې د پښتو سرچینې ډېرې کمې دي. په پښتو کتابونو کې، شورا د اسلام د سیاسي نظام په چوکاټ کې په مختصره توګه بیان شوېده، چا وربانديې ډېر تفصیلي بحث نه دی کړی، له همدې امله ما وغوښتل چې د لارښود استاد او د ماسټرۍ بورډ مسؤلینو په همکارۍ دا موضوع په هره اړخیزه توګه وڅېړم.

دا موضوع له دې امله ارزښتناکه ده چې د شورا احکام هم څېړي، او په هکله یې معلومات ورکوي او هم د شورا په ارزښت او ځانګړتیاوو بحثونه لري. دا موضوع د سلام پوهنتون لخوا په ماضي کې ډېره څېړل شوې نه ده او نه د ماسټرۍ بورډ مسؤلینو لخوا چا ته پدې هکله خبرې کړېدي.

دا چې شورا د اسلام د سیاسي نظام مهم رکن دی او د سیاسي نظام اصل دی او شورا د ډېرو مسایلو د حل کیلي ده.

## د موضوع د ټاکلو لاملونه:

زما د موضوع د ټاکلو لاملونه ډېر دي خو مهم یې په لاندې ډول بیانیږي:

1- ددې موضوع د ټاکلو یو اساسي لامل دادی چې دا د اسلام د سیاسي نظام مهم رکن دی، او د مسلمانانو د وحدت او یووالي لامل ګرځي.
2- دویم لامل دا دی چې دا موضوع تراوسه په پښتو ژبه کې چا هر اړخیزه او تفصیلي څېړلې نه ده، نو اړتیا وه چې لا ډېر بحث وربانديې وشي.
3- ددې موضوع د انتخاب دریم دلیل دادی چې د شورا نشتون د مسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي را پیدا کوي، او اړتیا ده چې یو ځل بیا د شورا د بحث او طرحې موضوع تکرار شي، او اوریدونکو ته ور وپیژندل شي.
4- د شورا موضوع ټاکلو څلورم دلیل د اداري انتخاب و، ځکه د تیزس موضوع د لیکلو پر مهال محصل ته لازمه ده چې پدې بهیر کې د لارښود استاد نظر او هدایت ځان سره واخلي.

ما پدې تحقيق کې ډېر زيار ايستلی دی چې د موضوع حق اداء کړم، هغه موضوعات چې دې تحقيق پورې اړه لري تر بحث لاندې ونيسم او د هغو موضوعاتو له بيان څخه ډډه وکړم چې د تحقيق له موضوع څخه بهر وي او د لوستونکي تنده پرې ماته نشي.

## د څېړنې اصلي پوښتنې:

د اسلامي سياسي نظام څېړل، واضح کول او ټول تت اړخونه يې روښانه کول، همدارنګه ددې نظام اساسي ارکان څېړل چې يو مهم يې د شورا رکن دی، ډېر اړينه او پيچلې موضوع ده همدارنګه شورا چې د استبداد ، خفګان او خرابۍ مخنيوی کوي، ډېر مهم اصل دی. د شورا اصل څېړنه ډېره مطالعه، څېړنه او ليکل غواړي. ددې لپاره بايد زښتې ډېرې سرچينې او کتابونه وکتل شي، ترڅو دا مهم موضوعات په اساسي او جامع ډول تشريح او تبيين شي. پدې بحث کې به د شورا په ارزښت، اهميت او فضيلت خبرې وشي، د شورا په تشکيلاتو او ترکيب به وغږيږو. همدارنګه په شورا کې غړيتوب، د غړو شروط يې، د شورا د غړو صلاحيتونه او داسې نور مهم مسايل به پکې وڅېړل شي.

راځو د موضوع پوښتنو ته چې هغه يوه اساسي او اصلي پوښتنه ده او دوه نورې يې فرعي پوښتنې دي:

اصلي پوښتنه: د اسلام په سياسي نظام کې د شورا ارزښت، احکام او ځانګړتياوې څه دي؟

لومړۍ فرعي پوښتنه: د اسلام سياسي نظام څه ډول نظام دی؟

دويمه فرعي پوښتنه: د شورا څه ته وايي؟

دريمه فرعي پوښتنه: د شورا احکام او ځانګړتياوې څه دي؟

څلورمه فرعي پوښتنه: د اسلامي شورا او ډيموکراسۍ پرتله کول؟

## د موضوع مخينه:

پدې بحث او تحقيق کې به پر دې موضوع هم پلټنه وشي چې د اسلام سياسي نظام شورا څومره رول لري. او شورا د قومونو ، متنفذينو او مسؤلينو په راټولولو او يووالي کې څومره رول لري. پدې موضوع تحقيق او مطالعه کول ډېر ضروري او مهم دي، ځکه چې شورا د اسلام سياسي نظام مهم رکن دی، او اسلام ورباندې ډېر ټينګار کړيدی.

د يادونې وړ ده چې د شورا په هکله په پښتو ژبه ډېر څوک نه غږيدلي او نه چا ورباندې ډېر ليکل کړيدي، او نه لا تراوسه د ماسټرۍ بورډ دا موضوع کوم محصل ته د څېړنې لپاره ورکړېده، همدارنګه په کتابخانو کې هم د شورا په هکله په دري او په پښتو په تفصيلي او ځانګړي ډول کوم کتاب نشته، بلکې د اسلام د سياسي نظام په چوکاټ او اړانه کې ډېرو کتابونو په مختصر

ډول د شورا په هکله لیکل کړیدي. په پښتو ژبه کې د شورا تر عنوان لاندې نه په سلام پوهنتون او نه هم په کتاب پلورنځیو کې ما څه پیدا کړل.

## د څیړنې ډول:

هر محصل او لیکوال یو څیړونکی دی څکه چې د دوامدارې مطالعې او پلټنې له مخې غواړي چې په یو موضوع کې تحقیق او پلټنه وکړي ترڅو کشف شوي حقایق او واقعیتونه ټولنې ته وړاندې کړي.

هره تحقیقي موضوع د فرضیې ثابتولو او ځواب موندلو لپاره ځانته ځانګړی روش او ډول لري چې دا د موضوع په نوعیت او څرنګوالي پورې اړه لري چې د تحقیق لپاره ورته کوم ډول روش غوره شي. د شرعیاتو پوهنځۍ د اکثرو مسایلو د څیړلو یوازینی روش کتابخانه یي دی، هغه ددې لپاره ترڅو د موضوع د څرګندولو لپاره او ښه څیړلو لپاره شرعي او اسلامي کتابونه ورته لیکل شي. او په دغو کتابونو کې د موضوع اساس، حکم، جوانب او تفصیل یې پیدا شي، لوستونکي او مخاطبین وړاندې خبر کړي. او دغه نوي معلومات تر دوی ورسوي.

زما د تیزس موضوع د څیړنې میتود کتابخانه یي دی، دغه روش ډیره مطالعه او لوستنه غواړي، او مأخذونه یې باید معتبر، جامع او شرعي کتابونه ولوستل شي.

غواړم ددې موضوع د روښانتیا او څیړلو لپاره تاریخي، شرعي او سیاسي کتابونه وګورم او د خپلې موضوع په هکله مهم او ضروري مواد ترې را واخلم، دا مې پلان دی چې ددې موضوع د تفصیلي څیړلو او لیکلو لپاره ډیرې سرچینې وګورم او ویې لولم، او د ټاکلې موضوع په هکله ترې تفصیلي او باوري معلومات راټول کړم.

## د څیړنې موخې:

د حکومتونو سیاسي مشروعیت او مردمي مقبولیت په شورا پورې تړلی دی. شورا د استبداد مخنیوی کوي او د مسلمانانو د متنفذینو او سیاسیونو د یووالي لامل ګرځي، او د دوی ترمنځ سیاسي او اداري همغږي رامنځته کوي. او د پریکړو د مسؤلیت پیتی یوازې د امیر او امام په اوږو نه وي بلکې د شورا غړي هم ورسره په پریکړو کې شریک وي.

ددې تحقیقي رسالې د څیړلو موخې او اهداف پدې توګه دي:

1- ددې څیړنې موخه دا ده ترڅو شورا په تفصیلي او هر اړخیزه توګه لوستونکو ته ورمعرفي کړي، او د شورا په هکله تفصیلي معلومات راټول کړي.
2- ددې تحقیقي رسالې موخه د شورا د ټولو ابعادو، احکامو، ارزښتونو او ځانګړتیاوو څیړل دي.

3- بله موخه د شورا د ګټورتوب بیانول، او د لاربښود استاد د لاربښوونو له مخې د شورا په هکله معلومات راټولول او د تیزس لیکل دي.
4- همدارنګه وروستۍ او اساسي موخه مې د ماسټرۍ دورې پای ته رسول او د تیزس بریالۍ دفاع ده. او داسې نورې ډیرې موخې تعقیبوي.

## د څیړنې ستونزې (محدودیتونه)

هره تحقیقي رساله ځانته خپلې ستونزې او محدودیتونه لري، چې د څیړلو پر مهال محقق او محصل ورسره لاس او ګریوان وي. له همدې امله د موضوع په انتخاب کې ډیر احتیاط او پاملرنه پکار ده، باید داسې موضوع وټاکل شي چې څیړنه یې آسانه او په هکله یې منابع ډیر وي.

ددې موضوع د څیړلو اساسي ستونزه نشته ده، بلکې یو محدودیت پکې موجود دی چې د موضوع په هکله په پښتو ژبه کې د شورا تر عنوان لاندې مشخص کتاب نشته او هم مې د کابل په کتاب پلورنځیو کې دارنګه کتاب پیدا نه کړ، او زه اوس مجبور یم چې د معلوماتو راټولو لپاره د دري ژبې کتابونه را وژباړم، او پښتو ته یې واړوم.

## د څیړنې پلان: (مختصر)

د څیړنې پلان پدې ډول دی چې د اسلام سیاسي نظام کې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتیاوې موضوع په کتابخانه یي ډول په څلورو فصلونو کې وڅیړم.

دا تحقیقي رساله د پیلیزې، لنډیز، مننلیک او د نوملړ لرونکې ده، او په څلورو فصلونو ویشل شوې ده، چې هر فصل بیا څو مبحثونه او مطلبونه لري. تر څنګ یې یوه خاتمه لري چې هغه بیا د پایلو او وړاندیزونو لرونکې ده، چې د فصلونو او مبحثونو معلومات یې په لاندې ډول بیانیږي:

ددې رسالې لومړنی فصل د اسلام د سیاسي نظام د پیژندنې په اړه دی، لومړی فصل په پنځو مبحثونو او ۸ مطلبونو ویشل شوی دی چې موضوعات یې پدې ډول دي: د اسلام سیاسي نظام لغوي او اصطلاحي تعریف، د اسلام سیاسي نظام سرچینې، د اسلام سیاسي نظام ارکان، د اسلام سیاسي نظام اهداف او د اسلامي شورا خصوصیات.

همدارنګه دویم فصل د شورا د پیژندنې باندې بحث کوي ، او په شپږو مبحثونو او ۱۰ مطلبونو ویشل شوی دی چې عنوانونه یې په لاندې ډول دي: د شورا لغوي او اصطلاحي تعریف، د شورا په هکله نظریات، د شورا اهمیت او ارزښت، په سیاست کې د شورا نقش همدارنګه آیا امام د شورا د پریکړو په رعایت مکلف دی؟ او وروستۍ موضوع یې د قرآن له نظره د غیر اسلامي نظامونو شورا.

ددې تحقيقي رسالې دريم فصل په پنځه مبحثونو او ۷ مطلبونو ويشل شويدی، چې په لاندې ډول بيانيږي: د شورا د غړو صفات، د شورا اساسي اهداف، د شورا احکام په احاديثو کې، د شورا تشکيل او جوړښت، همدارنګه د شورا ګټې، همدارنګه په شورا متکي امام او ددې فصل وروستۍ موضوع يې د شورا ترکيب او د غړو صفات بيان شويدی. د يادونې وړ ده چې په څلورم فصل کې يې د اسلام سياسي نظام او د ډيموکراسۍ پرتله بيان شويده او په دريو مبحثونو او ۵ مطلبونو ويشل شويدي چې په لاندې ډول دي: د اسلام سياسي نظام او د ډيموکراسۍ توپيرونه، شورا او پارلمان او شورا او انتخابات، او په افغانستان کې د شورا تاريخچه او وروسته پايله اخيستنه، وړانديزونه او مأخذونه ليکل شويدي.

زه دلته پدې رساله کې د شورا په تعريف، ارزښت، ځانګړتياوو او په احکامو يې غږيږم، او ددې موضوع تت اړخونه او ټول جوانب يې څيړم او بحث ورباندې کوم. همدارنګه د اسلام سياسي نظام کې د شورا ارزښت، ترکيب او امير ته يې مسؤليت باندې خبرې کوم. هڅه کوم چې دا تيزس جامع، معلوماتي او ګټور وليکل شي، او د قدرمنو استادانو د تائيد وړ وګرځي.

# لومړی فصل
## د اسلام سیاسي نظام پېژندنه

پدې فصل کې د اسلام د سیاسي نظام په پېژندنې بحث او څېړنې ترسره شویدي، چې لغوي، اصطلاحي، تعاریفات په ځان کې رانغاړي، همدارنګه د اسلام د سیاسي نظام په سرچینو، اهدافو، ارکانو هم څېړنې شویدي او پدې فصل کې ځای ورکړل شویدی، پدې معنا چې پدې فصل کې د اسلام سیاسي نظام په هر اړخیزه توګه او تفصیلي بیان شویدی، دا فصل په ډېرو مبحثونو او مطلبونو ویشل شویدی، چې په لاندې ډول بیانیږي:

لومړی مبحث: د اسلام د سیاسي نظام لغوي او اصطلاحي تعریف

دویم مبحث: د اسلام د سیاسي نظام سرچینې

دریم مبحث: د اسلام د سیاسي نظام ارکان

څلورم مبحث: د اسلام د سیاسي نظام اهداف

## لومړی مبحث: د اسلام د سیاسي نظام لغوي او اصطلاحي تعریف؛

په یو هیواد کې د سیاسي نظام شتون د انسان د بدن د دماغ ته ورته والی لري، که بدن هر څومره روغ وي خو چې دماغ ناروغ وي هیڅ په درد نه خوري. دغه شخص بیا غیر مکلف او د څناور حیثیت غوره کوي. اسلامي پوهانو څومره ښه ویلي دي: اسلام تهداب او حکومت او سیاسي نظام یې څوکیدار دی، نو کوم شی چې تهداب و نه لري ړنګیږي؛ مګر چې څوکیدار و نه لري بربادیږي نو په دې اساس سیاست د ملت د اقتصادي، اجتماعي، اخلاقي، قضایي، دفاعي او اداري چارو د اصلاح او سمون نوم دی.

په همدې بنسټ حکومت د ملت د چارو مسؤل وي او ملت د دولت د چارو د سمون او مسؤلیت په غاړه لري؛ نو په لنډه توګه یې ویلی شو چې سیاست د مصالحو او ګټو د جلب او د مفاسدو د له منځه وړلو نوم دی.

سیاست د خلکو د چارو د ښه تدبیر، د دین د ساتنې او د خلکو د قیادت او د ټولنې د پرمختګ او د خلکو د اړیکو د اصلاح او سمون نوم دی.

### لومړی مطلب: د نظام تعریف

نظام له نظم څخه اخیستل شویدی، د نظام معنا تنظیم او تنسیق دی، سیاسي نظام له هغه تشکیل څخه عبارت دی چې د حاکم او رعیت تر منځ اړیکې تنظیموي او له بېلابېلو مؤسساتو څخه جوړښت مومي.

### دویم مطلب: د سیاست تعریف

سیاست د امارت په وزن د سَاسَ، یَسُوسُ څخه د قال یقول باب د مصدر صیغه ده، د دې فعل مصدر سوس قولُ په وزن هم راتلای شي، نو د سیاست او سوس اصلي معنا دا ده اصلاح کول او ښائسته کول د همدې لغوي معنا په اساس دا دواړه کلیمې د ریاست، حکومت او د هیواد د چارو د سنبالولو په ځای استعمالیږي ځکه چې د سیاست هدف او مرام هم د خلکو د حالت اصلاح، بهتر والی او سوکاله ژوند دی.[2] ابن منظور افریقي[3] رحمه الله علیه چې په (۷۱۱ هجري) کال کې وفات شوی په دې هکله لیکي:

---

[2]. اسلامي سیاست. مولانا ګوهر الرحمن.ژباړه: سعید.قریب الرحمن. پیغام خپروندی مرکز. د چاپ کال ۱۴۳۰ هـ ق. ۱۱ مخ.

[3]. ابن منظور، ابوالفضل جمال الدین محمد بن مکرّم زویفعي افریقي، مصري ادیب او قاضي دی، لرغوني مأخذونه یې "ابن مکرّم" بولي، کنیه یې د اووم نیکه منظور بن معافی له نوم اخیستل شوی نوموړی د شافعی فقهې له علماؤ څخه دی، هغه د مشهور کتاب"لسان العرب"

و السیاسه القیام علی الشئ بمایصلحه و السیاسه فعل السائس و رجل ساس من قوم ساسه و سواس.

**والسوس الرياسة يقال ساسوهم سوسا و اذا راسوه قيل سوسوه واساسوه سست الرعيه سياسة وسوس فلان امربنى فلان اى كلف سياستهم وسوس الرجل امورالناس على ما لم يسم فاعله اذا ملک امرهم** ویروي. د یوه شي د اصلاح له پاره هڅو او هاند ، ملا تړلو او کلکو دریدلو ته سیاست وایي چې د یو مدبر او لارښود کار دې، نو هغه څوک چې د قوم د سردارانو او لارښوونکو له ډلې څخه وي هغه ته "سائس" ویل کیږي.

ثعلب په خپل شعر کې ویلي دي:

[هغه د هر لښکر لارښود او قومندان دې او د جنګ په وخت کې د عسکرو رهبر او رهنما]

"سوس" په منظمه توګه د حکومت او ریاست پرمخ بوتللو ته وایي، د ساسوهم، سوسوهم، سوسا ) معنا ده هغه په خلکو حکومت کوي، کله چې کوم وګړي خپل سردار او قائد وټاکي نو هغه ته ویل کیږي (سوسوه و اساسوه ) [هغوی هغه خپل مشر وټاکه] ، سست الرعیه سیاسة معنا ده [زه د خپل رعیت نظم و نسق چلوم او په هغو حکمراني کوم]، "**سوس فلان امر بنى فلان** معنا ده: [هغه وګړي د هغې قبیلې د معاملاتو مسؤل و ګرځول شو ، هغه ته د سیاست او حکمرانۍ دروند پیټی وروسپارل شو]."

کله چې څوک د خلکو حاکم او پادشاه وټاکل شي نو ویل کیږي چې "سوس الرجل امورالناس."

حطیئة په خپل یو شعر کې ویلي دي:

[زه یې ستاسو د اولادونو او کوچنیانو مسؤل ټاکلی یم.

نو ما هغوی د دلول شویو غنمو څخه زیات میده کړل].

په صراح اللغات کې په فارسي ژبه د سیاست ژباړه "رعیت داری کردن" کړې ده.

امام غرالي رحمة الله علیه چې په **۵۰۵** هجري کال کې وفات شوی ده د سیاست په اړه داسې وایي:

**استصلاح الخلق وارشادهم الطريق المستقيم المنجى فى الدنيا و الاخرة.**

[د خلکو اصلاح او هغې لارو ته د هغوی د لارښوونه، چې د دنیا او آخرت د خلاصون یوازینۍ ذریعه ده، سیاست ویل کیږي.]

---

لیکوال دی، ابن منظور افریقي نور آثار هم لري لکه کتاب الحیوان، سرور النفس بمدارک الحواس الخمس، مختار الاغانی فی الاخبار والتهانی، مختصر تاریخ دمشق، لطائف الذخیره، او داسې نور. نوموړی په ۷۱۱ هـ ق کې وفات شویدی.

په بل ځای کې يې ليکي چې:

وهی التالف و التعاون و الاجماع علی اسباب المعيشه و ضبطها [ سياست هغه تدبير دی چې د ژوندانه د وسايلو د تنظيم او د هغې په محور د خلکو د وګړو د را ټوليدو، د هغوی ترمنځ د محبت او تعاون سبب ګرځي.]

د سياست معنا مکر، فريب، غولول او جنګول نه، بلکه سياست د هغې پوهې او حکمت نوم دی چې د خلکو ترمنځ ورورولي، محبت، يوالی او اتفاق را پيداکوي. هغه څوک چې د طبقاتي کشمکشونو او جګړې سبب ګرځي هغه ته سياستپوه نه ويل کيږي بلکه رېښتونی سياستپوه هغه دی چې د ښه تدبير او نظم ترځنګ مصلح او د اخلاقو معلم هم وي.

## دريم مطلب: د سياست اصطلاحي معنا

مسلمانو پوهانو د سياست په تعريف کې هغه څه ويلي چې د اوسني وخت پوهانو په خپلو ژبو او قلمونو سره ادا کړي دي.

۱: ابن خلدون[4] رحمة الله عليه چې په اته سوه اتم هجري کال کې وفات شوی د سياست په هکله داسې ليکي: (فالسياسة و الملک هی کفالة للخلق و خلافة الله فی العباد لتنفيذ احکامه فيهم) يعنې (سياست او حکومت د مخلوق د ساتنې او د هغوی د ګټو د ضمانت نوم دی او دا ډول سياست د الله نيابت دی چې د هغه په بندګانو د هغه عزوجل احکام نافذوي.

۲: امام غزالي رحمة الله عليه چې په پنځه سوه پنځم هجري کال کې وفات شوی د سياست په هکله داسې وايي: **( استصلاح الخلق و ارشادهم الی الطريق المستقيم المنجی فی الدينا و الآخرة)** يعنې: د الله د بندګانو اصلاح او د هغې لارې ته د هغوی لارښوونه چې د دنيا او آخرت د خلاصون يوازينۍ ذريعه ده، سياست ويل کيږي.

په همدې توګه يې په بل ځای کې يې داسې تعريفوي: **( و هي التاليف و الاجتماع علی اسباب المعيشة و ضبطها)** يعنې: سياست هغه تدبير دی چې د ژوندانه د وسايلو او د هغو په ګردا ګرد کې د افرادو او ټولنې ترمنځ د محبت، يووالي او يو بل سره د مرستې د پيدا کيدلو وسيله ګرځي. همدارنګه يې څلور ډوله فنون د انساني فطرت لپاره لازمي بللي دي:

---

[4]. **ابن خلدون:** ابو زيد عبدالرحمن بن محمد بن خلدون حضرمی مشهور په ابن خلدون د عرب قوم نوموتی مؤرخ او ټولنپوه و، چې په ۷۳۲ هـ ق کال کې په تونس کې زيږيدلی دی. هغه د سعودي عربستان د جنوبي عربانو په يوې کورنۍ پورې تړلی و. د مسلمانانو لخوا د هسپانيا له نيولو وروسته دغه هيواد ته لاړ، هلته اوسيده مګر کله چې د مسلمانانو او مسيحيانو ترمنځ اختلاف رامنځته شو نو د تونس په لور يې وخوځېد او هلته ميشت شو. ابن خلدون مشهور کتاب د هغه مقدمه ده چې د ډيرو انساني او ټولنيزو علومو ټولګه ده. د هغه د عصبيت، د حکومتونو عمر، د اقتصادي پرمختګ نظريه او د فرهنګي تکامل نظريات ډير مشهور او اغيزمن دي. نوموړی په ۸۰۸ هـ ق کال کې په قاهره کې وخت شو.

- ✓ زراعت د خوراک لپاره
- ✓ بناء د کور لپاره
- ✓ ټوکر د کالیو لپاره
- ✓ سیاست د نظم او نسق لپاره

۳: امام راغب اصفهاني[5] رحمة الله علیه د سیاست په تعریف کې د درې شیانو یادونه کړې او د انساني فعالیتونو دار او مدار یې په درې شیانو پورې مربوط بللی دی:

- ✓ عمارة الارض: یعنې د ځمکې پر مخ د تعمیراتي تمدن منځ ته راوړل
- ✓ تنفیذ احکام الله: یعنې د الله د حکمونو نافذول
- ✓ مکارم الشریة: یعنې د ښو اخلاقو اختیارول

۴: امام ابو الحسن ماوردي رحمة الله علیه[6] په لا زیاتو ځرګندو الفاظو کې دا مطلب بیان کړی: ( **الامامة موضوعة في حراسة الدین و سیاسة الدنیا** ) یعنې: اسلامي حکومت یو ډول قیادت دی چې د دین په حفاظت او د دنیا په سیاست یې د بنسټ ډبره اېښودل شوې ده.

## ځلورم مطلب: سیاست د فقهاؤ له لید لوري

فقهاؤ د سیاست عام مفهوم پدې ډول بیان کړیده:

[د اصلاحي تدبیرونو خپلولو او د حکومت د نظم او نسق پر مخ بوتللو ته سیاست ویل کیږي لکه څنګه چې ابن عابدین شامي رحمة الله علیه او ابن نجیم رحمة الله علیه ددې هر اړخیز مفهوم یادونه کړېده].

د فقهي په کتابونو کې د سیاست کلیمه په عمومي توګه تعزیري جزاګانو ته کارول شوېده، یعني هغه جزاګانې چې د قران کریم او احادیثو شریفو کې د ښکاره نصوصو څخه ثابتې نه وي، خو د شرعي قواعدو مطابق وضع شوې وي، او موخه یې د ټولنیز مصلحت رعایت او د فساد لمنځه وړل دي. سیاست هغه تدبیرونو ته ویل کیږي چې د هغې په واسطه د ټولنیزو ګټو او مصالحو ساتنه وشي، او د جرائمو د جزأ څخه موخه هم د مجرمینو اصلاح او د خلکو د مال، ځان، حیثیت

---

5. **راغب اصفهاني:** ابوالقاسم حسین بن محمد مشهور په راغب اصفهانی چې یو لغت پوه، او د اصفهان له ادیبانو او حکیمانو څخه شمیرل کیده، هغه د فارس له لویو پوهانو څخه ګڼل کیږي. دی په مذهب اهل سنت و، او په ځلورمه هـ ق پیړۍ کې وفات شویدی.

6. ابوالحسن علی بن محمد بن حبیب ماوردی د شافعي مذهبه علماؤ په سیاسي بحثونو کې نوموتی عالم دی، نوموړی په بصره کې زیږیدلی دی او په ځلور سوه شپیتم هجري کال کې وفات شوی، د اهل سنت مذهب وتلی فقیه دی، د سلجوقیانو د واکمنۍ په لومړیو کې په بغداد کې یې ژوند کول، چې له عباسي خلافت سره یې نژدې اړیکې درلودې، نوموړی د مشهور کتاب (احکام السلطانیه) لیکوال دی. ماوردي پدې کتاب کې د عباسي خلافت له مشروعیت دفاع کړېده، او د هغه وخت په سیاسي شرایطو کې ورته حقوقي چوکاټ تدوین کړي.

او عزت ساتنه ده، همدا علت دی چې د سیاست د لغوي معنأ مفهوم پدې جزاګانو باندې تحقق پیدا کړي. په اصولي توګه په حدودو ، قصاص او کفاراتو ټولو باندې د سیاست اطلاق کیږي ځکه چې ددې جزاګانو موخه هم د ټولنیزو ګټو او مصالحو ساتنه او د ټولنې اصلاح ده.[7]

ابن عابدین شامي[8] رحمة الله علیه وایي:

**و هذا تعریف للسیاسة العامه الصیادقه على جمیع ما شرعه الله تعالى لعباده من الاحکام الشرعیه.**

دا د الله ج د بنده ګانو د ګټو او اصلاح تدبیرونه (د هغه عام سیاست تعریف چې الله ج په ټولو احکامو صدق کوي، هغه احکام چې الله ج د خپلو بنده ګانو د ګټو لپاره مقرر کړي دي).

خو په فقهي ژبه کې سیاست هغه جزاګانو ته ویل کیږي چې د قرانکریم، نبوي سنتو او د صحابه کرامو رض د اجماع څخه نه وي ثابتې شوي، دې ډول جزاګانو ته تعزیري جزاګانې هم ویل کیږي.

د عبدالرازق رحمة الله علیه په کتاب مصنف کې روایت دي چې سیدنا علی رضی الله عنه د روژې په مبارکه میاشت کې شراب څښونکو ته د ټاکل شوو اتیا درو سربیره شل دُرې اضافه جزأ هم ورکوله.

ابن شهاب زهری رحمة الله علیه ویلي دي[9]: څوک چې د روژې په مبارکه میاشت کې د شرابو د څښلو مرتکب شي، نو اتیا دُرې جزأ به ورکول کیږي او په کوڅو کې به ګرځول کیږي ترڅو خلک يې د جرم څخه خبر شي او د رسوايي څخه عام خلک عبرت واخلي.

همدارنګه د لمونځ نه کوونکو ته هم ابن شهاب زهري رحمة الله علیه همدا ډول د خلکو تر مخ د رسوا کولو د تعزیري جزأ وړاندیز کړیدی. د تعزیري جزاګانو ټولو ډولونو ته فقهاؤ د سیاست کلیمه کارولې ده.

مشهور حنفي فقیه شیخ علاؤالدین طرابلسي رحمة الله علیه د خپل کتاب معین الحکام[10] دریمه برخه د تعزیري سیاست د بیانولو لپاره ځانګړې کړېده. ځیني خلکو نیوکه کړې وه چې د غیرمنصوصي جزاګانو ورکول ظلم دی، او دا څرګنده ده چې منصوص جزاګانې یوازې یو څو دي، او د جرمونو ډولونه سلګونو ته رسیږي، نو که چیرې د هرې جزأ لپاره د نص وجود شرط وګرځول شي نو د خاصو مجرمانو پرته به ټول مجرمین بې له کومې ویرې او خطرې، په کاملې آزادۍ سره د خلکو د مال، ځان، او آبرو په لوټولو سره پیل وکړي، دا نیوکه کوونکي په یوه اړخ

---

[7]. (الذریعه الى مکارم الشریعه ۸ باب، ۱۸ مخ).

[8]. محمد آمین بن عمر بن عبدالعزیز عابدین الدمشقي، د سوریې د دمشق سیمې فقیه او مفسر و، نوموړی په ۱۱۹۸ هـ ق کال کې د عثماني خلافت په واکمنۍ کې په دمشق کې زیږیدلی دی، عابدین صاحب په حنفي مذهبه و، د نورو کتابونو تر څنګ د دوه مشهورو او مؤثرو کتابونو لیکوال دی چې عبارت دي له: رد المختار، او فتاوی الشامی، نوموړي په کال ۱۲۵۲ هـ ق کې په دمشق کې وفات شویدی.

[9]. (مصنف لعبد الرازق رحمة الله علیه ۹ ټوک ۲۳۱ مخ، باب الشراب فی رمضان ۱۹۷۲ بیروت چاپ).

[10]. (مصنف لعبدالرزاق رحمة الله علیه، ۹ ټوک، ۲۳۱ مخ، باب الشراب فی رمضان ۱۹۷۲ بیروت چاپ).

کې وو، خو په بل اړخ کې ځيني خپل غرضي سياسي مشران او واکمنان و چې د خپلو شخصي ګټو لپاره بې له کوم ثبوت څخه خلکو ته جزاګانې ورکولې، او هغوی تعذيبول او ربړول يې، خو پلمه يې دا وه چې دا د سياست او مصلحت غوښتنه ده، دغه حيوان صفته وګړي کله د مصلحت او سياست په نوم حتی د منصوصو احکامو په بدليدو هم صرفه نه کوي.

په دغه دواړو افراطي ډلو د تنفيذ په موخه علامه طرابلسي[11] ليکلي دي چې سياست تعزيري او تغليظي قانون دی چې په دوه برخو ويشل شويدی. لومړی ظالمانه سياست دی چې اسلامي شريعت يې حرام ګڼي او دويم عادلانه سياست دی چې د هغې په واسطه د مظلوم حق هغه ته سپارل کيږي او د مفسدينو مخه يرې نيول کيږي او د همدې لارې د اسلامي شريعت اصلي موخې ترلاسه کيږي، نو د داسې ډول شرعي سياست خپلول واجب دي. د اسلامي شريعت په رڼا کې د هيواد په داخل او خارج کې د ملت د چارو سمبالښت ته سياست ويل کيږي. د سياست په علم کې د چارواکو د ټاکلو په لارو چارو، ولسي اړيکو، د عوايدو او مصارفو په تګلارو، قضايي سيستم، د هيواد مادي او معنوي آبادۍ او د هېواد پر دفاع او امن او له نورو دولتونو سره په اړيکو ټينګولو بحث کيږي.[12]

[11]. علامه او قاضي طرابلسي: ابن برّاج، سعدالدين ابوالقاسم عبدالعزيز بن نحرير بن عبدالعزيز ابن براج طرابلسي په قاضي مشهور، او په عز المؤمنين ملقب، په ډير اټکل سره په ۴۰۰ ق کې په مصر هيواد کې زيږېدلی دی، دا چې د ډير وخت لپاره په طرابلس کې قاضي و، او هلته يې د خلکو قضيې حل کولې نو په قاضي مشهور شو. دی ډير مشهور او معتبر ديني عالم و، رأيې يې د لويو فقيانو پر بنسټ وړاندې کولې، د نوموړي د چاپي آثارو له جملې څخه کولی شو دا يې آثار را واخلو: الجواهر، حسن التعريف، منتخب الدين، المعتمد او داسې نور.

[12]. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين. ژباړه: هدايت. عبدالهادي. پيغام نشراتي مرکز. ۱۳۴ مخ

## دویم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام سرچینې

### لومړی مطلب: قرانکریم

په قران عظیم الشان کې د سیاست په هکله کلي او ثابت قواعد ذکر شوي لکه: الهي حاکمیت، شورا، عدل، بیعت او داسې نور... د کلیاتو تفسیر(جزئیات) یې امت ته سپارلي دي.

**إِنَّ الدِّينَ عِندَاللهِ الإِسلَام (آية ١٩ سورة آل عمران).**

**ژباړه: د الله ج په نزد غوره دين اسلام ده.**

**وَ تِلۡكَ الایامُ نُداوِلُهَا بَيۡنَ النَّاسِ** (آیة)، له دې آیت څخه ځیني علماء داسې استنباط کوي چې (نداول او تداول) لاس په لاس کېدلو ته وایي چې دولت هم دا ډول خاصیت لري او تل د یو شخص په لاس کې نه پاتې کیږي بلکې بدلیدونکی دی.

همدارنګه د قران کریم په څو مواردو کې د قسط او عدل یادونه شوېده، او الله ج دغه اعمال ډیر مقبول او د ځمکې او آسمانونو او انسانانو د نظم اساس ګڼلي دي، خو ددغو احکامو تطبیق متکي په سیاسي نظام او دولت (حکومت) دی. که دولت نه وي، هر څوک او عام وګړي ددې احکامو د تطبیق او پلي کولو وړتیا نه لري.

د حدودو، قصاص او دیت تطبیق هم د سیاسي نظام غوښتنه کوي، که نظام او رهبر نه وي، د هر چا د کولو کار نه دی، بلکې یو قوي سیاسي نظام او دولت ته اړتیا لري.

د امر باالمعروف او نهی عن المنکر تطبیق دا سمه ده چې په معروفو ترکیز کول آسانه دي خو منکراتو نه خلک را اړول بیا مطلق په دولتي قوت او سیاسي زور باندې کیږي، یو قوي رهبر ته اړتیا ده ترڅو دغسې فرض احکام په پوره او سم ډول په خلکو تطبیق کړي.

د جهاد فریضه ادا کول او داسې نور مسایل تطبیق او سرته رسول د دولت، سیاسي نظام او رهبر غوښتنه کوي، چې پرته له یادو اساساتو تطبیق یې ناممکن دي.

### دویم مطلب: حدیث او نبوي سیرت

نبوي احادیث د قران عظیم الشان شرحه ده په سیاست، حکومت، جګړه او سوله کې بشپړې لارښوونې لري.

د حدیبی د سولې تړون مونږ ته د سیاسي تعاملاتو او سیاسي برخورد یوه بیلګه ده، چې هغې د مسلمانانو د سولې او امنیت او لویو ګټو لپاره د کفارو په مقابل کې څومره انعطاف ښودل شویدی.

همدارنګه د رسول الله ص غزوات زمونږ لپاره لوی نظامي او سیاسي درسونه دي، دا پکې زده کوو چې څنګه لښکرې تنظیم کړو، د دښمن په مقابل کې یې څنګه وکاروو،

همدارنګه د حجة الوداع خطبه او د رسول الله ص هجرت زمونږ لپاره لوی سیاسي درسونه دي، او د سیاسي نظام د ځانګړتیاوو ښودنه پکې شوېده.

## دریم مطلب: د اصحابو کرامو او راشدینو خلفاؤ اجماع او تګلاره

د اسلامي دولت مقننه مجلس ته په کار دي چې له قرانکریم او نبوي سنتو، د راشدینو خلیفه ګانو له تګلارې او د امت د اجماع څخه ګټه واخلي. د صحابه کرامو او راشده خلفاء خلافت او ژوند د سیاسي نظام ډیر څه لري، د دوی خلافت، له خلکو سره برخورد، اتباعو ته خدمت کول، ذکات راټولول، او داسې نور مسایل.

په ډېر تأسف سره باید ووایو چې د اسلامې هېوادنو په ولسي جرګو کې بېسوادان او ناوپوهان را ټول شوي وي.

## څلورم مطلب؛ اجتهاد

د اجتهاد شرایط په قرانکریم او نبوي سنت، په فقه او اصول فقه، د شریعت په مقاصدو او عربي ژبې پوهه ده. په شرعي سیاست کې اجتهاد او د کافرانو له تجربو څخه په نظم او اداره کې ګټه اخیستل د شورى مسؤلیت دی.[13]

د اسلام د سیاسي نظام ستره بسنتېزه سرچینه قران عظیم الشان او نبوي سنت دي، مسلمانو چارواکو ته لازمه ده چې د مملکت ټول نظام د قرانکریم او نبوي سنتو په رڼا کې سمبال کړي. حقیقت دا دی چې اسلامي امت دلته خوار او زار و ګرځېد چې د الله کتاب او نبوي سنتو ته یې شا و ګرځوله.

13. دین او سیاست. ډاکټر یوسف قرضاوی. ژباړه: خلیل الرحمن حنیف. انتشارات اصلاح افکار. د چاپ کال ۱۳۹۱. ۲۲ مخ

## دریم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام ارکان

د اسلام د سیاسي نظام ارکان په لاندې توګه وړاندې کېدلای شي:

### لومړی مطلب: الهي/شرعي حاکمیت:

### لومړی جزء: د الهي حاکمیت په هکله قرآني آیاتونه:

په قران کریم کې د الهي حاکمیت په هکله ځو آیاتونه او سپارښتنې راغلي دي، او مسلمانانو ته یې دا امر او پیغام دی چې حکم او حاکمیت یوازې د الله ج دی، "ان الحکم الاّ لله" دا آیت د الله ج له لوري د حاکمیت د حق په انحصار دلالت کوي، پدې آیت کې انحصار د "ان" له لفظ څخه څرګندیږي چې دلته د نفې معنا ورکوي، د استثناء تر څنګ چې "الاّ" ورته اشاره لري، دا معلومیږي او دا ډول معنا ورکوي چې "له خدای ج پرته هیڅ حکم وجود نلري".

يَاايُهَا الذِينَ امَنُوا اَطِيعُو اللهَ وَ اَطِيعُو الرّسُولَ وَ اُولِی الاَمرِ مِنکُم.[14]

ژباړه: ای هغه کسانو چې تاسو ایمان راوړی دی د الله ج اطاعت وکړئ، او د رسول اطاعت وکړئ او د اولی الامر اطاعت وکړئ. دا آیت هم د الله ج د حاکمیت د منلو وروسته د هغه د اطاعت، د هغه د رسول د اطاعت او د حاکم د اطاعت سپارښتنه کوي. له دې آیت هم د الله تعالی حاکمیت ښکاریږي او د هغه لوی الله ج پر اطاعت ټینګار کوي.

الیس الله باحکم الحاکمین.[15] آیا الله تعالی په ټولو حاکمانو د حکم چلوونکی نه دی؟

فاحکُم بَینَهُم بِمَا انزَلَ الله. ژباړه: تاسو په انزل الله باندې حکم وکړئ.

پخپله الله تعالی ځانته د احکم الحاکمین او خیرالحاکمین خطاب کړیدی.

که چیرې څوک په انزل الله باندې حکم نه کوي، او د خدای ج اطاعت نه کوي، نو هغوی ظالمان دي، "وَ مَن لم یَحکُم بِمَا انزَلَ اللهُ فاُؤلئِکَ هُم الظالِمِین".

وروسته بیا وایي که څوک په انزل الله باندې حکم نه کوي نو هغوی کافران دي "و من لم یحکم بما انزل الله فاؤلئک هم الکافرون".

او که څوک په انزل الله باندې حکم نه کوي نو هغوی فاسقان دي "وَ مَن لَم یَحکُم بِمَا انزَل للهُ فَاؤلئکَ هُم الفَاسِقُون".

---

14. القران الکریم. سورة النساء، آیة ۵۹
15. القران الکریم، سورة التین. آیة ۸

## دويم جزء: د الهي حاکميت په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث

د الله جل جلاله د حاکمیت په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو شمیر تر سلګونو پورې رسي، لیکن دلته د نمونې په توګه یو څو احادیث را نقلوو چې د الله تعالی د حاکمیت په هکله ښکاره دلایل دي.[16] د تهجد د لمانځه په وخت کې به رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه اوږده دعا لوستله چې د هغې یوه جمله دا ده: و بک خاصمت و الیک تحاکمت[17] [زه ستا په کومک سره بحث کوم او ستا په وحی پریکړه کوم] ابن حجر عسقلاني رحمة الله علیه د تحاکمت تشریح په دې توګه کړې ده چې [زه د ټولو معاملاتو او شخړو پریکړه ستا د حکم مطابق کوم او د جاهلیت په مشرکانه رسومو باندې یې نه کوم]

**عن عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه اوصی بکتاب الله تعالی**[18] [د عبدالله بن ابی اوفی رضی الله نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته په قرآن د عمل کولو وصیت کړی وه]

**حدثنا محمد بین المثنی حدثنا محمد بن جعفر حدثنا شعبة عن یحیی بن حصین قال سمعت جدتی تحدث انها سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یخطب فی حجة الوداع و هو یقول و لو استعمل علیکم عبد یقودکم کتاب السنه فاسمعوا له و اطیعو و حدثناه ابن بشار حدثنا محمد بن جعر و عبدالله الرحمن بن مهدی عن شعبة بهذا الاسناد و قال عبدا حبشیا و حدثنا ابوبکر بن ابی شیبة حدثنا وکیع بن الجراح عن شعبة بهذا الاسناد و قال عبدا حبشیا مجدعا**[19] [ام الحصین رضی الله عنها فرمايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د حجة الوداع په وخت کې اوریدلي و چې که چیرې په تاسې بد رنګه تور غلام هم امیر و ټاکل شي نو د هغې اطاعت وکړئ، خو په دې شرط قودکم بکتاب الله (چې هغه ستاسو قیادت او مشري د الله جل جلاله د کتاب په اساس وکړي).

**عن مالک رحمة الله علیه بلغه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله و سنة رسوله** [ما ستاسو تر منځ دوه شیان پریښوول، تر هغې پورې چې تاسې په هغې منګولې لګولې وي، نو هیڅکله به ګمراه او بې لارې نه شئ، یو د الله کتاب او بل د نبي صلی الله علیه وسلم سنت]

16. (اسلامي سیاست، مولانا ګوهر رحمان. ژباړه: قریب الرحمن سعید. ۲۵۴مخ)

17. بخاری شریف. باب التهجد بالیل- صحیح المسلم. باب دعا النبی صلی الله علیه وسلم.اذ قام من الیل.

18. صحیح البخاری. کتاب الوصایا. باب الوصاه بکتاب الله.

19. صحیح المسلم. کتاب الاماره. باب السمع والطاعة عمل بکتاب الله

**عن ابي هريره قال رسول الله صلى اله عليه وسلم فاحذروا انى تركت فيكم ما ان اعتصمتم به فلن تضلوا ابدا كتاب الله و سنه نبيه**[20] [د شيطان د پيروى څخه ځان وساتئ، ما ستاسې تر منځ هغه شى پرېښې دي چې كه چيرې تاسې په هغه ټينگې منگولې ولگولې نو هيڅكله به بې لارې نه شئ، يو د الله جل جلاله كتاب او بل د نبي صلى الله عليه وسلم سنت]

**عن ابى شريح الخزاعي رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان هذا القران طرفه بيدالله و طرفه بايديكم فتمسكوا به فانكم لن تضلوا و لن تهلكوا بعده ابدا** [د ابي شريح خزاعي رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د دې قرآن يوه خوا د الله جل جلاله په لاس كې ده او بله خوا يې ستاسې په لاس كې ده، دا ټينگ ونيسئ، نو هيڅكله به بې لارې نه شئ او نه به په هلاكت كې ولويږئ]

**عن ابي ايوب انصاري رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم عليكم بكتاب الله احلوا حلاله و حراموا حرامه** [د الله جل جلاله د كتاب تابعداري په خپل ځان لازمه كړئ، د هغه حلال، حلال وگڼئ او د هغه حرام، حرام وشميرئ]

**حدثنا محمد بن اسمعيل دلواسطي حدثنا وكيع ابو فروة يزيد بن سنان عن ابى المبارک عن صهيب قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما آمن بالقرآن من استحل محارمه.**[21]

[د صهيب رضى الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په قرآن بې ايمان نه دى رواړى هغه چا چې د هغه حرام كړي شيان يې حلال و شميرل]

**حدثنا عبد بن حميد حدثنا حسين بن على الجعفى قال سمعت حمزه الزيات عن ابى المختار الطانى عن ابن اخى الحارث الاغور عن الحارث قال مررت فى المسحد فاذا الناس يخوضون فى الحاديث فدخلت على فقلت يا امير المؤمنين الا ترى ان الناس قد خاضو فى الاحاديث قال و قد فعلوها قلت نعم قال اما انى قد سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الا اناها ستكون فتنة فقلت ما المخرج منها يا رسول الله قال كتاب الله فيه نبأ ما كان قبلكم و خبر ما بعدكم و حكم ما بينكم و هو الفصل ليس بالهزل من تركه من جبار قصمه الله و من ابتغى اهدا فى غيره اضله الله و هو حبل الله المتين و هو الذكر الحكيم و هو الصراط المستقيم هو الارى لا تزيغ به الاهواء و لا تلتبس به الالسنة و لا يشبع منه العلماء و لا يخلق على كثرة الرد و لا تنقضى عجائبه هو الذى لم تنته الجن اذ سمعته حتى قالوا انا سمعنا قرآنا عجبا يهدى الى الرشد فآمنا به من قال به صدق و من عمل به اجر و من حكم به عدل و من دعاد اليه هدى الى صراط مستقيم خذها اليک يا اعور.**

---

[20]. موطا مالک. القدر. باب النهى عن القول فى القدر.

[21]. الترغيب د منذرى ليكنه. لومړى ټوک. ۳۷ مخ. ۱۳۴۲ هـ ق كال. د مصر چاپ.

[سیدنا حارث اعور رضی الله عنه فرمایي چې زه په جومات کې تیریدلم و مې لیدل چې خلک د دنیا په خبرو بوخت دي نو سیدنا علي رضی الله عنه ته ورغلم، و مو ویل یا امیرالمؤمنین آیا تاسې نه ګورئ چې خلک په خبرو مشغول دي هغه و فرمایل: آیا داسې دي؟ ما وویل: هو سیدنا علي رضی الله عنه وفرمایل: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې (او دا مې ور څخه واوریدل چې) یوه فتنه راتلونکې ده، ما عرض وکړ د دې څخه د ځان ساتلو کومه لاره شته، هغه وفرمایل: د الله جل جلاله کتاب دې چې په دې کې د تیرو شوو قومونو حالات بیان شوي دي او د راتلونکو قومونو له پاره خبر دی، دا کتاب ستاسو ترمنځ د را پیښو شوو شخړو او معاملو له پاره حکم ( پریکړه کوونکی قانون) دی.

د دې حدیث راوي حارث اعور رضی الله عنه د ثقه والي په هکله محدثینو خبرې کړي دي، خو ابن کثیر رحمة الله علیه وایي چې حارث اعور د درواغو احادیثو جوړونکی نه دی، همدغه روایت ام احمد رحمة الله علیه هم په خپل مسند کې نقل کړی دی، همدې توګه یو حدیث د سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه امام ابو عبید قاسم بن سلام رحمة الله علیه په خپل کتاب فضایل القرآن کې او د ابن عمر رضی الله عنه څخه ابن الاثیر په جامع الاصول کې را نقل کړي دي، خو د هغوی په سند کې جارث اعور رضی الله عنه نشته.

**حدثنا الحسين بن يزيد الكوفى عبدالسلام بن حرب عن غطيف بن اعين عن مصعب بن سعد عن عدى بن حاتم قال اتيت النبى صلى الله عليه وسلم و فى عنقي صليب من ذهب فقال يا عدى اطرح عنک هذا الوثن و سمعته يقرا فى سورة براءة ( اتخذو احبارهم و رهبانهم اربابا من دون الله) قال اما انهم لم يكونو يعبدونهم و لكنهم كانو اذا احلو له شيئا استحلوه و اذا حرموا عليهم شيئا حرموه**[22]

[عدي رضی الله عنه فرمایي چې کله زه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم نو زما په غاړه د سرو زرو صلیب و نبي صلی الله علیه وسلم و فرمایل ای عدی !دا بت و غورځوه، هغه په دې وخت کې د برات سورت دا آیت لوسته چې ( هغوی خپل علماء او پیران د الله جل جلاله پرته خدایان ګرځولي و ) و یې فرمایل ښه پوه شه چې دې خلکو د هغوی پرستش نه کاوه خو کله به چې د دوی اخبارو او رهبانو کوم شی حلال کړ نو د هغوی مقلدینو او پیروانو به هم هغه ( پرته د کوم شرعي دلیل څخه ) حلال ګاڼه او کوم شی به یې چې حرام کړ هغوی به هم هغه حرام ګاڼه ]

په دې آیت او په حدیث کې بابائیت او تیاکراسۍ ته شرک ویل شوی دی چې په هغه کې پاپ ته د تحریم او تحلیل کامل اختیار ورکړل شوی و او هغوی په عملي توګه اعلی حاکمان ګرځیدلي وو. ابن جریر رحمة الله علیه دا حدیث د څلورو سندونو په اساس را نقل کړی دی، په یوه روایت کې دا زیاته شوې چې [همدغه کړچار د هغوی عبادت و] او همدغه هغوی خپل خدایان ګرځولي وو.

[22]. جامع الترمذی. كتاب التفسير سورة الطور.

دا حدیث احمد بن حنبل، ابن سعد ، عبد بن حمید ، محمد بن المنذر ، ابن ابی حاتم، ابن مردویه او سهقي رحمة الله علیهم هم په خپلو کتابونو کې را نقل کړي دي.

په دې احادیثو کې قرآن کریم او نبوي سنتو یعنې د الله جل جلاله له خوا نه وحی ته د واجب الاطاعت درجه ورکړل شوې او الهي حاکمیت مقصد هم همدا ی دی چې د الله جل جلاله له خوا را لیږل شوي قانون ته په نورو وضعي قوانینو پورته والی ورکړل شي او د الله جل جلاله وحی ته د قانون د ماخذ او سرچینې درجه ورکړل شي.

## دریم جزء: د الهي حاکمیت په اړه د راشدینو خلفاو رض تګلاره

د قرآن او سنتو څخه وروسته د مسلمانانو له پاره د عمل غوره نمونه د راشدینو خلفاو رضی الله عنهم کړنلاره او سنت دي. په صحیح بخاري کې د څلورو واړو راشدینو خلفاو کړنلاره په دې توګه بیان شوې ده: فاذا وضع الکتاب و السنه لم یتعدوه الی غیره اقتدا بالنبی صلی الله علیه وسلم [د دې خلفاء رضی الله عنهم او امامانو په وړاندې به چې کله د قرآن او سنت له مخې حکم واضع شو نو د هغه څخه به یې د نبي صلی الله علیه وسلم د اتباع په خاطر تیری نه و]

امام دارمي رحمة الله علیه چې په ۲۵۵ هجري قمري کال کې وفات شوی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کړنلاره په دې توګه بیانوي: **اخبرنا محمد بن الصلت حدثنا زهیر عن جعفر بن برقان حدثنا میمون بن مهران قال کان ابوبکر اذا ورد علیه الخصم نظر فی کتاب الله فان وجد فیه ما یقضی بینهم قضی به و ان لم یکن فی الکتاب و علم من رسول الله صلی الله علیه وسلم فی ذلک الامر سنة قضی به فان اعیاه خرج فسال المسلمین فقال اتانی کذا و کذا فهل علتم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قضی فی ذلک بقضاء فربما اجتمع الیه النفر کلهم یذکر من رسول الله صلی الله علیه وسلم فیه قضاء فیقول ابوبکر الحمد لله الذی جعل فینا من یحفظ علی نبینا فان اعیاه ان یجد فیه سنة من رسول الله صلی الله علیه وسلم جمع رءوس الناس و خیارهم فاستشارهم فان اجمع رایهم علی امر قضی به.** [23]

[ کله به چې د ابوبکر رضی الله عنه په وړاندې دوه ډلو کومه مسئله د پریکړې له پاره د ټولو تر مخه به یې په قرآن کریم کې د هغه د حل له پاره غور او فکر کاوه، که چیرې په قرآن کې به یې د هغه د حل کومه لاره پیدا کړه نو د هغه مطابق به یې پریکړه کوله خو که په قرآن کریم کې به کوم واضح حکم په لاس ورنغی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې به ورته د هغې له پاره کوم حکم معلوم و ، نو بیا به یې د همغه مطابق پریکړه کوله، خو که چیرې به په دواړو کې د حکم معلوم و ، نو بیا به یې د همغه مطابق پریکړه کوله، خو که چیرې به په دواړو کې د حکم د میندلو

[23]. امام دارمی. کتاب الاعتصام. باب قول الله: وامرهم شوری بینهم.

ځخه عاجزه شو، نو بیا به د باندې راووت او د مسلمانانو ځخه به یې پوښتنه کوله چې ما ته په دې توګه یوه موضوع راغلې، آیا تاسې ته په دې هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه پریکړه معلومه ده؟ څو ځلې داسې شوي چې د ابوبکر رضی الله عنه سره به د مسلمانانو یوه ډله یو ځای کیدله او هر یو به په دې هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم پریکړه را نقلوله، نو ابوبکر رضی الله عنه وویل: (ستاینه ده الله جل جلاله ته چې په مونږ کې داسې خلک شته چې زمونږ د پیغمبرصلی الله علیه وسلم سنت یې په یاد دي.

دغه روایت په سنن بیهقي کې هم را نقل شوی دی خو په اخر کې ویل شوي دي چې د سیدنا عمر رضی الله عنه هم همدغه کړنلاره وه.[24]

## ځلورم جزء: د الهي حاکمیت په هکله د اسلامي پوهانو ( فقهاؤ ) نظریات

دلته د الهي حاکمیت په هکله د مجتهدینو امامانو او مشهورو اسلامي پوهانو ویناوې وړاندې کیږي، تر څو څرګنده شي چې زمونږ پخوانی فقها، د الهي حاکمیت په دیني اصولو کې ټول د یوه نظر خاوندان او متفق دي.

ا: امام ابوحنیفه رحمة الله علیه چې په **۱۵۰** هجري قمري کال مړ شوی دی، فرمایي: **((اخذ بکتاب الله فما لم اجد فیسنه رسول الله صلی الله علیه وسلم فان لم اجد فی کتاب الله و لا سنه رسول الله صلی الله علیه وسلم اخذت بقول اصحابه رضی الله عنهم اخذ بقول من شئت منهم وداع من شئت منهم و اخراج الی قول غیرهم فاما اذ انتهی الامر الی ابراهیم و الشعبی و ابن سیرین و عطاء و سعید بن المسیب رحمة الله علیهم و عدد رجالا فقوم اجتهدوا فاجتهد کما اجتهدوا)).**[25]

[زه د الله جل جلاله په کتاب عمل کوم کله چې په هغه کې را ته کوم حکم په لاس را نه شي نو بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت را اخلم، خو که چیرې په کتاب او سنت دواړو کې را ته حکم په لاس را نه شي نو بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو رضی الله تعالی عنهم قول را اخلم، د هغوی د اقوالو ځخه مې چې د چا قول خوښ شو هغه اخلم او د چا مې چې خوښ نه شو پریږدم یې، خو د صحابو رضی الله عنهم د ویناو پرته د بل چا وینا نه را اخلم، کله چې خبره ابراهیم، شعبي، ابن سیرین، عطاء، سعید بن المسیب رحمة الله علیهم او په دې توګه نورو وګړو ته ورسي نو دا داسې خلک و چې اجتهاد به یې کاوه نو زه هم د هغوی په څیر اجتهاد کوم]

**کان ابوحنیفه رحمة الله علیه بقول حرام علی من لم یعرف دلیلی ان یفتی بکلامی و قال لا ینبغی لاحد ان یقول قولا حتی یعلم ان شریعه رسول الله صلی الله علیه وسلم یقبله** [امام ابوحنیفه رحمة الله

---

[24]. تفسیر فتح الباری. ۱۷ مخ. ۱۰۵ مخ. د سنن بیهقی رحمه الله علیه په حواله.
[25]. تاریخ بغداد. د خطیب لیکنه. ۱۳ ټوک، ۳۶۸ مخ. د بیروت چاپ-مناقب الامام اعظم رحمه الله علیه للموفق الدین ملکی. ۱ ټوک، ۷۶ مخ.

علیه به ویل چې حرام دی په هغه چا چې د دلیل د معلومولو پرته زما په وینا فتوی ورکوي، او هیڅا ته په دین کې هیڅ خبره کول مناسب نه دي، تر څو پلټنه و نه کړي، چې آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم شریعت دا خبره قبلوي ]

**كان الامام الاعظم يقول ياكم واراء الرجال.**[26]

[امام اعظم رحمة اله علیه به فرمایل چې د خلکو په ذاتي رأيې (دلیل پرته) د عمل کولو څخه لرې والی وکړئ]

ب: د امام ابو یوسف رحمة الله علیه شاګرد یحیی بن یحیی رحمة الله علیه فرمایي چې: ما د نوموړي امام څخه د وفات کیدو په وخت کې اوریدلي چې ویلې: **كل ما افتيت به فقد رجعت عنه الى ما وافقة كتاب الله و سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم.** [27]

(ما د خپلو ټولو فتواو څخه مراجعه کړې ده پرته له هغه څخه چې د کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو سره برابرې وي)

ابن عبدالبر، امام شعراني او ابن عابدین شامی رحمة الله علیهم د څلورو واړو امامانو څخه را نقل کړي دي: اذا صح الحدیث فهو مذهب (په صحیح حدیث عمل کول زما مذهب دی)

ج: امام مالک رحمة الله علیه ۱۷۹هجري قمري کال مړ شوی دی فرمایي: الحکم حکمان حکم جاء به کتاب الله و حکم احکمته السنة. [28]

(حکم او قانون یوازې دوه برخې لري یو دا چې د الله جل جلاله له کتاب څخه ثابت شوی وي او دوهم دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو څخه ثابت شوی وي)

د: امام شافعی رحمة الله علیه چې په ۲۰۴هجري قمري کال مړ شوی دی په خپل کتاب شپږم او اووم ټوک یې په دې موضوع اوږد بحث کړی دی، هغه د کتاب او سنت څخه د اذاد قانون جوړونې او اجتهاد کوونکو په هکله فرمایي چې: **قال قولا عظيما لانه وضع نفسه فى رايه و اجتهاده و استهسانه على غير كتاب و لا سنة موضعها فى ان يتبع رايه كما اتبعا** (هغه ډیره ستره خبره کړې ده، دا پدې خاطر چې هغه خپلې ذاتي رایې، خپل اجتهاد او خپلې خوښې ته چې په کتاب او سنت نبوي بنا شوی د کتاب او سنت درجه ورکړې ده تر څو د دې رایې او اجتهاد همداسې پیروي وکړل شي لکه څنګه چې د کتاب او سنتو پیروي کیږي)

په بل ځای کې لیکي چې په خپله خوښه روا ګڼل داسې دي لکه څوک چې خپل ځان ته شارع او قانون جوړونکي درجه ورکړي. دا هم لیکي چې؛ لایلزمه قول بکل حال الی بکتاب الله و سنة

[26]. المیزان الکبری. د شعراني لیکنه. لومړی ټوک. ۸۵ مخ.
[27]. تاریخ بغداد. د بغدادي خطیب لیکنه. ۱۴ ټوک. ۳۵۴ مخ.
[28]. مجموعه شامی. لومړی ټوک. ۶۳ مخ. د ۱۳۲۴ هـ ق کال. د مصر چاپ.

رسوله (يوه وينا هم په هيڅ حالت کې لازم الاتباع نه ګرځي پرته له دې څخه چې په کتاب او سنتو کې د هغه لپاره کوم دليل موجود وي).

ه: امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه چې په ۲۴۱ هجري قمري کال مړ شوی دی خپل يوه شاګرد ته د نصيحت کولو په ترځ کې ويلي وو: **لا تقلدنی و لا تقلد مالکا و لا الشافعی ولا الاوزاعی ولا الثوری رحمة الله عليهم و خذ من حيث اخذوا.**[29]

(مه زما تقليد کوه، نه دې مالک نه دې شافعي، نه د اوزاعي نه ثوري رحمة الله عليهم بلکه د هغه منبع څخه احکام واخله له کومه ځايه چې دوی بزرګانو اخيستي و)

امام احمد رحمة الله عليه چې په ۲۴۱ هجري قمري کال مړ شوی دی د خلق قرآن د فتنې په وخت کې معتصم عباسي خليفه ته په يوه وينا کې وويل: **((يا امير المؤمنين اعطونی شيا من کتاب الله و سنة رسوله حتا اقوال به)).** ژباړه: (يا اميرالمؤمنينه د کتاب الله او د رسول الله د سنتو له مخې په (خلق قرآن باندې) کوم دليل را وړاندې کړه چې زه يې ومنم)

و: امام ابن حزم رحمة الله عليه چې په **۴۵۲**هجري قمري کال کې مړ شوی دی ليکلي دي: **((دين الاسلام الازم لکل احد لايوخذ الی من القران او مما صح عن رسول الله صلی الله عليه وسلم)).**

**ژباړه:** (د اسلام د دين احکام چې پيروي يې په هر چا لازمه ده د قرآن او صحيح حديثونو پرته د بل څه څخه نه اخيستل کيږي)

ز: امام فخر الاسلام بزدوي حنفي رحمة الله عليه چې په **۴۸۲**هجري قمري کال کې مړ شوی دی ليکلي دي چې: **و اصل الشرع الکتاب و السنة** (د شرعي قوانينو ماخذ کتاب او سنت دي)

ح: امام غزالي[30] رحمة الله عليه په دې هکله ليکلي دي: **فانما الانافذ حکم الامالک علی مملوکه ولا مالک الی الاخالق فلا امر و الا حکم الا له** (په غلام يوازې د خپل مالک حکم نافذيدلی شي نو څنګه چې د خالق پرته بل مالک نشته نو پس د همغه پرته بل څوک د حکم کولو حق نلري)

ط: شيخ الاسلام ابن تيمه رحمة الله عليه چې په **۷۲۸**هجري قمري کال کې مړ شوی دی ليکلي دي: **والشريعة انما هی کتاب الله و سنة رسول الله صلی الله عليه وسلم و ما کان عليه سلفه الامه فی العقائد والاحوال و العبادات و الاعمال و الاحکام والسياسيات.**

---

[29]. مناقب الامام الاحمد بن جوزی. ۴۰۱ مخ. د ۱۹۷۹ ميلادي کال چاپ. البدايه والنهايه. ۱۰ ټوک. ۳۳۳ مخ.

[30]. امام غزالي چې پوره نوم يې ابي حامد محمد بن محمد الغزالي الشافعي، مشهور په امام غزالي، ايراني فقيه او صوفي و، نوموړي ۴۵۰ هـ ق کې زيږيدلی ده، او ۱۰۵۸ ميلادي کال کې د ايران په طوس کې پيدا شويدی. امام غزالي په اسلامي فلسفه، فقه تصوف او منطق کې ډير کتابي آثار لري، د پنځمې پيړۍ له لويو فيلسوفانو څخه دی، هغه ډير هوښيار او ذهين عالم و، هغه ډير ژر ديني او ادبي علوم زده کړل.

(شرعي قانون هغه دی چې د کتاب او سنتو څخه ثابت شوی وي او د سلفو پرې عمل کړی وي، د عقایدو اخلاقو له پلوه هم، د عباداتو او اعمالو لخوا هم او د احکامو او سیاسیتونو لخوا هم)

ی: امام ابن قیم رحمة الله علیه چې په ۷۵۱ هجري قمري کال کې مړ شوی دی لیکلي یې دي: **((لا واجب الی ما اوجبه الله و رسوله ولم یوجب الله و رسوله علی احد من الناس ان یتمذهبه بمذهب رجل من الامه)).** ژباړه: (د اتباع وړ حکم هغه دی چې الله جل جلاله او د هغه رسول واجب کړی وي، الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم په هېڅ دا واجب کړي ندي چې د امت څخه د یوه کس دې لازماً مذهب اختیار کړي.

ک: امام ابو اسحاق الشاطبی[31] رحمة الله علیه چې په ۷۹۰هجري قمري کال کې مړ شوی لیکلي یې دي د علما او فقهاوو پیروي پدې خاطر نه کیږي چې هغوی په مطلق توګه د حکم ورکولو او قانون جوړولو په منصب فائذ وي دا منصب یوازې هغه شریعت ته حاصل دی چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی و.

ل: قاضي بیضاوي رحمة الله علیه چې په ۷۹۱ هجري قمري کال کې مړ شوی دی لیکلي یې دي: **الفصل الاول فی الحاکم وهو الشرع دون العقل.** [32]

(حاکم او د قانون ماخذ عقل ندی بلکه د الله جل جلاله شریعت وي.

م: علامه ابن الهام حنفي رحمة الله علیه چې په ۸۶۱ هجري قمري کال کې مړ شوی دی لیکلي یې دي: **((الحاکم لا خلاف فی انه الله رب العملین)).**[33]

ژباړه: (په دې هکله هیڅ اختلاف نشته چې حاکم رب العلمین په خپله دی.

ن: قاضي شوکانی رحمة الله علیه پدې هکله لیکلي دي: **((لا خلاف فی کون الحاکم الشرع)).** ژباړه: پدې هکله هیڅ اختلاف نشته چې د الله شریعت حاکم دی.

د قران کریم په څو ځایونو کې لولو چې الله تعالی حکم کوي چې څوک د الله په نازل شوي کتاب حکم او قضاء نه کوي نو ظالمان دي، بل ځای یې ورته د فاسقانو خطاب کړیدی بل ځای یې ورته کافرانو خطاب کړیدی، **و من لم یحکم بما انزل الله فاؤلئک هم الظالمون.** بل ځای الله ج فرمایلي؛ **و من لم یحکم بما انزل الله فاؤلئک هم الفاسقون:**

---

31. امام ابو اسحاق شاطبي رحمة الله علیه چې پوره نوم یې ابو اسحاق ابراهیم بن موسی بن محمد اللخمي غرناطی مالکي مشهور په شاطبي، چې یو زیارکښه مجتهد او اصولي عالم، محدث فقیه او لغت پیژندونکی و. هغه په فقه، اصولو، تفسیر، حدیث، عربي علوم او نورو موضوعاتو کې لوی لاس درلود. امام شاتبي دغه کتابونه او آثار کښلي دي: عنوان التعریف بأسرار التکلیف، المجالس، افادات و انشادات، شرح جلیل بر الخلاصه فی النحو، عنوان الاشتقاق فی علم لاشتقاق، الفتاوی، الاعتصام.

32. الاعتصام. د شاطبي لیکنه. ۳ ټوک. ۲۵۰ مخ. ۱۹۱۴ میلادي. د مصر چاپ.

33. تحریر الاصول سره د شرحه. ۲ ټوک. ۲۵۰ مخ.

همدارنګه فرمايي؛ **وَ مَن لَم يَحكمُ بمِاَ اَنزَلَ اللّهُ فَاؤلئکَ هُم الکَافِرون**. معنا دا چې د ژوند په ټولو برخو عقيدې، نظام، فکر، قانون، پارلمان، محکمې، ښوونې او روزنې، فرهنګ، څارنوالۍ او د ژوند په ټولو څانګو به د اسلامي شريعت اقتدار او واکمني وي، دالهي سلطې او حاکميت په وړاندې به له حاکم نه نيولې تر نوکر او خدمتګاره پورې ټول الهي قانون ته غاړه ږدي، د امر او نهی، حلالو او حرامو سرچينه به الهي وحی وي؛ په دغه مطلق حکومت کې له الله تعالی سره هېڅوک شريکان نه دي.

## دويم مطلب: د ملت سيادت

د ملي او ولسي او واک څخه هدف دا دی چې ولس به خپل حاکمان او مشران په خپله ټاکي. محاسبه، محاکمه او عزل د دوی صلاحيت دی، د ولس واک د شريعت د سلطې او واکمنۍ سره فرق لري، شرعي سلطه به په حاکم او محکوم دواړو واکمنه وي.

حاکمان او چارواکي د الله په وړاندې مسؤل دي. د يو جرم او جنايت په صورت کې به د سترې محکمې په وړاندې ودرېږي او په ملي او ولسي چارو کې د غفلت له امله به په آخرت کې الله تعالی ته ځواب ورکوونکي وي.

## دريم مطلب: شوری

په امورو کې شورا کول ضروري دي او خدای ج ورباندې امر کړی دی. د شورا هدف د خلکو رايې او نظر ته درناوی کول دي. په اسلامي نظام کې استبداد ، طغيان، ظلم او خپلسری بالکل نشته او اسلام د عدل دين او نظام دی. شورا مسلمانان سره يوځای کوي، او د اسلام سياسي نظام رکن کڼل کيږي.

## څلورم مطلب: عدل او قسط

قيام با لقسط او قايم بالقسط، چې په قرآن کريم کې څو ځلې دا الفاظ ذکر شوي دي او په عملي کولو يې زيات ټينګار شوی دی، هم د څښتن تعالی کار دی او هم د څښتن تعالی د پېغمبرانو او هم د اسلامي رهبرانو او اسلامي امت رسالت دی. قسط هغه واقعيت او حقيقت دی، چې هستی پرې قايمه ده؛ يعنی د خلقت نظم د قسط بيانوونکی دی، چې هره ذره او عنصر يې پخپل ځای او بهير کې واقع شوی، لويو او کوچنيو ښکارندو- پديدو له خپل شان سره مناسب ځای نيولی، داسې نه ده، چې يو څيز له بل څيز څخه يا لوي شي، د کوچني شي ځای يې نيولی وی او يا يې بې ځايه کړی وي؛ نوځکه وايو ، چې کاينات (له کوچنۍ ذرې څخه تر لويو لويو کهکشانونو پورې) د قسط پر بنياد قايم دي، چې څښتن تعالی دا واقعيت داسې بيانوي:[34]

-1 [34]. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين. ژباړه: هدايت. عبدالهادي. پيغام نشراتي مرکز. ۲۱۲ مخ.

**شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (آل عمران/۱۸):**

ژباړه: خدای (د کايناتو د يو نظام پر پيدا ايښت) شاهدي ورکوي، چې له هغه پرته بل معبود نشته او پرښتې او د پوهې خاوندان هم (هر يو په يو ډول پر دې مطلب شاهدان دي ! حال دا چې خدای ټول کاينات) پر عدالت ټينګ درولې دي، له هغه پرته بل معبود نشته چې ناماتی ځواکمن حکيم دی.

**وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ ( يونس/۴۷):**

ژباړه: او د هر امت لپاره يو استازی وي کله چې استازی يې ورته راشي؛ نو ترمنځ يې په انصاف پرېکړې کېږي او تېری پرې نه کېږي. دغسې د قسط قايمول پر هر چا باندې لازم دي، چې پر دغسې حقيقت ايمان لري.

## پنځم مطلب: اطاعت کول

د نېکو چارو او د عدل د انتظام په صورت کې به رعيت د مشرانو اطاعت او ورسره مرسته به کوي.

**اَطِيعُو اللهَ وَ اَطِيعُو الرّسُولَ وَ أُولِي الاَمرِ مِنكمُ** (آية). (د خدای، د هغه د رسول او اولی الامنکر اطاعت وکړئ)، دلته په اطاعت امر شويدی او امر د وجوب حکم کوي.

د اسلام سياسي نظام کې د امير اطاعت کول واجب دي، دا اطاعت دی چې نظام ته ثبات او امنيت راولي، او د مسؤلينو ترمنځ سلسله مراتب رعايتوي.

**مَن اَطَاعَ الرّسُولَ فقَد اَطَاعَ الله** (آية) چا چې د رسول اطاعت وکړ، په حقيقت کې يې د خدای اطاعت وکړي، همدارنګه د قرانکريم په بل ځای کې راځي و ما اتاکم الرسول فخذوه و ما نهاکم عنه فانتهوا. (ژباړه: څه چې تاسو ته رسول درکوي، هغه ومئ، او له څه مو چې منع کوي، هغه مه کوئ).

## ځلورم مبحث؛ د اسلام د سیاسي نظام اهداف

### لومړی مطلب: د دین غلبه او د الله تعالی بندګي

ځرنګه چې مخکې مو وویل هغوی چې الله تعالی په دین فیصله او حکم نه کوي نو هغوی ظالمان، فاسقان او کافران دي، هدف ترې دا دی چې د اسلام سیاسي نظام لوی هدف د شریعت تطبیق دی او د الله تعالی د دین غلبه او برلاسي ده او خلک د اللهج بنده ګۍ ته رابلل دی. نو څوک چې دغه لوی هدف نه تعقیبوي او ورته کار نه کوي، نو پدې معنا چې د دین مهم هدف نادیده نیسي. د ځمکې پر مخ د دین غلبه د اسلامي سیاست ستره موخه ده، د دولت رییس او مرستیالان يې د دغه هدف په لاسته راوړلو مکلف دي، دوی باید د دین مناره لوړه وساتي. د لمانځه اقامه، د زکات د نظام قیام د نېکیو خپرول او د بدیو مخنیوی، د دین دعوت او خپرونه او د عقوباتو جاري کول یې ستره دنده ده دوی باید د مسلمانانو لپاره ګټې را جلب او مفاسد ور څخه دفع کړي.[35]

### دویم مطلب: د عدل ټینګښت

**شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (آل عمران/۱۸)** : ژباړه: خدای (د کایناتو د یو نظام پر پیدا ایښت) شاهدي ورکوي، چې له هغه پرته بل معبود نشته او پرښتې او د پوهې خاوندان هم (هر یو په یو ډول پر دې مطلب شاهدان دي ! حال دا چې خدای ټول کاینات) پر عدالت ټینګ درولې دي، له هغه پرته بل معبود نشته چې ناماتې ځواکمن حکیم دی.

**وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ (یونس/۴۷)**: ژباړه: او د هر امت لپاره یو استازی وي کله چې استازی یې ورته راشي؛ نو ترمنځ یې په انصاف پرېکړې کېږي او تېری پرې نه کېږي. دغسې د قسط قایمول پر هر چا باندې لازم دي، چې پر دغسې حقیقت ایمان لري.

د دولت شتون اصل هدف نه بلکې ستره موخه یې د ظلم او زور له منځه وړل او د ځمکې پر مخ د عدل ټینګول او داسې فضا ایجادول چې خلک په حریت، امن، عزت، کرامت، شرف او مادي رفاء کې اسوده ژوند وکړي.[36]

---

[35]. د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين. عبدالقادر عوده. ژباړه: هدايت. عبدالهادي. پيغام نشراتي مرکز. ۲۱۵ مخ.

[36]. د اسلام سياسي نظام، محمد شريف رحماني، ۱۴ مخ.

## دریم مطلب: د خلکو د دنیوي ژوند سمون

د اسلام سیاسي نظام باید خپلو اتباعو او د محمد ص امت ته داسې قوانین جوړ او پلي کړي چې په تطبیق سره یې نظم رامنځته شي او د خلکو د سوکالۍ لامل وګرځي. د اسلامي حکومت هدف یوائې د غلو لاسونه غوڅول او د قاتلانو د سرونو پرېکول او د عقوباتو جاري کول نه دي؛ بلکې تر هر څه د مخه د خلکو د اقتصاد، ټولنې، فرهنګ، ښوونې او روزنې، دفاع، اختراع، سیاسي اصلاح، د ځمکې ابادول، د کانونو ایستل، د ځنګلونو جوړولو، د سرکونو پخول، د هوايي ډګرونه او ښارونو پراختیا، خلکو ته د کاري فرصتونو برابرول او د مال په وېش کې د عدل د مراعاتولو لور ته سخته پاملرنه ده.

## څلورم مطلب: د خلکو د مال، ځان او عزت ساتنه

**اَلیَومَ اَکمَلتُ لَکُمُ دِینُکمُ وَ اَتمَمتُ عَلَیکمُ نِعمَتِی وَ رَضَیتُ لَکُمُ الاِسلَامَ دِیناً (الایة ٣، سورة المائدة)**

د اسلام مقدس دین او شریعت غوره والی پدې کې دی چې د ټولو انسانانو خیر او سوکالي غواړي، او احکام او لارښوونې یې جامع او انساني دي، شریعت یې دایمي، عالمي او ګټور دی. تر څنګ ددې شریعت او سیاسي نظام لوی هدف د خلکو د مال، ځان او عزت ساتنه ده. د اسلامي دولت له لوري د خلکو د مال، ځان او عزت ساتنه یوه بنیادي او واجبي چاره ده. دا د الله تعالی د شرعي نظام اساسي ځانګړتیا، اړتیا او موخه ده چې د مسلمانانو او اتباعو د ځان، مال او عزت او ناموس ساتنه به کوي، او د ساتلو لپاره خپلې لارې چارې او روشونه لري، ترڅو ټولنه کې نظم حاکم شي، او د اسلامي نظام اتباع د سکون او آرامۍ احساس ولري.

# دويم فصل

## د شورا پېژندنه

پدې فصل کې د شورا په پېژندنې بحث او څېړنې ترسره شویدي، چې لغوي، اصطلاحي، تعاریفات په ځان کې رانغاړي، همدارنګه د شورا په هکله د علماؤ نظریات، د شورا اهمیت او ارزښت، په سیاست کې د شورا نقش، د شورا سیاسي ګټې، او د قرانکریم له نظره د غیر اسلامي نظامونو شورا او داسې نور ډېر مهم مسایل، چې مباحث یې په ترتیب سره په لاندې ډول لیکل کیږي:

لومړی مبحث: د شورا لغوي او اصطلاحي تعریف

لومړی مطلب: د شورا لغوي تعریف

دویم مطلب: د شورا اصطلاحي تعریف

دویم مبحث: د شورا په هکله نظریات

دریم مبحث: د شورا اهمیت او ارزښت

څلورم مبحث: په سیاست کې د شورا رول

لومړی مطلب: د شورا سیاسي ګټې

پنځم مبحث: آیا امام د شورا په پریکړو مکلف دی

شپږم مبحث: د قرانکریم له نظره د غیر اسلامي نظامونو شورا

## لومړی مبحث؛ د شورا لغوي او اصطلاحي تعریف:

### لومړی مطلب: د شورا لغوي تعریف:

**-1** شورا او مشورت: په لغت کې مشورې، د نورو نظر اخیستل او د نورو پوښتلو ته وایي، او همدارنګه ځیرنې او پلټنې ته هم وایي.

**-2** شور-مشوره- د نورو رأیه اخیستل، په عربۍ کې دا معناء نه ورکوي بلکې د شاتو راټولولو، آسونو ته تمرین ورکول، د اوښ او آس چاغېدل، ښکاره کېدل او داسې نورو مواردو لپاره دا لغت کارول شویدی.

**-3** په عربي کې وايي چې: "أشار علیه بالرأی. و أشار یشیر، کله چي رأیه او نظر بیانوي.[37]

**-4** شورا مصدر ده لکه فتیا د تشاور په معناء.[38]

-5 تشاور یعني د رأی اخیستل[39]

-6 تشاور په لغت کې د رأی د استجماع په معناء ده.[40]

-7 ویل کیږي چې شورا له مشاورې څخه اخیستل شویدی، کله چې وایو (شرتُ العسل أشوره) چې هغه له اصلي ځای څخه وا خلئ، او ویل کیږي چې له (شرتُ الدابه شوراً) څخه اخیستل شویدی، کله چې هغه ننداري ته وړاندې کړې، او هغه ځای چیرته چې څاروي خرڅیږي او نندارې ته وړاندې کیږي، (مشوار) نومیږي، پدې معناء چې ننداري ته د څارویو وړاندې کېدل د هغوی ښه او بد ښکاره کوي، همدارنګه په مشورې سره د چارو ښه والی او بدوالی څرګندیږي.

### دویم مطلب: د شورا اصطلاحي تعریف:

علماؤ د شورا د لغوي معناؤ په چوکاټ کې د شورا لپاره ګڼ تعریفونه وړاندې کړیدي، چې ځینو ته یې اشاره کوو:

-1 له هغو خلکو مشوره اخیستل چې په اړونده موضوع کې د کمال څښتن وي، ترڅو له دې لارې حق ته نژدې نظر ترلاسه شي.

-2 شورا عبارت ده: په یوه څرګنده موضوع کې له نورو سره د نظر تبادله او د رأیو اړول او را اړول، ترڅو غوره نظر او رأیې ته ورسیږو.

-3 د نورو رأیو ته د مراجعې له لارې د ښې رأیې ترلاسه کولو ته مشوره وایي. [41]

---

37. لسان العرب، ج ۳. ص ۳۹۱.

38. تفسير النسفي، ج ۲. ص ۱۰۹.

39. الجامع لاحکام القرآن الکریم. ج ۳، ص ۱۷۲.

40. التفسیر الکبیر. ج ۶، ۲ ۱۰۶.

41. دور اهل الحل والعقد فی النموذج الاسلامی لنظام الحکم، ص ۱۶۵.

4- د صواب ترلاسه کولو په موخه د خلکو راټولېدل [42]

5- د یوې ځانګړې موضوع په هکله د ټولو رأیه اخیستلو لپاره همکاري کول، ترڅو څښتن یې د موضوع له ښه والي ډاډمن شي، او پر بنسټ یې مسؤلیت واخلي، ترڅو داسې و نه شي چې یو څوک د دیکتاتورۍ له امله یو کار وکړي، او د خلکو جمعي بار اوږو ته کړي. [43]

6- دا چې شورا یو قرآني اصطلاح ده، باید په پیژند کې یې هم دقت وشي. شورا عبارت ده له: د هغې ځانګړې موضوع په هکله د ځینو مسلمانانو راټولیدنه او د رأیو تبادله چې په هکله یې کتاب او سنت کې واضح حکم نه وي.

له شورا څخه هدف دادی چې مسلمانان وکړای شي په غیر منصوصي مسئله کې چې ځان یې حق ته نژدې کړی وي، د شورا پر مټ د تیروتنې او خطاء شونتیا راکمه کړي. کله چې د شورا په پایله کې په اکثریت او د رأیو په اتفاق پریکړه وشي، بیا هم نشي کولی ادعأ وکړي چې پریکړه یې عین حق او له خطأ خالي وي. خو د هغو څرګندو او ښکاره الهي حکمونو په برخه کې، چې قرآن او حدیث کې راغلي وي، کولی شو وایو چې په داسې حکمونو کې د شورا ترسره کول جائز نه دي.

شورا هغه وخت یوې څرګندې پایلې ته رسیږي چې هر رأی لرونکی په آزادانه ډول او پرته له پردې پټولو، په ډاګه خپل اند او لیدلوری څرګند کړي. په هغو ثابتو چارو کې چې حقانیت یې قطعي وي، په هغو کې شورا نه ترسره کیږي. نو له همدې امله د دین او دنیا په چارو کې ثابت حقایق، اختلاف، مناقشه او مشوره په درد نه خوري. لهذا مسلمانانو ته جائز نه ده چې د اسلام ثابت شوي حقایق شورا ته کیږدي.

42. روح المعاني، ج ۱۳، ص ۴۶.

43. الشورى و الديمقراطيه: اشكالات المصطلح و المفهوم، ص ۱۰.

## دويم مبحث؛ د شورا په هکله نظريات

کله چې ابوبکر صديق رضی الله عنه خالد بن وليد رضی الله عنه د مرتدينو جنګ ته ولېږه نو داسې يې ورته وفرمايل:

ژباړه: کوم مشران صحابه کرام چې تا سره دي هغوی سره مشوره کوه ېښکه چې د هغوی د مشورو په وسيله الله تعالی تا بريالی کوي.

امام سيوطي رحمه الله يې په اړه وايي:

**كَانَ عُمرُ بنُ الخطّاب يُشَاوِرُ حَتَّى الْمَرْأَةَ.**

ژباړه: عمر رضی الله عنه به مشورې کولې تر دې اندازې چې ښځو سره به يې هم مشورې کولې.

علی رضی الله عنه هم په دې اړه وايي:

**الْاستشَارةُ عَيْنُ الهدايةِ وَ قَدْ خَابَ مَنْ اِستَغْنَى بِرأْيِه .**

د پورتني روايت ژباړه داسې ده چې مشوره کول په خپله هدايت او سمه لاره ده هغه څوک ناکام دی چې په خپل نظر بسنه کوي. امام حصاص وايي چې د دنيا په چارو او د دين په هغو کارونو کې مشوره کيږي چې الهي وحی پکې موجوده نه وي.

## دریم مبحث؛ د شورا اهمیت او ارزښت

په اسلامي نظام کې د الله ج له خرګندو احکامو څخه وروسته شورا د دويم اصل په توګه پېژندل کیږي، او هیڅوک په هیڅ پلمه حق نلري په هغه کار کې چې یوې ډلې ته یې ګټه او تاوان متوجه نه وي، هغوی سره له مشورې پرته پریکړې وکړي. ځکه چې انسان په هره اندازه علم او تقوی ولري، بیا هم نشي کولی ځان له ځیني محدودیتونو بهر کړي، یا له خپلو خواهشاتو ځان وژغوري، له همدې امله الله ج امر کړیدی ترڅو مسلمانان خپل جمعي کارونه په مشوره یو بل سره راغونډ کړي، او آن تر دې چې خپل غوره بنده ته امر کړیدی (و شاورهم فی الامر).

شورا د شرعي احکامو په پېژندلو، او د شرعي دلایلو او عیني واقعیت په پیښو ترمنځ په توفیق او یو له بل سره لګولو کې، یو ډول اجتهاد دی، او لکه څرنګه چې د شریعت په قطعي او ثابتو احکامو کې اجتهاد روا نه دی، همدا سې پدې ډول احکامو کې شورا جواز نه لري،[44] نو د شورا مجال او ځای بدلیدونکي احکام دي. علماء د أمر د کلیمې د تخصیص په هکله اجماع کړې چې په قرانکریم کې دوه ځایه راغلی دی لکه (وشاورهم فی الامر) او (و امرهم شوری بینهم)، له هغه څخه یوازې هغه چارې مراد دي چې وحې پکې نوې نازله شوې، نو د وحی په مورد کې شورا نشته. شوری د اسلام د حکومتي نظام روح او د اسلامي نظام لازمي خاصیت، لازمي حکم او د مؤمنانو صفت دی. د اسلام سپېڅلي نظام د شوری اصل ته زیات ارزښت ورکړی له همدې امله د قرانکریم د سورتونو له جملې څخه یو سورت د شوری په نامه نومول شوی، د اسلام د ځلانده لمر تر ځلیدو د مخه د نړۍ په هېڅ ګوټ کې مشورتي نظام په سترګو نه ښکاریده؛ بلکې خپلسرو واکمنانو د ولسونو په برخلیک لوبې کولې، اسلام د سیاسي نظام د چلند لپاره بیعت او شوری اساس وګرځاوه. استاد راشد غنوشي[45] لیکلي چې: له نص وروسته، شورا د اسلامي نظام دویم اصل دی، ګر چه دا پخپله هم نص دی، د امت لپاره د شرعې تصریح ددې اصل په منلو چې حکومت کې مشارکت کوي. د امت لپاره دا مشارکت نه یوازې یو حق بلکې شرعي وظیفه ده. له همدې امله که وو ایو چې اسلامي حکومت د شورا حکومت او اسلامي امت هم د شورا امت دی، جوړه خبره ده او سم یې ویلي دي.

اسلام یوازینی آئین دی چې دا اصل یې راوړی او هغه په ټولنه کې د عمومي رفتار په توګه همدارنګه د خلکو د چارو د اداري لپاره د میتود په ډول په رسمیت پېژندلی دی. دا چې د اندلس

---

44. (علاء الدین علی بن محمد البغدادی، تفسیر الخازن، (د محمد امین دمج له منشور څخه-بیروت)، ۱ ټوک، ۲۹۶ مخ، همدارنګه د آلوسي تفسیر روح المعانی، ۴ ټوک، ۱۰۶ مخ).

45. راشد الغنوشی په ۱۹۴۱ کال کې د تونس هیواد په سویلي برخه کې په یو کوچني کلي کې زیږېدلی دی. هغه خپلې لوړې زده کړې په ترتیب سره له الخلدونیه څخه پیل او په قاهرې، سوریې، پاریس کې پای ته ورسولې، هغه د کورنیو ستونزو له امله په اروپا کې خپلې زده کړې پرېښودې، او تونس ته وګرځېد، او د فلسفې د استاد او ښوونکي په توګه یې تدریس پیل کړ. هغه له یوې لنډې مودې وروسته له عبدالفتاح مورو، حمیده النیفر، صلاح الدین جورشي سره بلد شو. دې څلور نفري هستې د "د قرانکریم د ساتوونکو ډلې" سره همکاري کوله. هغه په ۱۹۷۰ کې د درس او بحث لومړنۍ حلقه رامنځته کړه چې له ۳۰ زرو څخه تر ۳۵ زرو پورې نفر یې ګډونوال و. ددې غونډې اکثره ګډونوال هغه ځوانان وو چې د ابن شرف اکاډمۍ کې د شیخ الغنوشي شاګردان ول. هغه په ۱۹۸۰ کې سیاسي زندان تجربه کړل، او له زندان څخه وروسته د خلیج فارس شاوخوا هیوادونو ته لکه ایران، سوډان او لبنان ته سفرونه وکړل.

د قرطبې لوی مفسر د حکومت مشروعیت یې ورسره تړلی دی، او ویلي دي چې: "هر څوک چې له علماؤ سره مشوره نه کوي، ګوښه دی او مشوره وربانديې واجب ده، او پدې هکله د علماؤ تر منځ هیڅ اختلاف نشته".

شورا په اسلام کې د دین یو فرعي حکم نه دی، ترڅو په یو یا څو احادیثو او وقایعو یې استدلال وشي، بلکې د دین له اصولو او د سنت له غوښتنو څخه ده. شورا د قدرت او د امت حاکمیت ستون فقرات او د ملا تیر ګڼل کیږي، او د مشارکت، همکارۍ، او مسؤلیت پر بنسټ د امانت د ادأ کولو بنیادي رکن دی.

په اسلام کې د نظام د حاکمیت لپاره شورا تر ټولو مهمه مبدأ ده، چې قرآن او سنت وربانديې ټینګار کړیدی او فقهاء وربانديې د نظر اتفاق لري، شورا حق ده او خلیفه وجیبه ده، پدې برخه کې د خلیفه غفلت د هغه د ګوښه کولو لامل ګرځي.

ابن عطیه ویلي دي: شورا د شریعت قواعد او د هغه ثابت احکام دي، او څوک چې له اهل علم او دین سره مشوره ونکړي، عزل کول یې واجب دي. دا هغه څه دي چې علماء پکې اختلاف نلري.[46] شورا تقابل او اختلاف لمنځه وړي او تفاهم او ګډ کار کولو ته مسؤلین هڅوي. عفیف عبد الفتاح طباره د شورا سورة د ۳۸ آیة له ذکر کولو وروسته داسې وایي: داسې لیدل کیږي چې الله ج د لمونځ، صدقې او ذکات څخه وروسته د شورا نظام په ردیف کې راوستی دی، او ډیر رعایت یې ورکړیدی، ترڅو وښئي چې د یو هیواد د چارواکو او مسؤلینو ترمنځ د شورا نظام رعایت، له مهمو ارکانو او اصولو څخه ګڼل کیږي.

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي چې شورا اووه ګټې لري:[47]

1- د شورا له امله د مسائلو اړوند حق او صحیح نظر لاسته راځي؛
2- د یوې موضوع په هکله رنګارنګ نظرونه برسېره کیږي؛
3- انسان له دوکه کېدو ژغورل کیږي؛
4- انسان له ملامتیا ساتل کیږي؛
5- انسان له پښېمانیتا ساتل کیږي؛
6- شورا کوونکی د ور پېښې موضوع په اړه په سمه لار روانیږي؛
7- د مشوره ورکوونکي زړه وربانديې خوشاله کیږي.

د شورا غړي په ورسره مطرح مسائلو کې ګوري، او هغه قران، سنتو او اجماع ته ورګرځوي، که په هغو کې یې په صریح توګه حکم بیا و نه موند، اجتهاد کوي، له قیاس مصالحو او عرف څخه کار اخلي، او هر حالت ته له هغه سره مناسب او وړ حل راباسي، او کله هم چې حالات بدلیږي را

---

46. الجامع الاحکام القرآن، ج ۳، ص ۲۴۹.

47. الشوری و الدیمقراطیه: اشکالات المصطلح و المفهوم، ص ۲۰.

بدلیږي او نوښتونه راځي، مصالح او دودنه بدلون مومي، احکام هم د هغو په پیروۍ ورسره بدلیږي، او شورا په اسلام کې تر ټولو باوري د احکامو د پیژندلو تشریعي اورګان دی، چې د ټولو بدلونونو څارنه کوي، او د مثبتو نوښتونو لپاره قانوني لوښي او سرپوښ جوړوي، او منفي بدلونونه ردوي، او د هغوی د بندولو او مخنیوي لپاره هم مناسب تدابیر نیسي. [48]

له سیدنا علي رض څخه روایت دی، چې رسول الله ته مې وویل؛ که داسې پیښه مونږ ته له تا وروسته رامینځته شي، چې په هکله یې قرانکریم کې څه نه وي نازل شوي، او له تا څخه هم پکې څه نه وي اوریدل شوي؟ نو هغه مبارک ص وفرمایل: (اجمعوا له العابد من أمتی و اجعلوه بینکم شوری ولا تقضوه برأی أحد )

ژباړه: زما له امت څخه عابد خلک ورته راټول کړئ، او پخپل مینځ کې مشوره پرې وکړئ، د یوه تن په نظر یې مه فیصله کوئ.

48. (اخرجه الخطیب فی رواة مالک، الدرالمنثور، للسیوطی، ۱۰ ج، ۶مخ). شرعي سیاست.

## څلورم مبحث؛ په سياست کې د شورا نقش

کله چې رسول الله مدينې منورې ته هجرت وکړ او هلته يې د اسلامي دولت اساس کېښود نو څوارلس تنه صحابه کرام يې وټاکل ترڅو چې ورپېښو چارو کې ورسره مشوره وکړي، پدې ۱۴ تنه کې ۷ تنه يې د مهاجرينو او ۷ تنه يې د انصارو څخه وو.

د عقبې په دويم بيعت کې رسول الله ص مدينې منورې څخه راغی، خلکو څخه يې ۱۲ تنه استازي وغوښتل چې د ضرورت په وخت کې د ورپېښو مسائلو په اړه ورسره مشوره وکړي، يادو خلکو ورته ۱۲ تنه استازي معرفي کړل چې ۹ تنه پکې د خزرج او ۳ تنه پکې د اوس قبيلې څخه وو.

د عمر رض د خلافت په دوره کې د مشورو لپاره ذمیان د شورا مجلس ته راغوښتل کېدل.

په صحيح البخاري کې روايت دي چې هرمزان د فارسي امپراتورۍ د لښکرو له قوماندانانو څخه و، او مسلمانانو سره بندي و، عمر رض به ورسره ځيني مسايلو کې مشورې کولې.

قرآن شورى د يوه داسې اصل په توګه معرفي کوي چې د مسماني ټولنې يو اساسي او تلپاته بنسټ يې ګڼي. څه چې تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه او هر نعمت چې وي، دا د دنيوي ژوند متاع ده، يوه وسيله او ذريعه ده، دا د ژوندانه د سفر توښه ده، دلته چې له نعمتونو کوم څه ګورئ، دا به يو هم د هدف او مقصد په توګه نه نيسئ، دا ټول د دنيوي ژوند لپاره د متاع حيثيت لري. د دنيا نعمتونه فنا کېدونکي دي، ددې لپاره درکړی شوي چې په خپل محدود ژوند کې خوند ترې واخلئ.

شورا په سياست کې ډېر لوی نقش لري، مهم نقش يې د حکومت په چارو نظارت او څارنه کول دي، د وضعي قوانينو کتنه او تصويبول دي، همدارنګه واکمن ته په ګڼو ملي، وطني او شرعي چارو کې لازمې مشورې ورکول دي.[49]

همدارنګه شورا د متنفذيو او سياسيونو او چارواکو تر منځ يووالي راولي او د دوی تر منځ همغږي را منځته کوي، شورا د واکمن له لوري د استبداد مخنيوی کوي، او بې اتفاقي لمنځه وړي، د اداري اختلافاتو او سياسي نارضايتونو مخنيوی کوي.

د شورا نقش په اسلامي او وضعي نظامونو کې ډېر زيات ګټور او مهم دی. شورا مسؤليتونه ويشي، د مسؤليت پېټی د واکمن شخص په اوږو نه اچوي بلکې د شورا غړي هم د مشورې له لارې ورسره پکې شريک کوي. همدارنګه شورايي تصميم ډېر قوي، مفيد او مؤثر وي. او د شريعت پر بنسټ شورايي تصميم په خير ولاړ وي.

---

49. شرعي سياست. ابن تيميه. تقی الدين.ژباړه: مل.عبدالحکيم. ميوند خپرندويه ټولنه. ۴۵ مخ.

لومړی مطلب: د شورا سیاسي ګټې:

۱ : د شورا په وسیله دا په ډاګه کیږي چې د دولت رئیس د رعیت د نظریاتو احترام او قدر کوي.
۲ : د شورا په وسیله ثابتیږي چې په اسلامي دولت کې د هیواد اصلي واکدار ولس دی.

۳ : په شورا کې د خلکو د نظریاتو اوریدل په حقیقت کې د انساني فطرت او طبیعت غوښتنه ده. دا ځکه هر انسان غواړي خپل فکر غوښتنې او تجربې خلکو ته بیان کړي.

۴ : د شورا په وسیله پریکړه یوازې چارواکو پریکړه نه بلل کیږي، بلکې د رعیت پریکړې ګرځي نو که چیرې د شورا په کومې پریکړې کې خطاء موجوده وي، ملامتیا یوازې چارواکو ته نه راجع کیږي بلکې ټوله شورا مسؤلیت کې ورسره شریکیږي.

## پنځم مبحث؛ آیا امام د شورا د پریکړو په رعایت مکلف دی؟

پر امام؛ د شوری د پرېکړو اتباع واجبه ده؛ له علي رضی الله عنه روایت شوي چې ویلي یې دي: له پیغمبر علیه السلام د دغه آیت د (عزمت) په اړه پوښتنه وشوه چې د عزم معنی څه ده؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د رأی له خاوندانو سره مشوره او بیا د دوی د رأیې متابعت، یعنې له مشورې چې کومه پرېکړه راوځي، هغه منل او په هغه پسې تلل.

دا ډېر ډېر کمزوری دلیل او بې بنسټه دلیل دئ چې وایي په دې آیت کې **(وَشَاوِرۡهُمۡ فِى الۡاَمۡرِ‌ۚ فَاِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ)**؛ د (عزمت) صیغه د مفرد ټولو غړو !!

دوی متوجه ندي چې د مفرد ددې لپاره راغلې چې د آیت په لومړي سر کې خطاب یوازې پیغمبر علیه السلام ته متوجه دئ، په دې آیت کې ټولې صیغې مفردې دي.

دې ته یې هم پام ندئ کړی چې (فاذا عزمت) ویل شوي، په عربي پوه انسان پوهېږي چې د (فا) توری ښیي چې (عزم) به د (مشاورې) نتیجه وي، یعنې د مشورې په نتیجه کې چې کوم تصمیم نیسي؛ نو پر الله توکل وکړه. د فتوکل صیغه هم ښیي چې توکل به د مشورې او له مشورې د راوتلي تصمیم؛ په پای کې وي. د دې آیت له مخې؛ شوری او مشوره الهي مأموریت او وجیبه ده؛ عزم او تصمیم د مشورې نتیجه ده او توکل د دواړو په پای کې؛ د الله تعالی امر؛ معنی یې دا چې کله تاسو د خپل رب له لارښونې او حکم سره سم مشوره وکړه؛ د مشورې په نتیجه کې مو کومه اجتماعي پرېکړه وکړه؛ نور تشویشونه او اندېښنې لرې وغورځوئ؛ پر خپل رب توکل وکړئ او نتایج الله تعالی محول کړئ.

د (توکل) یادونه هم تلویحاً دا مطلب په ګوته کوي چې که احیاناً پرېکړه ستا د رأیې خلاف راووته، فکر کوې چې دا پرېکړه به ستا په زیان او ضرر وي؛ پر الله توکل وکړه او له تشویش او تزلزل پرته د پرېکړې عملي کولو ته ملا وتړه. [50]

دې ته یې هم پام نه دی کړی چې په دې آیت کې د مشورې امر په حقیقت د هغو خلکو په اړه شوی چې د احد په جګړې کې څه اشتباهات ترې شوي، د دې پیغمبر علیه السلام د دغو اشتباهاتو په سبب له هغوی سره له مشورې ډډه وکړي، الله تعالی ورته لارښوونه وکړه چې نرمي ورسره کوه، عفوه ورته وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې له همدغو سره چې اشتباه یې وکړه او ته غلط تصیم ته اړ کړې؛ بیا هم مشوره ورسره کوه.

**فَاِنۡ اَرَادَا فِصَالًا عَنۡ تَرَاضٍ مِّنۡهُمَا وَ تَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا...البقره:۲۳۳**

[50]. (دین او سیاست، حکمتیار، ۱۵۴) مخ.

دا مبارک آیت له تې د ماشوم ببلولو په اړه ښځې او مېړه ته وايي: په خپلو کې د ( مشورې او رضایت ) په نتیجه کې چې د خپل ماشوم د ببلولو په اړه کومه فیصله وکړئ نو څه الزام او ګناه درباندې نشته او له مشورې پرته یا د یوه طرف د عدم رضایت په صورت کې هره پرېکړه د ګناه پرېکړه ده. څوک چې وايي امیر یوازې په مشوره مکلف دئ، پرېکړه به دې په خپله خوښه کوي ! ! دوی دې له قرآن او سنتو کوم دلیل وړاندې کړي.

قرآن خو وایی چې د شوری پرېکړه باید داسې وي چې په شوری کې د برخه والو رضایت تامین شي؛ ستا نظر خو د قرآن د دې پرېکړې کاملاً خلاف دئ ! ! د پیغمیر علیه السلام له قوله کومه بېلګه وړاندې کړه چې ستا دا نظر تأیید کړي، پیغمبر علیه السلام خو هېڅکله د مشوره کوونکو د اکثریت له رأیې سره مخالفت نه دئ کړی او د خپلې خوښې فیصله یې نده کړې. ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته وايي: تاسو دواړه چې په هر څه توافق وکړئ زه ورسره مخافت نه کوم؛ یعنې که موږ درې وو (زه، ابوبکر او عمر رضي الله عنهما )؛ درېواړه یو ځای وو او په یوې موضوع مو مشوره کوله؛ تاسو دواړه یو لوري ته شوئ او زه بل لوري ته؛ ستاسو مشوره او رأیه به منم.

ځینې خلک د حدیبیې په صلحي کې په غلطه توګه استناد کوي او وايي: پیغمبر علیه السلام له مشورې پرته هغه معاهده امضاء کړه، نو دا ښيي چې امیر په شوری او د شوری د پرېکړو په متابعت مکلف نه دئ ! ! څوک چې له واقعیتونو خبر نه وي؛ دا وینا ورته تشویشونه راپیدا کوي؛ دوی ته وایو: آیا دې ته متوجه یئ چې دا معاهده چېرې او په کومو شرایطو مې امضاء شوې؟ چې حدیبه د مکې جزء او مربوط ساحه او قریشو پرې حکومت کولو؟

مسلمانان هلته د جګړې لپاره نه بلکې د عمرې لپاره تللي وو، د جنګي وسائل او تجهیزات یې له ځان سره نه وو وړي؛ فقط له یوې تورې سره تللي وو. د جګړې یې تیاری نه درلود، د عمرې لپاره تللي وو؛ هغه د پیغمبر علیه السلام او د یو خوب د رؤیا له کبله؛ قریشو یې مخه ونېوله؛ دښمن هڅه کوله چې ښښته رامینځ ته شي؛ ډېر شرارتونه یې وکړل؛ صحابه وو ونیول؛ خو پیغمبر علیه السلام خوشې کړل؛ د پیغمبر علیه السلام د حکیمانه قیادت په وجه د دوی شرارتونه شنډ شول او د ښښتې مخنیوی وشو.

بالاخره د دوی ترمنځ معاهده لاسلیک شوه؛ په داسې کې چې اکثریت صحابه ناراض ول؛ د عمر رضي الله عنه په څېر ستر شخصیت ورغی؛ او ویې ویل: آیا موږ په حقه نه یو؟ آیا پیغمبر علیه السلام د خدای پیغمبر نده؟ ولې له قریشو سیره داسې معاهده لاسلیک کوو چې وايي:

که د قریشو له لوري موږ ته چا پناه راوړه؛ هغوی ته به یې تسلیموو؛ خو که له موږ څوک دوی ته ورشي؛ نو هغوی به مکلف نه وي چې موږ ته یې وسپاري؛ په همدې دوران کې یو صحابي چې په زنځیرونو تړل شوی وو؛ راتښتېدلی او مسلمانانو ته یې پناه راوړه؛ پلار یې ور پسې راغی او

له رسول الله صلی الله علیه وسلم یې وغوښتل چې ورته تسلیم یې کړي؛ که څه هم لا تر دې دمه معاهده نه وه لاسلیک شوې؛ خو هغه وویل: په موادو توافق شوی؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائل: زوی ورته تسلیم کړئ؛ په معاهده کې د محمد علیه السلام تر څنګ رسول الله ولیکل شي؛ پیغمبر علیه السلام امر وکړ چې دا کلمه حذف کړئ صحابه وو ویل با رسول الله!

موږ دا کار نه شو کولی؛ پیغمبر علیه السلام له لیکونکي وپوښتل چې دا الفاظ چېرې دي؛ په خپله یې حذف کړل؛ صحابه وو ته تر ټولو ګران او د نه منلو کار دا وو؛ چې زنځیرونه تړل شوی هغه مسلمان قریشو ته وسپاري چې دوی ته یې پناه راوړې وه. او بل ګران کار دا و چې د پیغمبر علیه السلام او رؤیا شکمنه کیږي او دښمن ته دا موقع په لاس ورځي چې ووایي: که محمد علیه السلام ریښتنی پیغمبر وي نو خوب به یې تر سره شوی وو؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته وویل:

زما په رؤیا کې دا نه و شامل چې حتماً په سږ کال عمره کوو؛ که نن له عمرې منع شو کال ته به عمره کوو؛ که څه هم ناراض ول خو هېچا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پرېکړې سره عملاً مخالفت نه دئ کړی. د ناپوه وګړو اعتراض به هغه وخت وارد او د اعتماء وړ وو چې لومړی پیغمبر علیه السلام له خپلو یارانو سره مشوره کړې وي؛ بیا د مشورې خلاف؛ بېله پرېکړه کړې وي؛ دا هم باید په پآم کې ولرو چې د جنګ په حالت فوق العاده اختیارات زعیم او قائد ته سپارل کیږي؛ د جنګ په میدان کې مشورې نشي کېدای؛ هغه مهال به ټول اختیارات او صلاحیتونه امیر ته سپارل کیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته د دې معاهدې د بېلو بېلو برخو او موادو په اړه کافي او مقنع دلائل وړاندې کړل؛ لکه دا چې ځوک قریشو ته پناه وروړي؛ داسې چاته موږ څه ضرورت لرو؟ بېلبېدا یې د اسلام او مسلمانانو په خیر ده؛ او که له دوی ځوک موږ ته راشي او موږ یې قریشو ته تسلیم کړو؛ هغه صحابي چې قریشو او خپل پلار ته سپارلی شوی وو؛ له زندان وتښتید؛ او د قریشو د تجارتي قافلو په لار کې مظبوط سنګر جوړ کړ؛ د قریشو نور باغیان به هم د ده خوا ته راغونډېدل؛ د قریشو پر تجارتي قافلو به یې غلچکي بریدونه کول؛ بالاخره قریش دې ته مجبور شول چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وغواړي او ووایي: دا صحابي او ملګری یې مدینې ته دروغواړه. دا معاهده د مسلمانانو لپاره دومرهستره او ځلانده فتح او بریا وه چې قرآن ورته د فتح مبین نوم ورکړ او د قرآن یوه بشپړه سوره په همدې ارتباط نازله شوه. [51]

د جنګ په ظروفو او شرایطو کې؛ چې استثنایي حالت دی؛ باید قاید ته فوق العاده اختیارات ورکړی شي؛ خو که د صحابه وو مظبوط ایمان او عقیده؛ نو د دې احتمال وو چې له دغې

---

[51]. (دین او سیاست، حکمتیار،۱۵۶) مخ.

پرېکړې؛ کافي ستونزې او مشکلات راولاړ شوي وی؛ د صحابه وو مظبوط ایمان د دې باعث شو چې هېڅوک مخالفت ونکړي.

دا اسې نازک او حساس حالت هم رامینځته شو چې پیغمبر علیه السلام صحابه وو ته وویل: پاڅئ او له احرام ووځئ؛ خلک دومره ناراض، خفه او پریشان وو چې هېڅوک له خپل ځای ونه خوځېده؛ پیغمبر علیه السلام خپلې خېمې ته ولاړ او له خپلې هوښیارې مېرمنې ام سلمه رضی الله عنها سره یې مشوره وکړه او د انتظار خلاف یې هغې ته بیان کړو؛ مېرمنې یې ورته وویل: یا رسول الله ! اندېښنه مکوه؛ صحابه فکر کوي چې که مونږ خپل خفګان او نارضایتي وښیو؛ نو کېدای شي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا فیصله بدله کړي؛ ته لاړ شه له احرام ووځه؛ په دې سره به دوی پوی شي چې دا پرېکړه بدلېدونکې نده؛ همدا اسې وشول.

د جنګ په میدان او حالت کې مشر ته فوق العاده صلاحیت ورکول؛ دا طبیعي او ټولو خلکو ته د منلو وړ کار دئ، په ټولو هېوادونو کې ګورئ چې د جنګ په حالت کې حتا منتخب پارلمانونه هم منحل شي او زعیم ته د قانون له مخې فوق العاده صلاحیت ورکړی شي.

دا هم په پام کې ولرئ چې دا یوازینی مورد دئ؛ په دې کې هم ډېری صحابه، حتی د عمر رضی الله تعالی عنه په څېر شخصیتونه هم له هغې معاهدې سره موافق نه وو، خو نه چا اعتراض کړی او نه مخالفت، که پیغمبر علیه السلام مشوره کړې وی او بیا د اکثریت له رأیې سره مخالفت کړی وی؛ یا صحابه وو خپل مخالفت څرګند کړی او پیغمبر علیه السلام د هغوی څرګند مخالفت ته هیڅ اعتناء نه وکړی، نو ستاسو وینا په ځای او وارد وو، خو دا اسې ندي شوي او په دې باندې استناد هېڅوک د دې ادعاء حق نلري چې امیر د شورای د غړو رأیې په متابعت مکلف نه دئ، دا نا سم تعبیر او غلط قیاس دئ.

دا هم باید په پام کې ولرو چې که په همدغه استثنایي او حساس مورد کې؛ د صحابه هغه قوي او مظبوط ایمان او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وړاندې پشپړ اطاعت او تسلیمي؛ جذبه نه وی؛ او د پیغمبر علیه السلام پر ځای کوم بل شخصیت د دې مشرې په غاړه درلودی؛ نو کېدی شي له همدې پېښې یوه ستره فتنه را ولاړه شوې وی؛ اکثریت ناراض وو خو له اعتراض او مخالفت یې ډډه کړې، په دې کې د مسلمانانو لپاره یو ستر درس پروت دئ؛ دا چې:

دې ته ورته شرائطو کې به هغه څه کوي چې د مسلمانانو زعامت او مشر تابه ته هم لاربښونه شوې چې په دا اسې حساس وخت کې باید محتاط اوسي؛ دا اسې حزم او عزم باید ولري لکه چې پیغمبر علیه السلام وښود؛ له تذبذب پرته دې تصمیم ونیسي.

راتلونکو پېښو وښوده چې پیغمبر علیه السلام پرېکړه ډېره حکیمانه او پر ځای پرېکړه وه، الله تعالی د همدې پرېکړې په تأیید کې د الفتح مکمله او جامع سوره نازله کړه او دغې معاهدې ته یې د څرګندې فتحې او بریا نوم ورکړ.

د شورا آيات د اُحد له غزا وروسته نازل شويدي، رسول الله ص له صحابه ؤ څخه مشوره وغوښته، چې دښمن ته ميدان ته وروځي او که دننه په مدينه کې پاتې شي او د حملې پر وخت د مدينې منورې په کوڅو کې مقابله ورسره وکړي. د ده مبارک نظر داسې و چې په مدينه کې پاتې شي، او له ورتللو څخه ډډه وکړي،[52] مګر د زياتو صحابه ؤ نظر دا و چې مخې ته وروو‌ځي، په ځانګړې ډول ځوانان ميداني مقابلې ته ډير هوسېدل. کله چې رماتو (نښه ويشتونکو ) د رسول الله ص د امر مخالفت وکړ، مؤمنانو ماتې وخوړه، د اويا تنو په شاؤخوا کې شهيدان شول، رسول الله ص ټپي شو ، او له هغه وروسته دا آيت نازل شو چې خطا کارو ته ښښنه وکړئ، او مشورې ته دوام ورکړئ، او دا ماتې بايد ددې لامل نه شي چې مشوره دې نوره پاتې شي، ځکه ښه پايله يې نه درلوده. شورا اکثره وخت له ځان سره ښې پايلې لري. پدې توګه پدې حالت کې د شورا د امر آيت نازلېدل، ددې معناء لري چې دا يو ضروري حکم دی، او امر د وجوب لپاره وي، نو د شورا د پرېښودلو مجال نشته.

52. (عبدالحميد اسماعيل الانصارى، الشورى و اثرها فى الديموقراطيه. المكتبة العصريه، بيروت، ١١١مخ).

## شپږم مبحث؛ د قرآن کریم له نظره د غیرا سلامي نظامونو شورا

قرآن د اسلامي نظامونو د معرفي په لړ کې د هغوی یوه ځانګړتیا همدا ښیي چې د پرېکړې وروستۍ مرجع واکمن وي، درباریان د مشورو په دوران کې هغوی ته همدا وايي چې موږ خپله عاجزانه رأيه ستا حضور کې وړاندې کوو خو پرېکړه ستا کار دی، واکمن هم ځان ټولواک ګڼي او خپلو مشاورینو ته وایي: سمه خبره همغه ده چې زه یې درته وایم ! قرآن د داوړه خبرې د فرعون او د سبأ د ملکې په اړه راوړې دي، د سبأ د ملکې درباري مشاورینو او سرکاري مفتیانو ورته وویل:

موږ جګړې ته چمتو یو؛ ځواکمن او جنګیالی قوم یو؛ خو پرېکړه ستاد کار دئ؛ وګوره چې خوښه دې څه ده او څه مناسب ګڼې، د قرآن الفاظ دا دي:

**قَالَت يَاَيُّهَا المَلَؤُا أفتُونِی فِی امری مَا كُنتُ قَاطِعَةً امراً حَتی تَشهَدُون۳۳ قَالو نَحنُ أُولُوا قوةٍ وَ أُولُوا بأسٍ شَدِيدٍ وَ الامرُ إليکَ فَانظُرِی مَاذَا تَامُرِين۳۳ النمل ۳۲-۳۳**

(ملکې) وویل: اې درباریانو ! په دې کار کې مشوره راکړئ، زه خو تر هغه د کوم کار پرېکړه نه کوم چې ستاسو راته حاضر شئ ! هغوی وویل:

ځواکمن او کلک جنګیالي، او کار تا ته محول دئ، نو وګوره چې څه امر کوې[53]

په دې مبارکه آیتونو کې په یوه غیر اسلامي نظام کې د شورای څرنګوالی په ډېره دقیقه توګه ښودل شوی، چې خبرې یې ډېرې جالبې دي:

- ملکه وایي: زما د دې کار په اړه څه مشوره راکوئ؟ داسې نه وایي چې د دغه کار چې په ټول ولس او هېواد پورې تړلی دئ؛ په اړه یې اړه یې څه رأیه لرئ؟ له الفاظو (افتونی فی امری) داسې معلومیږي چې ملکې خپله پرېکړه هغوی ته اعلان کړې؛ فقط له دوی غواړي چې خپله موافقه اعلان کړي. ! !
- ورته وایي چې زه خو ستاسو په غیاب کې پرېکړه نه کوم، تل تاسو راغواړم او ستاسو په وړاندې فیصله کوم ! !
- درباریان وایي: موږ ځواکمن یو، توریالي یو او جګړې ته چمتو، خو پرېکړه ستا کار دئ، څه چې ستاسو خوښه وي هغه به کوو ! !

دا قیصه د دې لپاره راغلې چې مسمانان د دغو غوړمالو او ذلیله درباریانو په څېر نشي او شورای د پاچایانو شورای ته ورته نه وي.

---

53. (دین او سیاست، حکمتیار،۱۵۹) مخ.

فرعون ته هم يوه داسې درباري څو نېکې مشورې ورکړې چې په پټه يې ايمان راوړی و، غوښتل يې چې له موسی عليه السلام دفاع وکړي او فرعون د هغه له وژلو منع کړي، دا هغه مهال وو چې فرعون خپلو درباريانو ته وويل:

ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، او دې درباري چې ايمان يې راوړی و پاڅېد او په ډېره مېړانه يې له موسی عليه السلام دفاع وکړه؛ يو مؤمن درباري چې د چې د فرعون له دربار يې له حق د دفاع مظبوط او ځواکمن سنګر جوړ کړی وو؛ الله تعالی هم هغه ته دومره ستر مقام او منزلت ورکړ چې د هغه دا همتناکه وينا يې په قرآن کې داسې درج کړه چې مؤمنان به يې تر قيامته لولي ! ! د قرآن نږدې يوه نيمه صفحه يې د هغه اقوالو ته مختص کړه؛ خو فرعون په ځواب کې ورته وويل:

زه هماغه څه تاسو ته وايم چې ښه پرې پوی شوی يم او زه چې تاسو ته کومه لارښونه کوم هغه د ترقي او کمال په لوري لارښوونه ده ! ! د قرآن الفاظ دا دي:

**يَقَومِ لَكُمُ الْمُلكُ الْيَومَ ظَاهِرِينَ فِي الأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِن بأسِ اللهِ إن جَاءَنَا قَالَ فِرعَونُ مَا أُرِيكُمْ إلاَّ مَا أرَى وَ مَا أهدِيكُمْ الّا سَبِيلَ الرَّشَاد ٢٩. غافر:٢٩**

(هغه مؤمن درباري) وويل: نن خو پاچاهي ستاسو ده؛ په داسې حال کې چې پر دې سېمه برلاسي او غالب يئ؛ خو که د الله عذاب راشي؛ څوک به مو مرسته وکړی شي؟

فرعون وويل: زه همغه څه تاسو ته وايم چې پرې پوی شوی يم او يوازې د رشد او هدايت لار درښيم ! !

په دې کې الله تعالی د مسلمانانو امېرانو ته لارښونه کوي چې د فرعونيانو په څېر مه کېږئ؛ خپله رأيه د فرد په توګه په مجلس کې وړاندې کړئ؛ او وګورئ چې اکثريت په څه باندې توافق کوي؛ خپله رأيه آسماني او آخري مه ګڼئ؛ او نورو دا انتظار هم مه کوئ چې ستاسو هرې خبرې ته به سر ټيټوي؛ چې که ښه وي او بده وي هغه به مني؛ هغه په شوری کې يو فرد او حق يې هم د شورای د نورو غړو په څېر دئ؛ پر نورو هېڅ امتياز او توفق نه لري؛ کار هم د ده شخصي نه دئ؛ په ټولو پورې مربوط کار دئ؛ ټول په ګډه په دې اړه تصميم نيسي. [54]

آيا دغه آيتونه کفايت نه کوي چې ووايو: غير ملزمه شورای د غير اسلامي نظامونو ځانګړتيا ده، هغه شورای چې پرېکړې ملزمې نه وي او امير مجبور او مکلف نه وي چې د اکثريت فيصلې به مني او عملي کوي؛ دا د غير اسلامي نظامونو شوری ده؛ فرعونيان او هغه چې د فرعون يو رګ پکې وي داسې شوری خوښوي؟ ! !

54. (دين او سياست، حکمتيار، ۱۶۱) مخ.

يو مؤمن مسمان چې د حق تړی او د حق په لټه کې وي؛ هر چا چې د حق خبره واوري؛ مني يې او له خپلې خبرې تېرېږي؛ کله چې وګوري اکثريت وګړي او ملګري يې د يوې رأيې حمايت کوي؛ له خپلې رأيې تېرېږي او د اکثريت خبره مني؛ مغرور نه وي؛ پر خپلې خبرې بې ځايه ټينګار نه کوي؛ خپله وينا تر نورو غوره نه ګڼي؛ دليل وايي: که نور يې قانع کړی شو؛ ښه او که نه نو د اکثريت رأيې ته د ورستي فيصلې په سترګه ګوري.

قرآن د فرعون او سبأ د ملکې دا قيصې د دې لپاره راخيستي چې موږ ته ووايي: په غير اسلامي نظامونو کې واکمن ټولواک وي، وروستۍ پرېکړه د ده له لوري کيږي، هغه ځان عقل کل ګڼيو خپله رأيه تر ټولو غوره او لوړه ګڼي، شورى يې ملزمه نه وي، ټولواک د شورى پرېکړو ته په التزام مکلف نه وي.

مشر ته د ټولواک نوم ورکوي؛ زموږ پاچاهان هم ټولواکان ګڼل کېدل؛ په داسې حال کې ټولواک يوازې الله تعالى دئ او بس؛ داسې نومونه چا ته ورکول ناجائز دي؛ او ددې لپاره چې موږ ته ووايي: په کوم نظام کې چې دا خصوصيات وي؛ هغه اسلامي نظام نه بلکې فرعوني نظام وي.[55]

موږ بايد غير اسلامي نظامونه وپېژنو او د غير اسلامي ټولنې د ملک، امير، پاچا او د ټولواک خصلتونو باندې ځان پوه کړو او له هغو ډډه وکړو؛ لکه چې د اسلامي ټولنې د مشرتابه مثالونه زموږ مخې ږدي؛ د پيغمبر عليهم السلام په شخصيت او کړنو کې يې انځوروي؛ همداسې د فرعون او سبأ ملکې قصه، خصوصيات او خصلتونه يې؛ زموږ مخې ته ږدي چې دواړه سره تفکيک کړی شو، هغه اسلامي نظام نه بلکې غير اسلامي نظام وي؛ خلافت نه بلکې ملوکيت وي، شورى د غوړمالانو او چاپلوسانو مجموعه وي چې د مَلِک او سلطان رضاء تر لاسه کول يې د هرې وينا اصلي موخه وي!

---

55. (دين او سياست، حکمتيار، ۱۶۲) مخ.

# دریم فصل

## د شورا احکام او ځانګړتیاوې

پدې فصل کې شورا احکام، شرایط، غړیتوب، د شورا ځانګړتیاوې او د شورا تاریخي غونډو باندې څېړنې او لیکنې شویدي. ترڅنګ یې د شورا په اړه قرآني آیتونه، د شورا په هکله د رسول الله ص احادیث، په نبوي دور کې د شورا تاریخي غونډې، د شورا د غړو صفات، د شورا اساسي اهداف، د شورا صلاحیتونه، په شورا کې د میرمنو او نامسلمانو متنفذینو غړیتوب، د شورا د غړو ځانګړنې او داسې نور ډېر مهم موضوعات څېړل شویدي چې مباحث یې په لاندې ډول لیکل شویدي:

لومړی مبحث: د شورا په اړه قرآني آیات

دویم مبحث: د شورا په هکله د رسول الله ص احادیث

دریم مبحث: په نبوي دور کې د شورا تاریخي غونډې

څلورم مبحث: د شورا د غړو صفات

پنځم مبحث: د شورا اساسي اهداف

شپږم مبحث: د شورا صلاحیتونه

اووم مبحث: د ریاست مشر حق نلري د شورا رأیه رد کړي

اتم مبحث: د زیاتو رأیو پر بنسټ پریکړه

نهم مبحث: په شورا کې د میرمنو غړیتوب

لسم مبحث: په شورا کې د نامسلمانو متنفذینو ګډون

یوولسم مبحث: د شورا د غړو ځانګړنې

دولسم مبحث: د مجلس د شورا د مودې ټاکل

دیارلسم مبحث: څوک اهل مشوره دي

## لومړی مبحث: د شورا په اړه قراني آیتونه

د شورا په هکله قرآني آیات په لاندې ډول ذیړل کیږي:

**فَبِمَا رَحمَةٍ مِنَ اللّٰهِ لِنتَ لَهُم وَ لَو كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ القَلبِ لَانفَضُّوا مِن حَولِكَ فَاعفُ عَنهُم وَاستَغفِرلَهُم وَ شَاوِرهُم فِي الامرِ فَاذَا عَزَمتَ فَتَوَكَّل عَلَى اللّٰهِ، اِنّ اللّٰهَ يُحِبُّ المُتَوَكِلِينَ.** [56] (آية ۱۵۹)

ژباړه: [ای پیغمبره ! دا د الله ج له لوري رحمت او پیرزوینه ده چې ته ددې خلکو لپاره ډیر نرم خویه جوړ کړل شوی یې، که داسې نه وای او ته تونددخویه وې، او سخت زړی وې، دا ټول به ستا له شاؤخوا خواره شوي وو، نو هغوی ته بښنه وکړه، او د هغوی د خطاوو بښنه له خدایه وغواړه، او د دین په چارو کې هغوی ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده په کومه رأیه ټینګه شي، نو پر الله ج توکل وکړه، د الله ج هغه خلک خوښیږي چې د هغه په توکل کارونه کوي.

ابن منظور رحمة الله علیه لیکي: الامر نقیض النهی..... والامر الحادثه

[امر د نهی په مقابل کې دی، او د امر معناء حادثه او واقعه هم راځي]. [57]

د لغت د امامانو له دې تشریح څخه معلومیږي چې [د امر معنا حکم او حکومت هم راځي او د مهمو په معناء هم استعمالیږي، او د آیت مفهوم دادی چې ای نبي ! د حکومت په چارو کې او د مهمو پیښو په اړه د صحابو سره مشوره کوه].

ابن جریر طبري، اما جصاص حنفي، امام بغوي، امام فخرالدین رازی رحمة الله علیهم، امام قرطبي، علامه نسفي، علاوالدین بغدادی، قاضي ثناء الله پانیپتي، او علامه الوسي رحمة الله علیهم، دوی ټولو پخپلو تفسیرونو کې لیکلي دي چې رسول الله ص ته د مشورې د اخیستو حکم ددې لپاره ورکړل شوی و، چې امت ته د شورا اصل سنت پاتې شي، ترڅو په راتلوونکې کې امت د آمریت په لاره لاړ نه شي او د شورا په شرعي قاعدې باندې ټینګ او مستحکم واوسي.

**لیتبعه المؤمنون من بعده فیما حزبهم من امر دینهم و یستنوا بسنته فی ذالک و یتحذو المثال الذی راوه یفعله فی حیاته.**

ژباړه: [د مشورې اخیستو حکم له دې امله ورکړل شوی و چې ترڅو راتلونکی د ایمان خاوندان په مشورې اخیستو کې د هغو دیني چارو په هکله چې هغوی ورسره مخ کیږي، د هغه صلی الله علیه وسلم پیروي وکړي، او پدې هکله د هغه سنت د خپل ځان لپاره نمونه وګرځوي، او همدا نمونه چې هغه خپل ژوند کې پرې عمل کړی وي، د خپل ځان لپاره تګلاره وټاکي]. [58]

---

56. قرانکریم. (د آل عمران سورت ۱۵۹ آیت).
57. لسان العرب. ۴ ټوک. ۲۶ مخ.
58. تفسیر ابن جریر. ۴ ټوک. ۱۵۲ مخ، د ۱۹۵۴ میلادي کال د مصر چاپ.

اراد ان يستن به من بعده: ژباړه: د حکم ورکولو مقصد دا و چې د مشاورت په سنت کې امت د خپل پیغمبر او رسول ص متابعت وکړي.[59]

د وخت بیهقي قاضي ثناء الله پانیپتي رحمة الله علیه فرمایلي دي: **تمهید لسنة المشاوره لأمة:** ژباړه: دغه حکم په امت کې د مشاوریت د سنت بنسټ کیښود.[60]

د امام بخاري رحمة الله علیه د قایم کړي باب عنوان دا دی: **باب قول الله و امرهم شوری بینهم و شاورهم فی الامر و ان المشاوره قبل العزم و التبین لقوله فاذا عزمت فتوکل علی الله فاذا عزم رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن لبشر التقدم علی الله و رسوله.** ژباړه: [مشوره د پریکړې او د حق د واضح کېدو ترمخه کیږي کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشورې وروسته او یا د وحی په اساس کومه پرېکړه وکړه نو بیا هېڅ یو بشر ته د الله **جل جلاله** او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم څخه د ترمخه کېدو حق نه شته]

جلال الدین سیوطي رحمة الله علیه چې په ۹۱۱ هجري قمري کال کې مړ شوی دی په (الخصائص الکبری) کې یو ځانګړی فصل ترتیب کړی چې عنوان یې دی: باب اختصاصة بوجوب المشاوره [د مشورې وجوب د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ځانګړتیاو څخه و] د دې باب نه مقصد دا دی چې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې په غیر منصوص امورو کې د خپلو اصحابو سره مشوره کول واجب او دا د هغه امتیازي خصوصیت و، د دې باب د ثبوت لپاره ډېر روایتونه را نقل شوي دي.

[59]. زاد المسیر فی علم التفسیر. د ابن جوزي لیکنه. لومړی ټوک. ۴۸۸ مخ. د ۱۹۶۴ میلادي کال د بیروت چاپ، تفسیر کبیر ۹ ټوک.۶۶ مخ
[60]. تفسیر مظهری. ۲ ټوک. ۱۵۳ مخ. د هندوستان د ډهلي چاپ.

## دویم مبحث: د شورا په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث

د شورا د اهمیت او څرنګوالي په هکله د رسول الله احادیث شته دي چې په لاندې ډول لیکل کیږي:

**عن علی رضی الله عنه قال قلت یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ان نزل بنا امر لیس فیه بیان امر و لا نهی فما تأمرونی؟ قال شاوروا فیه الفقهاء العابدین و لا تمضوا فیه رای خاصه.** ژباړه: [سیدنا علی رضی الله عنه پوښتنه وکړه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم که چیرې زموږ تر منځ داسې کومه موضوع را پیدا شي چې د هغې په هکله نه امر وي او نه نهی؟ نو د داسې پیښې په هکله تاسو څه فرمایئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې په دې اړه د عابدینو او دیانت لرونکو فقهاو سره مشوره وکړئ او ځانګړې رای اختیار نه کړئ!

د سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنه د همداسې سوال په ځواب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: **تجعلونه شوری بین العابدین من المؤمنین برأی خاصه.** ژباړه: [دا معامله د عابدو مسلمانانو شوری ته حواله کړئ او ځانګړې پریکړه مه کوئ]

**عن ابي هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کانت امراء کم خیارکم و اغنیاء کم سمحاء کم و امورکم شوری بینکم فظهر الارض خیرلکم من بطنها و اذا کانت امراء کم شرارکم و اغنیاءکم بخلاءکم و امورکم الی نساءکم فبطن الارض خیرلکم من ظهرها.** ژباړه: [کله چې ستاسې حکمرانان ستاسې د ښو خلکو څخه وي ستاسې دولتمند او شتمن خلک سخیان او ستاسې چارې د مشورې په اساس مخته ځي نو د ځمکې مخ تاسې ته د ځمکې د ګېډې نه بهتر دی، خو که ستاسې حکمرانان ستاسې د بدترینو خلکو څخه وي او ستاسې دولتمند خلک بخیلان وي او ستاسې چارې د ښځو په غاړه وي (اصل پریکړه د هغوی په لاس کې وي) نو بیا د ځمکې ګېډه د هغې تر مخ تاسې ته بهتره ده]

په دې حدیث شریف کې یې د آرام ژوند د ترسره کولو له پاره درې شیان ډېر ارزښتناک ښوولي دي او هم دغه درې شیان د اسلامي ریاست او صالحې ټولنې بنسټیز شرطونه دي:

۱.صالح قیادت ۲.د غریبانو کفالت ۳. شورائیت

عن عایشة رضی الله عنها قالت مارئیت رجلا اکثر استشارة للرجال من رسول الله صلی الله علیه وسلم [سیدنا عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایي چې ما داسې څوک نه دی لیدلی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیات د خلکو سره مشوره کوونکی اوسي]

**عن سهل بن سعد الساعدي رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ما شقی عبد قط بمشورة و ما سعد باستغناء رای.** ژباړه: [رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي چې مشوره

کوونکی سړی هیڅکله د حق څخه نه بې برخې کیږي او خپله رای خوښوونکي او پوره شمیرونکی، خپل غرضی سړی هیڅکله سعید (نیک بخت ) نه ګرځي] یعنې ملکویت او آمریت د شقاوت او بد نصیبۍ لاره ده او شورائیت د سعادت او خوش نصیبۍ لاره ده.

عن ابي هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه و سلم المستشار مؤتمن [د چار څخه چې مشوره اخیستل کیږي هغه باید معتمد او باوري سړی وي] د شوری غړی باید هغه څوک وي چې د هغه په دیانت او امانت باندې اعتماد او باور موجود وي، ځکه چې مشوره ورکول یو ډول امانت دی او په مشوره ورکونکي باندې فرض دی چې په هغه کې خیانت و نه کړي او د پوره غور او تعمق نه وروسته د پوره دیانت او پوره ایمانداری سره صحیح رایې ورکړي.

**عن ابي هريره رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من استشاره اخوة المسلم فاشار علیه بغیر رشد فقد خانه و من افتی بغیر ثبت فاثمه علی من افتاه** . ژباړه: [د چا څخه چې د هغه مسلمان ورور مشوره و غواړي او هغه ورته د حق په خلاف مشوره ورکړي نو هغه د خپل ورور سره خیانت کړی او کوم مفتي چې د تحقیق پرته فتوی ورکړه نو ګناه به د فتوی ورکوونکي په غاړه وي] امام محمد بن اسماعیل بخاري، امام ابو داود او امام ترمذي رحمة الله علیهم په خپلو کتابونو کې د مشورې د اهمیت او ضرورت د ثابتولو په خاطر ځانګړي ابواب قائم کړي دي.

د امام بخاري رحمة الله علیه د قایم کړي باب عنوان دا دی: **باب قول الله و امرهم شوری بینهم و شاورهم فی الامر و ان المشاوره قبل العزم و التبین لقوله فاذا عزمت فتوکل علی الله فاذا عزم رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن لبشر التقدم علی الله و رسوله.** ژباړه: [مشوره د پریکړې او د حق د واضح کېدو ترمخه کیږي کله به چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د مشورې وروسته او یا د وحی په اساس کومه پرېکړه وکړه نو بیا هېڅ یو بشر ته د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه و سلم څخه د ترمخه کېدو حق نه شته] . جلال الدین سیوطي[61] رحمة الله علیه چې په ۹۱۱ هجري قمري کال کې مړ شوی دی په ( الخصائص الکبری ) کې یو ځانګړی فصل ترتیب کړی چې عنوان یې دی: باب اختصاصة بوجوب المشاوره [د مشورې وجوب د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ځانګړتیاو څخه و] د دې باب نه مقصد دا دی چې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې په غیر منصوص امورو کې د خپلو اصحابو سره مشوره کول واجب او دا د هغه امتیازي خصوصیت و ، د دې باب د ثبوت لپاره ډېر روایتونه را نقل شوي دي.

د تېرو شوو انبیاوو وروسته به نور پیغمبران او رسولان هم راتلل، نو په دې خاطر په هغې وختونو کې د مشورې اخیستو ته دومره اهمیت نه وو ورکړل شوی، خو څرنګه چې د محمد

---

61. جلال الدين عبدالرحمن بن أبی بكر بن محمد ابن سابق الدين الحضيرى السيوطی، مشهور په جلال الدين السيوطی. د مصر په قاهره کې په ۸۴۹ هـ ق کې زیږېدلی دی. نوموړی امام، حافظ، مفسر، مؤرخ، ادیب او د شافعي فقهې فقیه و. نوموړي د ابن الکتب لقب ګټلی و. دی د درالمنثور مشهور تفسیر مفسر و، او د قرآنی علومو په هکله یې د الأتقان فی علوم القران په نوم یو جامع کتاب لیکلی دی. هغه په ۹۱۱ هـ ق کې په قاهره کې وفات شویدی.

رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه وروسته هیڅ پیغمبر نه شي راتلای، نو په دې خاطر هغه ته د د خپلو اصحابه رضی الله عنهم سره د مشورې کولو لپاره تأکید و شو، تر څو راتلونکی امت د ده په اسوه حسنه باندې عمل وکړي او د ور پېښو شوو معاملو په هکله د فقهاو، عابدینو د مشورې او اجتهاد په واسطه حکم معلوم کړي.

## دريم مبحث: په نبوي دور کې د شورا تاريخي غونډې

**معاذ ابن جبل رض د رسول الله څخه روايت نقل کړيدی چې:**

**انی فبما لم يوح الی کاحدکم**[62]. ژباړه: **[په کومو چارو کې چې وحی نه راغلې نو په هغوی کې زه ستاسې په شان يو انسان يم].**

**امام جصاص رحمة الله عليه چې په ۳۷۰ هـ ق کې کال کې مړ شويدی، ويلي دي چې:**

رسول الله ص ته د مشورې حکم د هغو ديني امورو په هکله ورکړل شوی و، چې د هغو په هکله د الله ج له طرفه روښانه لارښوونه نه وه شوې، او په هغو دنيوي او انتظامي امور کې هم ورته د مشورې حکم شوی و، چې د هغه په بنياد په رأی او غالب ګومان ولاړ وي، رسول الله ص به د هرې غيرمنصوصې او مهمې معاملې په هکله مشوره کوله که څه هم هغه امور ديني احکامو پورې تړلي وو، جنګ پورې اړوند وو، او يا يې رسمي معاملاتو پورې اړه درلوده، دلته د نمونې په توګه اته تاريخي پيښې وړاندې کوو، چې په دوی کې داسې بيلګې شته چې ورڅخه دا په ډاګه کيږي چې رسول الله ص د شوری د رأی په مقابل کې خپله رأيه پريښې ده:

## لومړی مطلب: د اذان شورا (۱ هـ ق کال)

د انس ابن مالک رضی الله عنه او ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دي چې د مدني دور په لومړيو وختونو کې خلکو د لمانځه وختونه د خپل فکر مطابق ټاکل. يوه ورځ د دې لپاره مشوره وشوه، ځينو د يهودو د بوق وړانديز وکړ او ځينو نورو د نصاراو د ناقوص پيشنهاد وکړ، خو سيدنا عمر رضی الله عنه دا پيشنهاد وکړ چې يو کس دې وټاکل شي چې د لمانځه په وخت کې خلک په لوړ غږ سره را وبولي، هماغه و چې په همدې پيشنهاد پريکړه وشوه او رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې کار لپاره سيدنا بلال رضی الله عنه وټاکه، بلال رضی الله عنه په لوړ آواز خلکو ته (الصلوة جامعه[63]) يعنې [اې خلکو ! د جمعې لمونځ تيار دی) ويل، خو وروسته عبدالله بن زيد رضی الله عنه د اذان دا مروجه کلمات د چا څخه واوريدل، نو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم بلال رضی الله عنه ته په هماغو کليماتو د اذان کول حکم وکړ، چې وحی يې هم په تائيد کې راغله.

ابن حجر عسقلاني[64] رضی الله عنه فرمايي چې: **مبدا الاذان کان عن مشوره اوقعها النبي صلی الله عليه وسلم بين اصحابه حتی استقر برؤيا بعضهم و فيه مشروعيه التشاور في الامور المهمه.** ژباړه:

---

62. مجمع الزوائد. ۹ ټوک. ۴۶ مخ (المناقب).

63. صحيح البخاری. بدء الاذان. لومړی ټوک. ۸۵ مخ.

64. ابن حجر عسقلاني، شهاب الدين ابوالفضل احمد بن علی بن محمد بن محمد بن علی بن احمد بن محمود بن احمد حجر عسقلانی کنانی مصری چې د حديث او شافعي فقه لوی عالم، مؤرخ او شاعر تير شويدی، هغه د حافظ العصر، شيخ الاسلام، او په احاديثو کې اميرالمؤمنين په توګه ياد شويدی، له څو تنو پرته نور ټول د ده په لوی توب او پوهې باندې شاهدي ورکوي، د سخاوي په وينا ابن حجر د نومړي د کوم نيکه نوم و، ابن حجر په قاهره کې د نيل سيند په غاړه دارالنحاس ته نژدې پيدا شويدی.

[اذان په مشورې سره شروع شوی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو رضی الله عنهم سره کړې وه، وروسته بیا د ځینو صحابو د خوب په واسطه مروجه اذان وټاکل شو] دا دحدیث د دې خبرې دلیل دی چې په مهمو خبرو کې مشوره کول شرعي طریقه ده.

## دویم مطلب: د بدر کبری شورا (۲ هـ ق کال)

**حدثنا ابوبکر بن ابي شيبة حدثنا عفان حدثنا حماد بن سلمة عن ثابت عن انس ان رسول الله صلى الله عليه وسلم شاور حين بلغه اقبال ابي سفيان قال فتكلم ابو بكر فاعرض عنه ثم تكلم عمر فاعرض عنه فقام سعد بن عبادة ايانا تريد يا رسول الله والذی نفسی بيده لو امرتنا ان نخيضها البحر لاخضناها و لو امرتنا ان نضرب اكبادها الی برک الغماد لفعلنا قال فندب رسول الله صلى الله عليه وسلم الناس فانطلقوا حتى نزلوا بدرا و وردت عليهم روايا قريش و فيهم غلام اسود لبني الحجاج فأخذوه فكان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يسالونه عن ابي سفيان و اصحابه فيقول مالي علم يابي سفيان و لكن هذا ابوجهل و عتبة و شيبة و امية بن خلف فاذا قال ذالک ضربوه فقال نعم انا اخبركم هذا ابو سفيان فاذا تركوه فسألوه فقال مالي يابي سفيان علم و لكن هذا ابي جهل و عتبة و شيبة و امية بن خلف في الناس فاذا قال هذا في الناس ايضا ضربوه و رسول الله صلى الله عليه وسلم قائم يصلي فلما رأى ذالک انصرف قال ولذی نفسي بيده لتضربوه اذا صدقكم و تتركوه اذا كذبوكم قال فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم هذا مصرع فلان قال و يضع يده على الارض هاهنا هاهنا فما ماط احدهم عن موضع يد رسول الله صلى الله عليه وسلم.**[65]

ژباړه: [انس ابن مالک رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر د غزا په وخت کې (په لاره کې) د خپلو اصحابو رضي الله عنهم سره مشوره وکړه، سیدنا ابوبکر رضی الله عنه او سیدنا عمر رضی الله عنه خپله رایه ښکاره کړه مګره هغه د انصارو د رایو د معلومولو په خاطر چپ ناست و، نو په دې وخت کې سعد بن عباده انصاري رضی الله عنه پورته شو او ویې ویل: که چیرې ته حکم وکړې نو موږ به دریاب کې ټوپ وهلو ته او د برک الغماد (یمن) پورې د خپلو آسونو زغلولو ته تیار یو، د دې خبرې د اورېدو وروسته د تلو حکم وشو او فوځ د بدر په ځای کې خپلې مورچې سمبال کړې]

امام نووي[66] رحمة الله علیه فرمايي: و فيه استشارة الاصحاب و اهل ارای و الخبره [د دې نه دا ثابتیږي چې ملګرو او د رای د خاوندانو او پوهو خلکو څخه مشوره اخیستل سنت دي] د شوری

[65]. فتح الباری. بدء الاذان. ۲ ټوک. ۲۱۹ مخ

[66]. أبو ذکريا يحيى بن شرف النووی مشهور په امام نووی په ۶۳۱ هـ ق کې په سوریه کې زیږیدلی دی. نوموړی د شافعي مذهب مشهور مجتهد او محدث دی. هغه د حدیثو، سیرت النبي، او فقهې په برخه کې ډیر کتابونه تألیف کړیدي، او هیڅکله یې واده ونکړ. د هغه مشهور کتابونه اربعین نووی، ریاض الصالحین، منهاج الطالبین دي. نوموړی په ۶۷۶ هـ ق کې په سوریه کې وفات شویدی.

د دې غونډې د ګډون کوونکو صحابو رضي الله عنهم ویناوې د سیرت په ټولو کتابونو کې موجودې دي.

## دریم مطلب: د بدر د بندیانو په هکله شورا ( ۳ هـ ق کال )

د بدر د بندیانو په هکله رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله د صحابو سره مشوره وکړه او ورته یې وویل چې د بندیانو په هکله ستاسو نظر څه دی؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل: چې فدیه ترې واخلئ او پرېږدئ یې، خو سیدنا عمر رضی الله عنه وویل چې زما نظر خو دا دی چې د هغوی څټونه ور پرې کړو، ځکه دا خلک د کفر ایمامان او د دښمن سرداران دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوبکر رضی الله عنه د رایې مطابق له هغوی څخه فدیه واخیسته او خوشي یې کړل.

ابن کثیر رحمة الله علیه له مسند احمد څخه دا حدیث په ډېر تفصیل را روایت کړی دی، چې په هغه کې دا الفاظ هم راغلي دي: **ناس یاخذ بقول ابي بکر رضي الله عنه و ناس یاخذ بقول عمر رضی الله عنه** [ ځینو خلکو د ابوبکر رضی الله عنه د خبرې تائید وکړه ځینې نورو د سیدنا عمر رضي الله عنه د خبرې تائید وکړ، لیکن وروسته د سیدنا عمر رضی الله د خبرې پا تائید کې آیت هم را نازل شو]

## څلورم مطلب: د احد شوری ( ۳ هـ ق کال )

د احد د غزا په وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نظر دا و چې د ښار په داخل کې مورچې جوړې کړي او د ځینې مشرانو صحابو رضی الله عنهم رأیه هم همدا سې وه، خو د ځوانانو رای دا وه چې د باندې ووځي او په ډګر کې د دښمن مقابله وکړي، نو هماغه وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې رایې پر ځای د هغوی پر رأیه پریکړه وکړه او د احد د غره په لمنه کې یې د جنګ محاذ جوړ کړ. [67]

## پنځم مطلب: د خندق شورا ( ۵ هـ ق کال )

د خندق( احزابو ) د غزا په وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم شوری را وغوښته تر څو په دې خبره رایه او مشوره سره وکړي چې آیا د مدینې د باندې ووځو او د جنګ محاذ جوړ کړو یا د ښار په داخل کې مورچې جوړې کړو؟ سلمان فارسي رضی الله عنه د خندق د ویستلو مشوره ورکړه او د مسلمانانو دا نظر خوښ شو، نو هماغه و چې په همدې نظر باندې د عمل کولو حکم صادر شو.

[67]. صحیح بخاری. تعلیقا الاعتصام. باب امرهم شوری بینهم. ۲ توک. ۱۰۹۵ مخ. طبقات ابن سعد. ۲ توک ۳۸ مخ. ابن هشام ۳-۴ توک.۶۳ مخ

## شپږم مطلب: د خندق شورا د روغې جوړې لپاره (۵ هـ ق کال)

د خندق د غزا په وخت کې د مسلمانانو محاصره ورځ په ورځ ټینګیده، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د بنوغطفان مشرانو عینیه بن حصن او حارث بن عوف سره د مدینې د باغونو د دریمې برخې د میوې په ورکولو د مصلحت او روغې جوړې خبرې وکړې، تر څو دا دواړه سرداران د قریشو د ملاتړ څخه لاس واخلي، د محمد صلی الله علیه و سلم نظر همدا وو چې روغه جوړه دې وشي، خو د آخري پریکړې تر مخه مشوره اخیستل ضرور و ګڼل شول، د انصارو د مشرانو څخه سعد بن معاذ رضی الله عنه او سعد بن عباده رضی الله عنه وویل چې که چیرې دا د الله جل جلاله حکم وي نو مونږه منلی دی او که چیرې ته د نبي صلی الله علیه و سلم په حیث د خپل حکم مطابق دا پریکړه کوې نو بیا هم زموږ قبوله ده، خو که چیرې حکم نه وي نو بیا موږ دې روغې جوړې ته تیار نه یو. رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وویل: که چیرې دا د الله حکم وای نو ما له تاسو سره بیا مشوره نه کوله، نو هماغه وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلې رایې پر نسبت د شورې رایې ته ترجیح ورکړه او د روغې جوړې د خبرو څخه تېر شو.[68]

## اووم مطلب: د افک په هکله شورا [۲ هـ ق کال]

د بنو المصطلق د غزا د سفر په وخت کې د منافقینو مشر عبدالله بن ابی بن سلول، پر ام المؤمنین سیدنا عایشة رضی الله عنها باندې تهمت ولګاوه، چې په مدینه منوره کې دې تهمت او پروپاګندې د طوفان شکل ونیو، رسول الله صلی الله علیه و سلم د اسامه بن زید رضی الله عنه او سیدنا علي رضی الله عنه سره د ام المؤمنین څخه د بېلیدو په هکله مشوره وکړه، او بیا جومات ته ولاړ او په لویه غونډه کې یې وویل: «ایې مسلمانانو! څوک به ما معذور وګڼي، که چیرې زه د هغه سړي په خلاف څه اقدام وکړم، چې د هغې څخه ما ته تکلیف را رسیدلی دی! زما د ښځې په هکله! په الله جل جلاله قسم چې ما ته زما د ښځې په هکله له خیر پرته نور څه نه دي معلوم!» خو وروسته د النور سورت را نازل شو چې پکې د سیدنا عایشة رضی الله عنها پاکوالی بیان شوی و او په دې توګه تهمت جوړونکي د سختې ناکامۍ سره مخ شول.

## اتم مطلب: د حدیبیې شورا (۲ هـ ق کال)

د حدیبیې د غزا په وخت کې کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم غدیر الاشطاط ته ورسید، نو د مسلمانانو خبري ځانګې هغه ته اطلاع ورکړه، چې د مکې قریشو خپل نږدې قبایل را ټول کړي دي او غواړي چې تا بیت الله ته د تللو څخه منع کړي، په دې وخت کې هغه و فرمایل: «ای مسلمانانو! ما ته مشوره راکړئ چې اوس باید کوم اقدام وشي، آیا دا غوره ده چې د قریشو د دې دوستانو احابیشو په کورو دې حمله وشي؟» ابوبکر رضی الله عنه رای ورکړه چې تاسې د

---

[68]. ابن سعد. ۲ ټوک. ۶۹ مخ. ابن هشام ۳-۴ ټوک. ۲۲۳ مخ- الکامل ابن الاثیر ۲ ټوک ۱۸۱. مخ الحلبیه. ۲ ټوک. ۶۴۰ مخ.

کعبې ( بیت الله ) زیارت کولو په خاطر راغلي یاست، نو د همدې غرض په خاطر مخکې ولاړ شئ، هر څوک چې زموږ مخه و نیسي نو موږ به د هغه سره جنګیږو ، خو وروسته صلح وشوه.[69]

---

[69]. صحیح بخاری. المغازی. غزوه الحدیبیه. ۲ ټوک. ۶۰۰ مخ.

## څلورم مبحث؛ د شورا د غړو صفات:

د شورا د مجلس په اړه اصلي خبره دا ده چې آيا د شورا د غړو ته هم ځينې صفتونه ضروري دي او که يه؟ په دې تړاو مخکې موږ يادونه وکړه چې د خليفه ټاکل د اهل حل او عقد له خوا کيږي او همدا اهل حل او عقد به د شورا غړيتوب لري، له دې پخپله څرګنده شوه چې د اهل حل او عقد شورا کې هر معلوم او نامعلوم تن ګډون نشي کولی، د دوی د پاره هرو مرو بايد څه صفتونه و ټاکل شي چې ځينې به بيخي بديهي بڼه ولري، د بيلګې په ډول د شورا غړی بايد د حکومت او رياست د معاملاتو پوهه او بصيرت ولري، بايد امانت پاله او ديندار وي او د نورو صفتونو لپاره شريعت کوم ځانګړي شرطونه نه دي ايښي بلکې دا يې د هرې زمانې د حالاتو سره سم د هغې زمانې هوښيارانو او د پوهې څښتنانو ته پريښي دي. د اهل حل او عقد کلمه پخپله ښيي چې بايد داسې خلک وي چې د دوی په هوښيارتيا، امانت پالنه او دينداری باندې په ټوليزه توګه د امت باور وي.[70] په قبائلي ژوند کې به چې داسې خلک ټاکل کېدل د هغوی د ټاکلو دپاره د کومو ځانګړو قوانينو اړتيا نه وه، خو په اوس وخت کې هغه حالات نه دي پاتې، له همدې امله نن د داسې خلکو د ټاکلو دپاره ځانګړې ټاکنې ته اړتيا ده، د دې خلکو غوره کول به د رايو پر بنسټ کيږي يا د دوی د ټاکلو دپاره د ټاکنو کومه ځانګړې اداره ( Electoral College ) وي. په دې هکله هم شريعت کوم ټاکلي او دائمي شرطونه ندي ايښي؛ که په يو هېواد کې د تعليم او پوهې کچه لوړه وه نو د رايې ورکولو پر بنسټ هم د دوی ټاکنه کېدلای شي او که د ولس حالاتو ته په کتنې سره دا مناسبه و ګڼل شي چې پوړۍ په پوړۍ ټاکنې دې وشي؛ نو په دې اړه هم د شريعت له پلوه داسې کوم بنديز نه تر سترګو کيږي.

د شورا د غړيتوب لپاره هر سړی هلې ځلې کوي، هر قومي او سياسي منتقد ددې هيله او غوښتنه لري چې په شورا کې غړيتوب واخلي، خو حکومت بايد د دوی د غړيتوب لپاره يو لړ شرايط وټاکي، ترڅو شورا ته د هر سړي د ننوتو مخنيوی وشي، او هغوی شورا ته لار پيدا کړي چې د شورا لايق او مستحق وي، او په شرايطو يې پوره وي، د شورا د غړو صفات ډير دي، خو ما يې دلته يو څو راخيستي دي چې په لاندې ډول دي:[71]

1- د شورا غړي بايد د پوهې او زيرکتيا څخه برخمن وي.
2- د شورا غړي بايد امين وي، خاين نه وي؛
3- د شورا غړي بايد صادقه وي؛
4- د شورا غړي خپلمنځي حسادت او رقابت ونلري؛
5- د شورا غړي د نفسي غوښتنو تابع نه وي؛

---

[70]. اسلام او سياسي اندونه، مفتي محمد تقي عثماني. ژباړه: مولوي نورالله عزام. ۳۰۲ مخ

[71]. (عبدالحميد اسماعيل الانصارى، الشورى و اثرها فى لاديموقراطيه. المكتبة العصريه، بيروت، ۱۳۳ مخ).

6- د چا په هکله چې شورا کېږي د شورا غړي ورسره مخالفت، خصومت او عداوت ونلري؛

7- د شورا غړي په اړونده موضوع کې تجربه ولري؛ او د بشپړ بصیرت خاوندان وي.

## پنځم مبحث؛ د شورا اساسي اهداف:

د یادونې وړ ده چې د شورا اهداف ډېر دي، اسلامي حکومت نشي کولی چې د مسلمانانو د سم استازیتوب لپاره په یو وخت د شورا ټول اهداف تعقیب کړي، بلکې مهم اهدافو د لاسته راوړلو لپاره باید د شورا تأسیس ته کار ووایي. د شورا مهم اهداف په لاندې ډول دي:[72]

- د اهل خبره خلکو په نظریاتو ځان پوه کول، ددې لپاره ترڅو هغه نظر او رأیه لاسته راوړل شي چې حق ته ډېره نژدې وي.
- مونږ له قراني آیاتونو څخه د شورا عظمت او فضیلت پیدا کولی شي او شریعت په شورا ډېر ټینګار کړیدی.
- په مشوره کې خیر او برکت دی.
- مشوره د استبداد مخنیوی کوي؛
- محمد رسول الله به له خپلو ملګرو سره ډېرې مشورې کولې؛
- محمد ص وایي چې الله تعالی زما د امت لپاره شورا او مشوره کول رحمت ګرځولی او څوک مشوره وکړي هغه هیڅکله لاره نه ورکه کوي؛
- په مشوره کې کامیابي، وحدت، او اخوت نغښتی دی؛
- چا چې مشوره وکړه هغه به هیڅکله پښېمانه نشي؛
- شورا د انساني فطرت غوښتنه ده؛
- کله چې حاکم په کومه موضوع کې مشوره وکړي هغه پریکړه بیا د حاکم نه بلکې د رعیت تصمیم ګرځي.

72. (عبدالحمید اسماعیل الانصاری، الشوری و اثرها فی لادیموقراطیه. المکتبة العصریه، بیروت، ۱۳۱ مخ).

شپږم مبحث: د شورا صلاحیتونه

په دې لړ کې مهمه مسئله دا ده چې په حکومتي چارو کې د شورا څومره ځای او څومره صلاحیتونه لري؟ او د شورا خبره منل پر پاچا لازم دي او کنه؟ که داسې وشي چې په کومه پېښه کې د شورا پر یوه خبره اتفاق راشي او د امیر رایه د هغې د پرېکړې سره ټکر ولري؛ نو په داسې وخت کې به د شورا فیصله منل کېږي او که به امیر د خپلې پرېکړې پلې کولو اجازه لري، دا وروستۍ مسئله تر نورو هغو هم مهمه ده.

په عامه توګه فقهاوو او هغو عالمانو چې پر اسلامي سیاست یې کتابونه لیکلي دا رایه غوره بللې چې د شورا موخه دا نه ده چې فیصله به یې د امیر لپاره واجب الاطاعت وي، بلکې د شورا اصلي موخه دا ده چې له اهل رایه خلکو سره د مشورې په پایله کې امیر یا پاچا ته د موضوع ټول اړخونه معلوم شي او چېرې په یوه زاویه کې یوازې پاتې نه شي، که نوموړی له چا سره مشوره و نه کړي، شونې ده د موضوع کوم لوری د ده په ذهن کې رانشي؛ خو په مشورې کولو سره د پېښې ټول اړخونه څېړل کېږي او څرګندېږي او که یوه موضوع بیلابیل اړخونه او احتمالات ولري په شورا کې هغه موضوع له خپلو دلائلو سره تر بحث لاندې نېول کېږي او په اړه یې په اسانه توګه پرېکړې کولو ته لار هوارېږي.

خو د موضوع ټولو اړخونو تر څېړلو وروسته به وروستۍ پرېکړه پخپله پاچا کوي، له همدې امله زیاتره فقهاوو دا ښه ګڼلې ده چې پر امیر د شورا خبره منل لازم نه دي، د ټولو رایو او وړاندیزونو تر وړاندې کېدو وروسته چې کوم دریځ غواړي غوره کولی یې شي، که هغه د شورا د یو څو غړو رایه وي او یا په شورا کې د یوه تن هم نه وي؛ خو د باوري او سهي دلیل له مخې یې پاچا غوره وګڼي. په دې اړه علماء د قران کریم له دې ایت څخه استدلال کوي. چې « **وَ شَاوِرۡهُمۡ فِی الۡاَمۡرِ فَاِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَکَّلۡ عَلَی اللّٰہِ**». ژباړه: او ته له دوی (مسلمانانو ) سره مشوره کوه او بیا چې دې په څه اراده ټینګه شوه نو پر الله توکل کوه.

دوی وایي الله تعالی په دې عزم کې دا قید نه دی لګولی چې له مشورې سره سم عزم وکړه بلکې له دې دا څرګندېږي چې کومه لار دې خپله کړه؛ نو بیا پر الله تعالی بروسه کوه او د خپل عزم سره سم عمل کوه ان شاء الله چې الله تعالی به دا فیصله په خیر تمامه کړي.

دغه رازه فقهاء د رسول الله صلی الله علیه و سلم او راشدینو خلفاوو پر عمل هم استدلال کوي، ډېر ځلې داسې شوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او یا کوم راشد خلیفه په خپل وخت کې د اکثریت رایې پر خلاف پریکړې کړې دي. د بیلګې په ډول کله چې د بدر په جګړه کې بندیان ونیول شول؛ نو د زیاتره صحابه وو مشوره دا وه چې دوی دې ووژل شي، د ځینو روایتونو له مخې د عمر رضی الله عنه او عبدالله بن رواحه رضی الله عنه رایه دا وه چې دوی دې ووژل شي او عبدالله ابن رواحه خو لا دا وړاندیز هم وکړ چې دوی دې و سوځول شي؛ خو ابوبکر رضی الله عنه

د بنديانو څخه د فديې اخيستلو او پرېښودلو رايه وړاندې کړه او نورو صحابه وو ځينو د حضرت عمر رضی الله عنه د رايې تائيد وکړ او ځينو بيا د عبدالله ابن رواحه او ځينو نورو بيا د ابوبکر صديق رضی الله عنه تاييد کړه.[73]

دلته داسې څرګنديږي چې دوه ثلثه صحابه له بنديانو د فديې اخيستلو ملاتړ نه کوي؛ خو رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو نورو کمو صحابه وو رايه غوره کړه او د هغوی له رايې سره سم يې پرېکړه وکړه. که څه هم وروسته په قران کريم د دې پريکړې په باب خبرداری ورکړل شو؛ خو هغه د دې پر بنا نه وو چې د اکثريت رايه ولې نه منئ بلکې په دې اساس وه چې خپله الله تعالی ته دا خوښه نه وه چې بنديان دې پريښودل شي.

دغه راز ابوبکر صديق رضی الله عنه چې کله د اسامه بن زيد رضی الله عنه د لښکر په اړه پريکړه کوله په ښکاره د اکثريت صحابه وو له رايې سره موافقه نه وه. پېښه داسې وه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د روم تر ولکې لاندې ځينو قبايلو د ځپلو لپاره يو لښکر تيار کړ او د لښکر مشر يې اسامه بن زيد وټاکه چې هغه مهال نو موړی ډېر کم عمره او تنکی ځوان و او په دې لښکر کې د عمر رضی الله عنه په ګډون ګڼ مشران صحابه هم وو، لښکر لا د مدينې څېرمه سيمو کې وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، له دې وروسته چې کله ابوبکر صديق رضی الله عنه د مسلمانانو خليفه شو؛ نو اسامه رضی الله عنه فکر وکړ چې دا ډېر نازک حالت دی، د اسلام دښمنان غواړي له موکې څخه په ګټه پر مسلمانانو بريد ونه وکړي نو په داسې وخت کې له مدينې د مشرانو صحابه وو وتل به ښه نه وي.

ځکه که دښمن مدينه له مشرانو صحابه وو خالي وويني؛ نو دا موکه به د ځان لپاره غنيمت و ګڼي، په لښکر کې چې کوم انصار صحابه وو د هغوی هم همدا رايه وه، نو عمر رضی الله عنه يې ابوبکر رضی الله عنه ته د دې خبرې د منلو لپاره ور و استاوه چې د لښکر بېرته را ګرځيدو اجازه وکړي او انصارو صحابه وو دا هم وويل که ابوبکر صديق رضی الله عنه د دې خبرې منلو ته تيار نه وي؛ نو بيا دې د اسامه پر ځای کوم مشر او تجربه کار صحابي و ټاکي، خو کله چې عمر رضی الله عنه دا خبره عمر رضی الله عنه ته وکړه؛

نو هغه ډېر خواشينی شو او ويې ويل: « **لو خطفتني الكلاب و الذئاب لم ارد قضاء قضى به رسول الله صلى الله عليه و سلم** » . ژباړه: که ما سپي او لېوان هم وخوري زه به هغه فيصله رد نه کړم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کړې وه. حضرت عمر رضی الله عنه دو همه خبره ورته وړاندې کړه چې دې خلکو تا ته دا پيغام را ليږلی چې يو مشر تن د لښکر مشر وټاکه، په دې سره ابوبکر رضی الله عنه نور هم خواشينی شو او په يوه روايت کې دي چې حضرت عمر رضی الله عنه يې له ږيرې

[73]. الدرالمنثور:ج ۴: مخ ۸۸. د مسند احمد په حواله

ونیو او ورته يې وويل: استعمله رسول الله صلى الله عليه وسلم و تأمرني ان انزعه. ژباړه: هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم امیر ټاکلی او ته ما ته وایې چې ګوښه یې کړه !؟[74]

نو د زیاترو صحابه وو د رایې بر عکس لښکر د اسامه بن زید رضی الله عنه په مشرۍ د رومیانو په لور روان شو، ابوبکر رضی الله عنه په خپله د اسامه رضی الله عنه د مخه ښې لپاره ور سره را ووت او د هغه د آس واګي يې ونیولې او په همدې وخت کې يې اسامه رضی الله عنه ته وویل: که ته عمر د پاتې کېدو اجازه ورکوې؛ نو دی به زما سره پاتې شي، اسامه رضی الله عنه همدا سې وکړل پایله دا شوه چې مسلمانان له روم نه فاتح را ستانه شول او په دا سې نازکو حالاتو کې د لښکر لېږدولو د خلکو په زړونو کې رعب او ډار واچو. تاریخونو لیکلي چې د روم پاچا هرقل ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مړینې او د روم په یوه برخه د مسلمانانو د برید خبر دواړه په یوه وخت ور ورسېدل؛ نو و یې ویل: **ما بال هؤلاء القوم يموت صاحبها ثم اغارو على ارضنا.** ژباړه: دا څنګه خلک دي چې مشر یې مري او دوی بیا هم زموږ پر خاوره بریدونه کوي.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر وفات وروسته ځینو خلکو له زکات ورکولو انکار وکړ نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه له هغوی سره د جهاد اعلان وکړ. پر دې کار زیاتره صحابي نا خوښي وو آن حضرت عمر رضی الله عنه هم د دې رایې ملاتړ نه کاوه، نوموړي ویل چې په داسې حالاتو کې د دې خلکو پر ضد لښکر لېږدول د وخت غوښتنه نه ده؛ خو ابوبکر رضی الله دې کار ته کلکه ملا وتړله او ویې ویل زه به هرو مرو دا کار کوم او خپله پریکړه یې نافذه کړه. هغه مهال ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه ته ویلي وو چې: « **جبار في الجاهلية خوار في الاسلام**» ژباړه: ته خو په جاهلیت کې ډېر سخت وې چې مسلمان شوې نو بې زړه شوې !؟[75]

او حضرت عمر رضی الله د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا جمله د هغه غوره والي د پاره را نقل کوله او ویل به يې: د ابوبکر د ژوند یوه شپه او یوه ورځ د عمر تر ټول ژوند غوره ده. یوه د هجرت شپه او بله هغه چې ما ته یې همدا خبره کړې وه.

نو هغه عالمان چې خلیفه د شورا د رایې پابند نه بولي وایي چې له دې ټولو پېښو دا څرګندېږي چې خلیفه د شورا د رایې پابند نه دی، بلکې هغه د قوي دلیل پابند دی؛ له همدې امله د ټولو اړخونو تر څېړلو وروسته خلیفه کولی شي کوم ځانګړی موقف اختیار کړي.

خو ځینې نور عالمان بیا وایي چې د سورت ال عمران په تېر آیت کې چې خلیفه ته د مشورې کوم حکم شوی دی د دې ګټه دا ده چې که د شورا غړي پر یوه موضوع متفق شي؛ نو خلیفه د هغوی مخالفت نشي کولای او د دې خبرې تائید هغه حدیث هم کوي چې د حضرت علي رضی الله عنه را نقل شوی دی او امام ابن کثیر د همدې ایت په تفسیر کې د امام ابن مردویه په حواله په دې

74. تاریخ طبری: ج ۲. مخ ۲۴۶
75. تاریخ الاسلامی للذهبی. ۳ج. ۲ مخ.

ټکو را نقل کړی دی. « **سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن العزم . قال مشاورة أهل الرأى.**[76]
ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د عزم په اړه وپوښتل شول، هغه ورته وویل: د اهل رایه خلکو سره مشوره او بیا د هغې پیروي کول. او دا د هغه ایت تفسیر دی چې مخکې تېر شو.

اوس که دا روایت صحیح وي، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تفسیر سره سم په دې ایت کې د عزم معنا دا شوه چې له اهل رایه سره مشوره کول او بیا د هغوی مشوره منل په دې سره دا هم څرګندیږي چې له مشورې وروسته د عزم امر یوازینی معنا دا نه ده چې له مشورې وروسته خلیفه د مشورې پر خلاف یوازې پر خپله رایه عمل وکړي بلکې له دې دا هم څرګندیږي چې له مشورې سره سم دې عمل وشي او که د حضرت علي رضی الله عنه روایت سند سهي ثابت شو؛ نو بیا یې یواځې د همدې معنا تعین کیدلای شي. دغه راز په دې ځای کې ابن کثیر رحمه الله د مسند احمد په حواله د عبدالرحمن ابن غنم هغه روایت هم را نقل کړی چې مخکې تېر شو په هغه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته ویلي وو: لو اجتمعتما في مشورة ما خالفتكما. ژباړه: که تاسې دواړه په یوه مشوره متفق شئ نو زه به مو مخالفت و نه کړم.

د دې تر څنګ د همدې علماوو یو استدلال دا هم دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو ځایونو کې د صحابه وو اکثریت رایې ته په کتنې سره له خپلې رایې تېر شوی دی او د دوی رایه یې د دې لپاره غوره کړې چې په دې سره امت ته تعلیم ورکړي چې باید د شورا د رایې قدر وشي؛ نو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشورې دومره قدر کوي نور خلک باید تر دې هم ارزښت او پاملرنه ورته وکړي. د احد غزا پر وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خوښوله چې د جګړې لپاره بهر ووځي، د هغه شخصي رایه دا وه چې په ښار کې دننه د دښمن مقابله وشي. په دې اړه د ابن هشام په سیرت کې داسې راغلي: « كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يكره الخروج» ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه نه ګڼله چې له ښاره بهر ووځي. خو کومو صحابه وو چې د بدر په غزا کې ګډون نه و کړی هغوی د جهاد ډېر شوق درلود، د زیاتره صحابه وو دا رایه وه چې له دښمن سره له ښاره بهر مقابله وشي؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی په رایه عمل وکړ.

همدا رنګه دا علماء د میمون ابن مهران رحمه الله په روایت هم استدلال کوي، نومو ړي په یو اوږد حدیث کې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کړنلاره بیانوي، د روایت په پای کې وایي چې کله به داسې پېښه مخ ته راغله چې په اړه یې په قرآن او حدیث کې څه نه وو راغلي، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه به څه کول؟ په دې اړه دی وایي: « **جمع رؤوس الناس و خيارهم، فاستشارهم، فأذا اجتمع رأيهم على أمر قضى به**» ژباړه: هغه (ابوبکر) به مخور او غوره خلک را ټول کړل او مشوره به یې ورسره وکړه نو چې هغوی به پر کومه خبره سلا شول هغه به د ده وروستۍ پرېکړه وه.

---

[76]. تفسیر ابن کثیر: ج ۲. مخ ۱۵۰

له دې رايې څرګندېږي چې ابوبکر صديق به د شورا پر متفقه رايه عمل کاوه، او تر کومه چې د اسامه رضی الله عنه لښکر يا د زکات سرغړوونکو پېښې دي، هلته چې څه وشول هغه داسې نه دي چې د شورا د فيصلې خلاف کار و، په حقيقت کې دا هر څه د مشورې يوه برخه وه، معنا دا چې په شورا کې هر چا خپلې خپلې رايې وړاندې کړې او بيا ابوبکر رضی الله عنه خپله رايه بيان کړه او کله چې دی په خپله خبره ټينګ شو چې دا رايه غوره ده، نو له دې وروسته د نورو صحابه وو رايه هم بدله شوه داسې نه وو چې نورو د نومورې رايه ناسمه وګڼله، بلکې کله چې نومورې خپله رايه په پوره ځواک سره وړاندې کړه؛ نو په دې سره د نورو صحابه وو رايې هم بدلې شوې.

حضرت عمر رضی الله عنه د زکات نه ورکونکو سره د ابوبکر د جهاد اعلان په اړه وايي: « **فوالله ماهو الا أن قد شرح الله صدر أبي بكر فعرفت انه الحق**».[77] ژباړه: په خدای قسم دا هغه څه وو چې خدای پاک د ابوبکر په زړه کې اچولي وو؛ نو زه پوه شوم چې همدا رېښتونې پرېکړه ده. نو کومه فيصله چې شوې وه هغه د شورا د رايې پر خلاف نه وه. داسې نه وه چې ابوبکر رضی الله عنه کومه فېصله وکړه شورا پر هغې ډاډه نه وه، د رايو اختلاف د شورا پر مهال و، وروسته چې کله ابوبکر رضی الله عنه پر خپله خبره ټينګار وکړ؛ نو د نورو صحابه وو رايې هم بدلې شوې، له همدې کبله دا پېښه د دې خبرې په دليل کې نشي وړاندې کېدلای چې امير ته د شورا د متفقې پرېکړې پر خلا ف د عمل کولو حق حاصل دی.

نو دا چې پر امير د شورا پرېکړه منل لازم دي او که يه؟ په دې اړه دا دوه بېلابېل دريځونه موجود دي او له دواړه سره دليلونه شته، خو زما په نظر سهي رايه د لومړنۍ ډلې علماوو ده، مطلب دا چې امير د شورا د پريکړې پابند نه دی ځکه چې د (شورا ) يا (مشوره ) کلمو معنا په خپله پر دې دلالت کوي چې پر مشوره اخيستونکي د مشير خبره منل لازم نه دي او مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله وايي: دا داسې خبره ده چې د بريرې رضی الله عنها په څېر مينځه هم پرې پوهېدله، کله چې هغې ته د آزادۍ له امله دا اختيار حاصل شو چې له خپل خاوند سره نکاح په خپل حال پرېږدي او که بيلتون غوره کړي نو رسول الله صلی الله عليه و سلم هغې ته مشوره ورکړه چې نکاح دې پر خپل حال وساتي، هغې وپوښتل: ( اتأمرنی؟ ) آيا ته ما ته امر کوې؟ د دې څخه د هغې موخه دا وه چې که امر را ته کوې، نو په دواړو سترګو يې منم او که مشوره وي؛ نو زه اختيار لرم، رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وويل: ( انما أنا شافع ) زه يوازې سپارښت کوونکی يم. بريرې رضی الله عنه وويل: (لا حاجة لي فيه ) زه هغه ته اړتيا نه لرم، معنا دا چې زه ستا مشوره يا سپارښت نه منم او د دې پر نه منلو رسول الله صلی الله عليه و سلم څه ونه ويل.[78]

نو معلومه شوه د مشورې طبعي غوښتنه دا ده چې پر مشوره کوونکي يې منل لازم نه دي او په قرآن کريم کې امير ته د مشورې حکم شوی دی. نو اصل حکم بايد داسې وي چې د شورا رايه دې

[77]. سنن الدارمی. مقدمه. باب انقياد و مافيها من الشدة حديث ۱۶۳.

[78]. صحيح البخاری. کتاب الطلاق. باب شفاعة النبی صلی الله عليه و سلم. زوج بريرة حديث نمبر ۵۲۸۳.

د مشورې په درجه کې وساتل شي او له دې وروسته دې امیر د دلائلو په رڼا کې پرېکړه وکړي او ځرګنده ده چې دا خبره د هغه ولسمشر په اړه نه ده چې د اهلیت صفتونو په پام کې نیولو پرته یوازې په انتخاباتو کې د زیاتو رایو د ګټلو پر بنسټ واک ته رسېدلی وي، بلکې دا خبره د هغه چا په اړه کیږي چې په ټاکلو کې یې تر ټولو د مخه د اهلیت ټول صفتونه په پام کې ونیول شي ، ځکه چې موږ دلته د اسلامي خلیفه په اړه بحث کوو د کوم سیکولر جمهوري ولسمشر خبره نه کوو. دلته درې ټکي په پام کې نیول ډېر اړین دي، لومړی دا چې د واک هغه اختیار چې واکمن کولی شي د شورا د پریکړې پر خلاف څه وکړي یوازې هغه واکمن ته حاصل دی چې تېر ټول صفتونه پکې وي او د ټول امت اهل حل او عقد یې وټاکي او دوی ومني چې نوموړی د داسې پریکړو صلاحیت لري.

دوهم دا چې خلیفه باید د پاچا په څېر مطلق العنان واکمن نه وي چې یوازې د ده ژبه قانون وي بلکې نوموړی به د ( ان الحکم الالله ) تر قانون لاندې حکومتي چارې پر مخ بیایي، نو ځکه به لومړی د قران او سنت او اجماع پابند وي، کومه پریکړه چې کوي له مخکې نه وربانديې دا بندیز پلي کیږي چې د قرآن او سنت خلاف کار به نه کوي او په دې کې دا خبره هم شامله ده چې بشپړ انصاف به کوي او که داسې ونه کړي، نو لومړی خو د الله تعالی په معصیت کې د هغه امر د منلو وړ نه دی چې له همدې امله قضا کولی شي دی ګوښه کړي او که بیا هم په سهي لاره نه درومي؛ نو د فسق ارتکاب له امله هم د ګوښه کولو وړ ګرځي. نو د شورا د نه پابندي معنا به دا نه وي چې امیر د بې پولې اختیاراتو څښتن شو او مطلق العنا پاچا شو بلکې دی به بیا د هم د قرآن او سنت د احکامو پابند وي او که له دې سرغړونه وکړي نو قضا کولی شي ګواښنه ورته وکړي او یا یې له واکه وغورځوي.

اوس نو د شورا کار یوازې د مباح کارونو په دایره کې پاتې شو ، په دې دایره کې که امیر د شورا له ټولو غړو سره مشوره وکړي او د حالاتو په وړاندې کوم ځانګړی دریځ غوره کړي؛ نو ده ته مطلق العنان واکمن نه ویل کیږي چې په ماضي کې تېر شوي دي.

دریم دا چې پر امیر فرض دي، هرومرو به له شورا سره مشوره کوي او د شورا په مجلس کې به پخپله موجود وي تر څو پرته له اړخ پلوي ټولې رایې په خپله واوري، دا خبره سهي نه ده چې شورا ناسته وي او امیر صیب نا درکه وي او چې کله د شورا رایه راشي نو پرته له دې چې دی پخپله د ټولو دلائل واوري د دې پر خلاف پرېکړه وکړي.

نو پورتنیو ټکو ته په پام هغه امیر چې د ټولو ضروري صفاتو څښتن وي د شورا خلاف پریکړه کولو حق هم ورته حاصل دی، هو ! په ځینو حالاتو کې شونې ده امیر یا خلیفه په ځانګړې دائره کې بند کړل شي. د دې یو لامل دا دی چې نن په نړۍ کې داسې مشر نشته چې د مشرتابه د اهلیت ټول صفتونه ور پکې وي دا ځکه چې د وخت او حالاتو د بدلون له امله په ځینو شرائطو کې نرمي کول اړین وي لکه مخکې مو چې وویل د عادل پاچا تعریف وختونو او حالاتو ته په پام سره

بدلیږي، تر دې چې متأخرینو علماوو دومره آسانه کړې چې: « من غلبت حسناته سیئاته» عادل هغه دی چې نیکي یې د بدیو په پرتله زیاتې وي، دا په حقیقت کې د وخت او حالاتو سره جوړجاړی دی.

یو مهال علماوو د ګواه لپاره ګڼ شمېر سخت شرطونه ایښي و چې د ټولو شرعي فرائضو پابندي به کوي او له هر ډول منکراتو به ځان ساتي؛ خو چې کله امام ابو یوسف[79] رحمه الله قاضي شو؛ نو هغه وویل چې اوس داسې ګواه موندل ډېر ګران دي چې د ګواهۍ ټول شرطونه دې پکې پوره وي؛ نو که ګواه فاسق هم وي ؛ خو چې دروند او مخور سړی وي د هغه ګواهي معتبره ده، نو فقهاوو کله هم له حقایقو سترګې نه دي پټې کړي؛ بلکې د وخت له غوښتنو او اړتیاوو سره سم یې خلکو ته دین رسولی، متقدمینو د امام یا خلیفه لپاره دا شرط ضروري ګرځولی و چې باید یو اځې عالم نه وي بلکې مجتهد به هم وي؛ خو نن د مجتهد موندل ناشونی دی، له همدې امله په دې شرط کې نرمي وشوه، اوس که د ټیټې رتبې یو تن امیر و تاکل شي او دومره لوړ مقام ورکړل شي لکه د راشدینو خلفاوو چې و؛ نو رښتیا هم چې دا د فکر وړ خبره ده. نو که په اوسنیو حالاتو کې د هغې ډلې خبره و منل شي چې داسې امیر د شورا خبره نشي ردولای ښایي دا رایه به غوره وي. په هغه وخت کې چې د ریښتوني امیر موندل شوني وو، په هغه وخت کې د پاچا خبره منل لازم ګڼل کېدل، ځکه چې په امیر کې ټول شرطونه موجود وو، د هغه پر دینداری، امانت، تقوا، علم، تجربې او نورو ټولو صفتونو باندې بشپړ باور کېدلی شو، خو چې هغسې امیر نه موندل کیږي؛ نو په داسې حالت کې که امیر تر یوه حده د شورا پابند کړل شي؛ نو دا به غوره وي؛ او دا په ځانګړي ډول د هغه روایتونو سره سمون خوري چې ما یې مخکې یادونه وکړه.[80]

د امیر د پابند کولو ښه لاره دا ده چې ټولې حکومتي چارې په دوه ډوله وویشل شي، یو ډول هغه چارې چې د عام قانون په بڼه وي او دوهم ډول اجرائي او تنفیذي نوعیت لرونکې چارې دي، تر کومه چې د قانوني حیثیت لرونکو چارو پورې تړاو لري د هغو په اړه دا خبره روښانه ده چې په اسلامي واکمنۍ کې هیڅوک داسې قانون نشي جوړولی چې د شریعت سره ټکر ولري، خو د مباح کارونو په دائره کې قانون سازي کېدلی شي او په همدې قانون سازي کې دا هم کیدلی شي چې امیر د شورا پابند کړل شي؛ خو که په ټولو اجرائیه چارو کې واکمن د شورا پابند کړل شي او پر هغه دا شرط کېښودل شي چې له هر اقدام څخه وړاندې له شورا منظوري واخلي؛ نو د حکومت چارې پر مخ نشي تللای، له همدې امله په داسې اجرایي چارو کې دې په هغه خبره عمل وکړل شي چې امیر یې اختیار لري.

79. قاضي ابو یوسف، یعقوب بن ابراهیم بن سعد بن بجیر انصاری، مشهور په ابو یوسف، د حنفي فقهې له بنسټ ایښودونکو څخه شمیرل کیږي، هغه په ۱۱۳ هـ ق کې په کوفه ښار کې زیږېدلی دی. په عباسي واکمنۍ کې د امام ابوحنیفه او د بغداد قاضي زده کوونکی و، وروسته له کوفې څخه بغداد ته راغی، او هلته قاضي شو، هغه لومړنی شخص و چې په اسلامي تمدن کې یې د قاضي القضأت لقب خپل کړ، هغه څخه را پاتې آثار او کتابونه پدې دول دي: الآثار، اختلاف ابی حنیفه و ابن ابی لیلی، الخراج، الرد علی سیر الاوزاعی، ادب القاضي. نوموړی په ۱۸۲ هـ ق کې په بغداد کې وفات شویدی.

80. اسلام او سیاسي اندونه. عثماني. محمد تقی. ژباړه: مولوي نورالله عزام. ۲۹۲ مخ.

## اووم مبحث: د ریاست مشر حق نلري د شورا رأیه رد کړي

ځیني خلک پدې ناپوهۍ کې واقع دي چې امیر المؤمنین ته دا حق ورکړل شویدی چې د شورا رأیه او پریکړه رد کړي چې دا کار د شرعي د اصولو مطلق خلاف دی.

**"امرهم شوری بینهم"** د تفسیر په اړه چې د تفسیر د پوهانو او صالحینو سلفو رحمة الله علیهم کومې ویناوې چې مخکې نقل شوېدي په هغې کې دا خبره په ځرګنده بیان شوېده چې د ځانګړې رأيې په مقابل کې د شورې د پریکړې پابیندي او منل واجب دي، او شورا منل یو لازم اتباع قانون دی، د سیدنا علي رض او سیدنا ابن عباس رض د روایتونو له مخې سیدنا رسول الله ص د فقهاؤ او عابدینو څخه د مشورې اخیستلو حکم کړیدی، او د ځانګړې رأيې د اختیارولو څخه یې منع کړېده، **ولا تمضوا فیه رأی خاص ولا تقضو نه برأی خاصه؛** د راشدینو خلفاؤ د سنت ذکر هم شویدی چې د **رؤس الناس او خیارالناس او الامناء؛** [د ولس غوره استازو پریکړې به یې عملي کولې، د مملکت او خلافت اساسي توپیر همدا دی چې خلیفه د شورې پابیند وي، او پاچا د شورا پابیندي اړینه نه ګڼي او کنه، مشورې هم پخپله پاچا هم کوي، که د هغه طبیعت یې غواړي مني یې او که نه د ټول قوم متفق نظر هم ردولی شي.

پرته له دې، د ویټو[81] د حق نه ورکولو یو لوی دلیل دا هم دی چې خلیفه د شورا لخوا ټاکل کیږي او د هغه د قوم د وکیل حیثیت لري، چې د هغوی لخوا څخه د ورکړل شو یو صلاحیتونو پر بنسټ د هیواد نظم او امنیت پر مخ وړي. د شورا د پریکړې ردول، د هغه باور د لاسه ورکولو سره برابر دي، کوم چې شورا په ده ترسره کړې وه او د باور او اختیار پرته د هغه، شرعاً د حکومت په منصب نه شي پاتې کیدای.

که چیرې دا غلطه خبره د یوې فرضیې په توګه ومنو چې د ریاست مشر ته د ویټو حق ورکول شي، د دې حق استعمال که شرعاً واجب نه وي نو تر یوې اندازې د یو مباح امر درجه خو به ورته ورکول شوي وي، او د **(اسد الباب الذریعه)** د قاعدې له مخې کله چې یو روا بلکې مستحب کار هم د فساد او خرابۍ د را پیدا کېدو لامل ګرځي، نو د هغه کار به ممنوع کیږي، په رسول الله ص او راشدینو خلفاء رض د مسلمانانو پوره باور و، نو د دې له امله که چیرې هغوی د شورا پریکړه رد کړې هم وي، نو د خلکو دا خبره منله خو په اوسني وخت کې به هغسې واکمن له کومه شي، چې په هغه دې د مسلمانانو باور تر دې اندازې ډیر وي، چې هغه دې د شورا پریکړې د قرآنکریم او نبوي سنت د دلیل پرته د خپلې شخصي رأی له مخې رد کړي، او بیا دې هم هم دا په هماغه ډول باوري او معتمد وي.

---

81. ویټو ردولو او نه منلو ته وایي، د ویټو حق Veto Right یعني د نه منلو او ردولو حق چې د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا پنځه دایمي غړو ته ورکړل شویدی، ترڅو پدې شورا کې د هر هغې مسودې مخنیوی وکړي، چې د دوی په زیان وي. د رسمي اقدام د یو طرفه توقف لپاره ویټو یو قانوني واک دی.

په اوسني وخت کې د خودغرضۍ او ځان غوښتنې ناروغۍ په عامه توګه خپاره شویدي او د اخلاص، د الله ج څخه د ویرې، تواضع او عاجزې صفات کم شویدي، نو پدې وخت کې د واکمنو په لاس ویښو وسله ورکول د ظالمانه نظام دروازه پرانیستل دي، د **۲۰**مې عیسوي پیړۍ او **۱۵**مې هجري پیړۍ واکمنان د راشدینو خلفاؤ سره پرتله کول ډیره ناوړه چاره ده، ځکه چې هغوی ته پخپله رسول ص د جنت زیرۍ ورکړی و، او د راشدین المهدین په لقب یې یاد کړي وو، او ددې وخت ډیر پرهیزګار او عابد شخص هم ددې وسلې د غلط استعمال څخه ځان نشي ساتلی، نو که په اوسني وخت کې د حکومت کوم مشر د شورا د مجلس اتفاقي او اکثریتي پریکړه رد کړي نو د هغې معزولول ضروری دي، ترڅو پورې چې د معزول کېدو توره د هغه په سر سپره وي، نو هغه به هیڅکله د ظلم، استبداد او دیکتاتوري لاره اختیار نه کړي، او د قران او سنتو وروسته به، د ولس استازي په پریکړو باندې مکلف اوسي، ولس به هم په ورین تندي د هغه اطاعت کوي.

قاضي عبدالحق ابن غرناطي رح چې په **۵۴۲** هـ ق کال کې وفات شویدی، ویلي دي:

**الشورا من قواعد الشریعه و عزائم الاحکام من لایستشی راهل العلم والدین عزله واجب هذا ما لا خلاف فیه و قدمدح الله ب المؤمنین و امرهم شوری بینهم.** [82]

ژباړه: شورا د شریعت اساسي قاعده ده، او د لازمي قانون دی، کوم واکمن چې د متدینو علمای کرامو څخه مشوره نه اخلي، د هغه عزل کول واجب دي، پدې برخه کې هیڅوک اختلاف نه لري.

لوی فقیه ابن خویزمنداد رح ویلي دي: [حاکم ته په دیني امورو کې د علم د خاوندانو څخه مشوره اخیستل واجب دي، او په نظامي امورو کې له نظامي کارپوهانو څخه مشوره اخیستل اړین دي. او د ملت د ښېګڼو لپاره د ملت له وکیلانو/استازو (وجوه الناس) څخه مشوره اخیستل په کار دي او د هیواد د ګټو، د پرمختګ او جوړولو په چارو کې د چارواکو او وزیرانو او نورو لاس لاندې مسؤلینو څخه مشوره اخیستل لازم دي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رح ویلي: **لا غنی لو لی الامر عن المشاوره**[83]. ژباړه: واکمنو ته اجازه نشته چې ځان له مشورې څخه مستغني او بې باکه وګڼي.

سید جمال الدین افغاني رح ویلي دي:

هغه ملت چې پخپلو کړو وړو کې د خپلې پریکړې اختیار ونلري او په ولسي چارو او د ملي ښېګڼو په کارونو کې د هغوی مشورې او غوښتنې داخلې نه وي، یا ملت د داسې یو واکمن د لاس لاندې وي، چې د هغه اراده قانون او د هغه غوښتنه د حکومت نظام وي، څه چې غواړي کوي

82. تفسیر قرطبي. ۴ ټوک. ۲۴۹ مخ.
83. السیاسة الشرعیه. ۷ فصل. ۱۵۷ مخ.

یې، او څنګه یې چې زړه غواړي هسې حکم کوي، نو داسې ملت به هیڅکله په یو حال پاتې نه شي، او نه به پرمختګ وکړي.[84]

شیخ محمد عبده ویلي دي: د شریعت له واجباتو څخه شورا یو واجبي امر دی، که مونږ دا حکم په شریعت کې واجب ګرځول شوی پرېږدو، نو مونږ به د ښکاره ګناه مرتکب ګرځېدلي یو، د بغداد د پوهنتون پروفیسور عبدالکریم زیدان وایي؛ کله چې د ریاست مشر د مشاورت حکم ترک کړي، نو هغه د قدرت څخه لرې کول پکار دي، ځکه چې مشورت ددې واقعیت ثرګندونه کوي چې اصل اختیارات د اسلامي ټولنې په لاس کې دي، او د حکومت مشر د ټولنې وکیل دی او استازی دی، نه یو خپل اختیاره او مطلق العنان شخص.

هغه خلک چې امیر ته د ویټو حق ورکوي، هغوی د آل عمران د **۵۹** آیت دلیل نیسي چې پکې ویل شویدي؛ کله چې پریکړې وکړئ نو بیا په الله ج باندې توکل کوئ، دا خلک وایي چې عزمت څخه دا ثرګندیږي، چې د شورا د پریکړې په خلاف پریکړه کول او عزم کول هم روا دي، پداسې حال کې چې ددې آیت مقصد د مشورې څخه وروسته عزم دی.

سیدنا علي رض څخه چا پوښتنه وکړه چې د عزم څخه مقصد څه دي؟ هغه رض وویل:

**مشاوره اهل الرأی ثم اتباعهم،** ژباړه: د رأی له خاوندانو سره مشوره کول او بیا د هغوی د پریکړې متابعت کول. له دې څخه معلومیږي چې عزمت څخه مقصد د شورا د پریکړې په نافذولو کې عزم او توکل دی، نه د هغوی د پریکړې ردول.

دویم دلیل دا وړاندې کیږي چې سیدنا ابوبکر صدیق رض د ذکات د نه ورکولو په خلاف اقدام وکړ او د سیدنا عمر رض او د شورا رأیه یې مسترد کړه، حال دا چې د ابوبکر رض دا اقدام د هغه د ذاتي رأیې پورې تړلی نه و، بلکې د رسول الله ص د حدیث مطابق و، او د حدیث په موجودیت کې د شورای رأی ته کوم قانوني حیثیت نه پاتې کیږي.

امام بخاري رح ویلي دي، چې ابوبکر رض له دې امله مشورې ته پاملرنه ونه کړه چې هغه سره د رسول الله ص پریکړه، د هغه خلکو په هکله د لمانځه او ذکات ترمنځ توپیر راوړی او د دین د احکامو بدلول غواړي، موجود وو.[85]

دریم دلیل دادی چې سیدنا ابوبکر رض د اسامه رض د لښکر روانېدل و نه ځنډول، او مشورې ته یې هیڅ پام ونکړ، پداسې حال کې چې دا پریکړه پخپله رسول الله ص پخپل ژوند کې کړې وه، او د هغې د بدلون واک له هیچا سره نه و، ځکه چې په نبوي دور کې د ثرګندو پریکړو د بدلولو حق شورا ته هم نه دی ورکړل شوی.

---

84. ثلاثه من اعلام الحریه له قدری څخه ۱۳۴ مخ. نظام الحکم فی الشریعه والتاریخ د طافر قاسمی لیکنه. ۷۴ مخ. د ۱۹۷۰ میلادي کال. بیروت چاپ

85. صحیح بخاری. کتاب الاعتصام. ۲ ټوک. ۱۰۹۶ مخ.

## اتم مبحث: د زیاتو رأیو پر بنسټ پریکړه

د شورا د بحث په لړ کې اوس دې ته کتنه کوو چې په شریعت کې زیاتې رایې څه مقام لري؟ معنا دا چې د شورا پریکړه به هغه مهال د منلو وړ وي چې ټول غړي یې یوه خوله وي او که به د زیاتو رایو پر بنسټ پرېکړه کوي. دا خبره به تاسو ته راشي چې په جمهوریت کې د حق او باطل پرېکړه او هر ډول چارې یوازې د زیاتو رایو پر بنسټ پر مخ بېول کیږي، په جرګه کې چې اکثریت خلکو د کوم شي په اړه رایه ورکړه هغه به د منلو وړ وي. د قرآن او حدیث له مخې د حق او باطل په غوره کولو کې د زیاتو رایو هېڅ اهمیت نشته، کله چې یو شی وړاندې کیږي چې دا حق یا حلال دی او یا باطل او حرام دی، نو هغه مهال د زیاتو رایو هېڅ ځای نشته او قرآن کریم همدا اعلان په ځرګندو ټکو کړی، الله تعالی فرمایي: ( **وَ اِن تُطِع اَکثَرَ مَن فِی الاَرضِ یُضِلوُک عَن سَبِیلِ اللّٰه اِن یَتَّبِعُون اِلا الظَن وَ اِن هُمُ اِلا یَخرُصُون)** ژباړه: (او که ته پر ځمکه د اوسېدونکو خلکو پر اکثریت پسې لاړ شې نو هغوی به تا د الله تعالی د لارې بې لارې کړي، هغوی یوازې د ګومان پیروي کوي او د اټکل غشي ولي)

نو معلومه شوه چې د حق او باطل په ټاکلو کې د زیاتو رایو هېڅ اعتبار نشته دلته د سهي دلیل او قرآن او حدیث احکامو ته اعتبار دی، نو په کومو مواردو کې چې د شریعت ځرګند دلیل موجود وي هلته د زیاتو رایو پر بنسټ هېڅ پرېکړه نشي کېدلای.[86] زیاتې رایې دومره بې ارزښته هم نه دي چې شریعت یې په یوه معامله کې هم د اعتبار وړ نه بولي، دوه ځایونه داسې دي چې په ټولیزه توګه پکې زیاتو رایو ته اعتبار ور کول کیږي، یو دا چې کله د یو مباح عمل ډېرې لارې مخې ته راشي او په هغو کې یوه لاره غوره کیږي؛ نو په داسې وخت کې به زیاتو رایو ته ترجیح ورکول کیږي، کومه لار چې د زیاتو رایو پر بنسټ وټاکل شي هغه به غوره کیږي. او د دې دلیل دا دی چې حضرت عمر رضی الله عنه ځان نه وروسته د ځای ناسي د ټاکلو د پاره د لوړ رتبه صحابه وو یو شپږ کسیزه شورا جوړه کړه چې په هغه کې حضرت عثمان، حضرت علي، عبدالرحمن ابن عوف، زبیر او سعد ابن ابي وقاص رضی الله عنهم شامل وو. شورا ته دا دنده ور وسپارل شوه چې ټول دې سره را ټول شي او د راتلونکي دپاره دې خلیفه وټاکي، هغه مهال چې حضرت عمر رضی الله عنه دوی ته لارښوونې کولې نو دا یې هم ورته وویل: که چېرې ستاسې تر منځ اختلاف راغی؛ نو د چا په اړه چې زیاتې رایې ورکړل شوې هغه دې خلیفه وټاکل شي، داسې چې که له شپږ څخه د څلورو رایه وه او د دوو بېله رایه وه؛ نو د څلورو رایه دې ومنل شي. په تاریخ کې شورا ته د هغه لارښوونې په دې الفاظو را نقل شوي دي:(تشاورو في امرکم فان کان اثنان و اثنان فارجعوا في الشوری، و ان کان اربعة و اثنان فخذو صنف الاکثر ) ژباړه: په خپل کار کې مشوره وکړئ، که چېرې دوه یوه لوري ته شول او دوه بل لوري ته (یعنې د دواړو رایې برابرې شوې) نو

---

[86]. قرضاوي. ډاکټر یوسف. دین او سیاست. ژباړه: خلیل الرحمن حنیف. انتشارات اصلاح افکار. د چاپ کال ۱۳۹۱، ۱۴۰ مخ

بیا مشوره وکړئ او که څلور یوه لوري ته او دوه بل لوري ته شول؛ نو په داسې وخت کې بیا زیاتو رایو ته وګورئ او پر هغو عمل وکړئ. په دې مسئله کې حضرت عمر رضی الله عنه زیاتو رایو ته اعتبار ورکړ.

دوهم دا چې په کومو مسئلو کې د مجتهدینو اختلاف وي، هر مجتهد د خپلې رایې سره سم د قرآن او سنت د تشریح په لړ کې خپله خپله رایه وړاندې کړې وي، په داسې ډول مسئلو کې هم وختنا وخته د یو لامل له امله زیاتو رایو ته ترجیح ورکول کیږي، نو په کومه مسئله کې چې ډېر فقهاء پر یوه خبره متفق وي هغه به تر نورو قوي بلل کېږي. ځینو علماوو دا خبره داسې تعبیر کړې چې که څه هم زیاتې رایې په خپله دلیل نشي جوړېدلی خو د دلیل څرګندویې کولی شي، چې په یوه مسئله کې یو شمېر ستر فقهاء چې په پوهې، غوره والي او تقوا کې لوړې رتبې لري ټول یو لوری غوره ګڼي دا د دې څرګندویه ده چې د دوی دلیل قوي دی، خو د دې معنا دا نه ده چې کوم لوري ته مجتهدین زیات وي هغه خبره دې هرو مرو غوره و ګرځول شي، ګڼ شمېر داسې مسئلې دي چې په هغه کې امام ابوحنیفه[87] رحمه الله یوازې دی او نور اکثر مجتهدین بل لور ته دي. خو ما له خپل ګران پلاره اورېدلي وو چې یو ځل شیخ الهند رحمه الله وویل: په کومه مسئله کې چې امام ابو حنیفه رحمه الله د نورو مجتهدینو څخه بېل نظر ولري په هغه ځای کې زما غالب ګمان دا دی چې د امام ابو حنیفه دلیل به ډېر قوي وي ځکه چې د هغه دلیل ډېر قوي نه وای نو له دومره زیات شمېر فقهاوو څخه بېل نه پاتې کېدی. نو په اجتهادي امورو کې زیاتې رایې که څه هم په خپل ذات کې یو حتمي دلیل نه دی خو د دلایلو د تعارض پر وخت ځینې وختونه د یو راجح قول په توګه غوره کېدلی شي.

د پورتنیو لاملونو له مخې د شورا مجلس کې به دا خبره وړاندې کېږي چې د مباحاتو په دائره کې که چېرې په کومه مسئله کې د رایو اختلاف وي هلته به د زیاتو رایو لوری غوره بلل کیږي.

دلته یوه بله خبر هم د یادولو وړ ده چې نن په ځینو مجلسونو کې دا خبره وړاندې کیږي چې په یوه مشوره کې د شورا د غړو اختلاف راشي او په دواړو خواو کې رایې برابرې وي؛ نو د مجلس مشر چې کوم لوري ته وي هغه رایه دې غوره و ګرځول شي. دا خبره د ترجیح رایې (casting vote ) سره هم تعبیریږي، معنا دا چې په دې سره د مجلس مشر د یوې بلې زیاتې رایې حق ورکړ. د دې کړنلارې بنسټ هم د حضرت عمر رضی الله په لارښوونو کې شته، په یو روایت کې دي چې کله نوموړي له ځانه وروسته د خلیفه ټاکلو شپږ کسیزه شورا وټاکله؛ نو هغو ته یې وویل: « و ان اجتمع رأی ثلاثة و ثلاثة فاتبعوا صنف عبد الرحمن ابن عوف» ژباړه: که د دریو کسانو رایې یوې

87. امام ابوحنیفه چې د افغانستان د پروان ولایت په چاریکارو کې په ۸۰ هجري لسیزه کې زیږېدلی دی نوم یې نعمان بن ثابت او کنیه یې ابوحنیفه ده، احناف یې امام اعظم او سراج الائمه لقبونه ورکړي دي، نوموړی فقیه او د حنفي مذهب امام او مؤسس دی، په ۱۵۰ هجري قمري کال کې په بغداد کې وفات شویدی.

خوا ته او د دریو بلې خواته شوې؛ نو بیا د هغو رایو پلوي وکړئ چې عبدالرحمن ابن عوف پکې وي.[88]

دغه راز په شورا کې هغه افراد هم ور ګډ کړل شي چې په مشوره کې ګډون لري خو د رایې د شمېر پر وخت یې رایې نه شمېرل کېږي، دا سې خلکو ته په اوس وخت کې (Non-voting members) ( رایه نه اچوونکي غړي ) وايي، د دې بنسټ هم د حضرت عمر رضی الله عنه په هغو لارښوونو کې شته چې شپږ کسیزه شورا ته یې کړې وې، نوموړي په شورا کې د خپل زوی عبد الله ابن عمر رضی الله عنه د ګډون اجازه هم ورکړې وه، خو د هغې په اړه یې داسې ویلي و: « یشهدکم عبد الله ابن عمر و لیس له من الأمر شیء» عبدالله به هم درسره ګډون کوي، خو په دې معامله کې به د هغه هېڅ اختیار نه وي.

88. قرضاوي. ډاکټر یوسف. دین او سیاست. ژباړه: خلیل الرحمن حنیف. انتشارات اصلاح افکار. ۱۵۴ مخ.

## نهم مبحث: په شورا کې د مېرمنو ګډون

پوښتنه دا ده چې مېرمن کولی شي د شورا ګډون وکړي که څنګه؟ په دې هکله د اوسني پېر عالمان چې پر اسلامي سیاست یې ګڼ شمېر کتابونه لیکلي بېلابېل نظریات لري، یوه ډله عالمان وایي چې مېرمنې کولی شي په شورا کې برخه واخلي، دوی استدلال کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر ځله له مېرمنو سره مشورې کړې دي، په دې تړاو د ام سلمه رضی الله عنها کیسه ډېره یادېږي، د حدیبیې سولې پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه وو ته امر وکړ چې قرباني وکړئ، حلق وکړئ او احرامونه خلاص کړئ، درې ځله اعلان وشي؛ خو هیچا پلي نه کړ، دا یوه غیر عادي پېښه وه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه اشاره سرښندونکي صحابه د هغه د بیا بیا اعلان سره سره دې خبرو منلو ته نه تیارېږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم خیمې ته ننوت او دا خبره یې له ام سلمه رضی الله عنها سره شریکه کړه، هغې مشوره ورکړه چې د دې پر ځای چې ته دوی ته بیا وواېې ښه به دا وي چې لومړی ځل خپل څاروی قرباني کړې او یو تن را وغواړې خپل سره پرې وخریې، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې مشوره عمل وکړ، صحابه وو رضوان الله علیهم چې دا کار ولید؛ نو یو له بل سره و درېدل او قرباني او حلق یې وکړ. که څه هم په دې کیسه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام سلمه رضی الله عنها په خبره عمل وکړ؛ خو له دې دا استدلال کول چې مېرمن دې د شورا مستقل غړیتوب ولري ډېر کمزوری دی. [89]

د دې ډلې دوهم دلیل دا دی چې کله حضرت عمر رضی الله عنه د خلیفه ټاکلو د پاره شپږ کسیزه شورا وټاکله، په هغو کې صحابه وو درې کسانو عبدالرحمن بن عوف، عثمان بن عفان او علي بن ابي طالب رضی الله عنهم ته اختیار ورکړ، ابن عوف وویل: زه خلافت نه کوم او غواړم د عثمان بن عفان او علي رضی الله عنه په اړه پخپله د خلکو رایې معلومې کړم او له هغې وروسته په دوی کې یو تن وټاکم، دا خبره د شورا نورو غړو هم خوښه کړه؛ نو عبدالرحمن ابن عوف درې ورځې وګرځېد تر څو د خلکو رایې معلومې کړي، په دې اړه د تاریخ کتابونه داسې وایي: **ثم نهض عبدالرحمن ابن عوف رضی الله عنه یستبشرالناس فیها و یجمع رأی المسلمین حتی خلص الی النساء المخدرات فی حجابهن.**

ژباړه: بیا عبدالرحمن ابن عوف رضی الله عنه پاڅېد او د دوی دواړو ( عثمان او علی رضی الله عنهما ) په اړه یې له خلکو سره مشورې پیل کړې او د مسلمانانو رایې یې راټولولې تر دې چې له مېرمنو سره یې هم ولیدل چې مخونه یې په پړونو پټ ول.

د دې ډلې عالمانو له نظره چې له مېرمنې رایه اخیستل کېږي؛ نو که هغه په شورا کې غړیتوب وکړي پروا نه لري؛ خو په دې شرط چې بشپړ حجاب به مراعات کوي خو دا استدلال هم ډېر قوي

89. صحیح البخاری. کتاب الشروط. حدیث نمبر ۲۷۳۲.

نه دی ځکه په دې روایت کې دا هم دي چې: **(و حتی سئل الولدان في المکاتب)** (او تردې چې هغه په ښوونځیو کې له ماشومانو هم پوښتنې وکړې) . اوس نو که په دې سره استدلال کېدلی شي؛ نو بیا خو دې د ښوونځي ماشومانو ته هم د غړیتوب حق ورکړل شي، څرګنده ده چې له دې استدلال نشي کېدلی.

بله ډله عالمان بیا په دې باور دي چې مېرمنې ته د شورا غړیتوب ورکول نا روا دی، دوی له هغه حدیث نه استدلال کوي چې مخکې تېر شو، په هغه کې و:« و أمورکم الی نساءکم فبطن الأرض خیر لکم من ظهرها » ژباړه: او چې کله مو خپلې چارې مېرمنو ته وسپارلې؛ نو ستاسې لپاره د ځمکې له مخ نه د ځمکې نس غوره دی. خو له حدیث نه استدلال کول هم تر پوښتنې لاندې دي، ځکه چې په حدیث کې دا کار بد ګڼل شوی دی چې ټولې پریکړې دې مېرمنو ته وسپارل شي او د هغوی رایه وروستۍ پرېکړه و ګرځول شي او په هره معامله کې سړی د مېرمنې تابع و ګرځي. خو له دې نه دا خبره راوېستل سهي نه برېښي چې له هغې نه هېڅ مشوره اخېستل روا نه ده.

لنډه دا چې په دې مسئله کې دواړه خواوې خپل دلائل لري، خو داسې کوم څرګند دلیل هم نشته چې مېرمنې ته دې د شورا غړیتوب نه ورکول کیږي، خوا دا خبره منل شوې چې که مېرمنې ته په شورا کې د ګډون اجازه ورکول کیږي؛ نو شرعي پرده به هرومرو په پام کې نیسي او دا کار د مېرمنې لپاره تر ټولو لومړی او لازم اقدام دی.

## لسم مبحث: په شورا کې د نامسلمانو متنفذینو ګډون

څلورمه مسئله دا ده چې په شورا کې نا مسلمان وګړی هم ګډون کولی شي که څنګه؟ په دې اړه الله تعالی فرمايي: « **يا ايهاالذين آمنو لا تتخذو بطانة من دونكم لا يألونكم خبالا و دو ما عنتم قد بدت البغضاء من افواههم و ما تخفى صدورهم اكبر**» ژباړه: اې مؤمنانو له خپلو( مؤمنانو ) پرته څوک د راز ملګري مه نیسئ دوی د هیڅ فساد او ضرر کمی او سپما درباندې نه کوي، هغه څه کوي چې تاسو پرې کړېږئ، دښمني يې له خولو هم څرګنده شوې خو چې څه يې په سینو کې پټ ساتلي تر دې هم ستر دي.[90]

ځینې عالمان د دې آیت پر بنسټ استدلال کوي چې نامسلمانه خلکو ته د شورا غړیتوب ورکول ناروا دی، خو دا استدلال ډېر څرګند نه دی. مفسرین د دې آیت په تفسیر کې وايي : د دې آیت مطلب دا دی چې کوم کافران له مسلمانانو سره دښمني کوي هغوی په خپلو ځانګړو معاملاتو کې د راز ملګري مه نیسئ. علامه الوسي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې ګڼ روایتونه را نقل کړي دي، په هغو کې دي چې ځینو مسلمانانو به د جاهلیت د پخوانیو ملګرتیاوو له امله له ځینې یهودو سره داسې اړیکې ساتلې چې په هغو سره به د مسلمانانو یو لړ رازونه هم افشا کېدل او له ځینو روایتونو بیا څرګندیږي چې په دې آیت کې مسلمانان له منافقانو سره د راز ملګرتیا څخه منع شوي دي.

او دا خبره بیخي څرګنده ده چې کوم خلک د مسلمانانو دښمنان دي له هغوی سره نه راز شریکول روا دي او نه هم هغوی ته په شورا کې برخه ورکول روا دي. خو هغه کافران چې په اسلامي هېواد کې ژوند کوي او د اسلامي ریاست امن غوښتونکي وي، فقهاوو هغوی ته په شورا کې د ګډون اجازه ورکړې ده. حضرت عمر رضی الله عنه په خپل پېر کې وخت ناوخته ذمیانو ته هم په شورا کې د ګډون بلنه ورکول، او دا خبره امام سرخسي رحمه الله په خپل کتاب کې مبسوط کې را نقل کړې ده. علامه سرخسي رحمه الله د حضرت عمر رضی الله عنه د شورا تر یوې کیسې وروسته وايي: **و فيه دليل على أن لا بأس باحضار بعض اهل الكتاب مجلس الشورى فان النصراني الذى قال ما قاله قدكان حضر مجلس عمر رضى الله عنه للشورى و لم ينكر عليه.**

له دې کیسې معلومیږي چې ځینې اهل کتاب هم شورا ته را غوښتل کېدلی شي، ځکه هغه نصراني چې عمر رضی الله عنه ته يې څه ویلي و، هغه مهال نوموړی په شورا کې ناست و او حضرت عمر رضی الله عنه یې ناسته بده و نه ګڼله.

---

[90]. اسلام او سیاسي اندونه، مفتي محمد تقي عثماني. ژباړه: مولوي نورالله عزام. ۳۰۶ مخ

په ښکاره د ذمیانو د راغوښتلو موخه د هغو مسایلو په اړه څېړنې او بحث کول و چې له دوی سره یې تړاو درلود. له دې یوازې دا معلومیږي چې د مسلمانانو په ټولنیزو کارونو کې به د دوی هېڅ کار نه وي؛ خو په خپله د دوی او مباحو کارونو په اړه که شورا ته را وغوښتل شي او رایه ترې واخیستل شي؛ نو په دې کې کومه ستونزه نشته.

## یوولسم مبحث: د شورا د غړو ځانګړنې

مشوره یو امانت دی لکه څنګه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: المستشار موتمن [د چا څخه چې مشوره اخیستل کیږي هغه معتمد وي] او الله جل جلاله فرمایي چې: **ان الله یامرکم ان تؤدو الامانات الی اهلها (آیة 58 سورة النساء).** [الله جل جلاله تاسو ته حکم کوي چې امانتونه او مسئولیتونه هغه خلکو ته وسپارۍ چې اهل حل وي]

د شورۍ د مجلس غړیتوب داسې یو حق نه دی چې هغه د حقوقو د برابرۍ تر قاعدې لاندې راشي او بې له کوم شرطه هر وګړي ته د شورۍ د غړي کیدو او یا هغه ته د کاندیدو حق ورکړل شي، بلکه دا یو فرض دی چې د شورۍ غړي یې د امت نمایندګانو او وکیلانو په حیث انجاموي، ښکاره ده چې فرض او امانت هر چا ته نه شي ورسپارل کیدای. بلکه هغه ته د اهلیت یو معیار په کار دی، د نمایندګانو د اهلیت او ټاکل کیدو لپاره معیار او شرایط دا دي.

## لومړی مطلب: ایمان

د اسلامي ریاست مجلس شورۍ د ریاست د مشر او د وزیرانو د ټاکلو پرته د اسلامي قوانینو تشریح او تعبیر هم ه غاړه لري، په نوو مسایلو کې به اجتهاد کوي، او د اسلامي نظام د نفاذ له پاره د عملي تدبیرونو نیول هم د دوی دنده تشکیلوي، نو هغه څوک چې بلکل په اسلام باندې عقیده نه لري، هغه ته به دا ارزښتناکه مسئولیت څنګه وسپارل شي؟ ځکه د هر فکري ریاست مسئولین باید د ریاست په بنسټیز فکر باندې پوره یقین ولري، نو له دې امله د مسلمان امت د نماینده لپاره چې هغه په توحید، رسالت، ختم نبوت او د قرآن او سنتو په غوڅو او قاطعو احکامو لرزیدونکی اعتقاد ولري.

## دویم مطلب: فقاهت

د هر ریاست د شورۍ غړو ته لږ تر لږه د هغه ریاست د اساسي قانون په هکله څه معلومات درلودل په کار دي، نو څرنګه چې د اسلامي ریاست اساي قانون قرآن او سنت دي، نو هغه څوک چې د هغه په هکله ابتدايي معلومات هم و نه لري هغه څنګه د دې شورۍ غړی جوړیدی شي؟ د دې امله دې ته اړتیا ده چې د دې شورۍ غړي د کتاب او سنتو او اسلامي تعلیماتو په اړه ژوره پوهه ولري، دا ضرور نه ده چې د کوم دارالعلوم سند دې ولري خو په د ضرورت په اندازه علم او فقاهت درلودل ور باندې لازمي شرط دی. د سورت النساء په ۸۳ آیت کې د اولوالامر صفت په دې توګه بیان شوی دی چې هغه به د اجتهادي بصیرت خاوند وي. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د فقهاوو څخه د مشورې اخیستو حکم کړی دی. راشدینو خلفاو به د علم او پوهې د خاواندانو څخه مشوره اخسته او د سیدنا عمر رضی الله عنه د شورۍ ارکان علماء وو.

## دریم مطلب: عدالت او دیانت

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د «عابدینو» یعنې عبادت کونکو او دیانت لرونکو خلکو څخه د مشورې اخیستو حکم کړیدی، او د شورى غړو ته يې (امنا، موتمن، خیار الناس) غوره خلک ویلي دي، د بله طرفه قران کریم د مسرفینو، مترفینو، فساقو، فجارو د اطاعت څخه منع راوړې ده، د دې دلایلو له مخې ضروري ده چې د شورى غړي د فرائضو پابند او د کبائرو او فواحشو څخه لرې والی وکړي، څرنګه چې فاسق او فاجر سړی قاضي او ګواه نه شي کیدای نو د قانون جوړونکې اداري غړي به څنګه جوړ شي. هغه څوک چې د لمانځه او روژې پابند نه وي په فحاشۍ او اخلاقي جرمونو عادي شوی وي، قاتل او غل وي او په سود، جوارۍ او داسې نورو کبائرو غرق وي نو هغه نه د مسلمانانو معتمد کیدی شي او نه د مخلصانه مشورې اهل دا ډول خلک د خپل غرضۍ، نفس پالنې او خپل پالنې په هکله فکرمند وي، د الله جل جلاله څخه نه ویریدونکو خلکو ته د هیواد واګې سپارل په اصل کې د ځان وژنې او ملت وژنې سره برابر دی. خو په د ې لړ کې د ضرورت نه زیاته څېړنه او پلټنه هم په کار نه ده بلکه هغه خلک چې په خپلو سیمو او منطقو کې په عدالت او دیانت مشهور وي، بد نوم و نه لري، او د منطقې خلک د هغه په پاکوالي ګواهي ورکړې وي نو د دې منصب اهل ګرځیدای شي.

## څلورم مطلب: عقل او بلوغ:

د ماغي مریض او نابالغه په خپل مال کې هم تصرف نه شي کولای. «و لا تؤتو السفهاء اموالکم. آیة 5 سورة النساء» نو د ملي امورو مسئول به څنګه جوړ شي؟ د هغې له پاره دا ضروري ده چې د پوخ ذهن خاوند وي، خپله رای ولري او په معاملو د ذهني پخلنۍ له پاره د لږ تر لږه عمر حد هم ټاکل کیدای شي لکه پنځلس کاله او یا زیات.

## پنځم مطلب: له رواجونو څخه آګاهي:

ابن عابدین شامي او جلال الدین سیوطي رحمة الله علیهما لیکلي دي چې [عرف او رواج په شریعت کې معتبر دي او په غیر منصوصو امورو کې د عرف او عادت (رسم او رواج) په اساس پریکړه کیږي] [91]

ابن قیم رحمة الله لیکي چې [فتوی او پریکړه د هیواد عرف، حالت او عادت د بدلون په اساس بدلیږي][92] هغه څوک چې نه د خلکو د رسم او رواج او عام عرف څخه خبر وي، نه د روانو حالاتو په هکله پوهه لري، او نه په بین المللي چارو کې علم ولري، نو دا د ریاست د قانون او پالیسۍ جوړوونکې مهمې اداري فرائض هم نه شي پوره کولای.

---

[91]. رسائل ابن عابدین شامی رحمه الله. لومړی ټوک. ۴۴ مخ. ۱۹۷۶میلادي کال. پاکستان لاهور چاپ- الاشیاء والنظایر د جلال الدین سیوطي رح. ۲۹ مخ. د ۱۹۵۹ میلادي کال د مصر چاپ.

[92]. اعلام الموقعین. ۳ ټوک. ۶۲ مخ. د ۱۹۶۹ میلادي کال د مصر چاپ.

شپږم مطلب: اعتماد او باور:

په ذکر شويو صفاتو د موصوفو خلکو شمير زرګونو ته رسيږي او د ټولو رايې يو ځای کول سخت کار دی نو لازمه ده چې د ترجيح او غوره والي له پاره اصول او قواعد جوړ شي، هغه اصول داسې کيدای شي چې هغه خلک چې د علم او ديانت په څنګ کې د مسلمانانو د اکثريت معتمد هم وي، نو هغه ته به په پاته خلکو ترجيح ورکولی شي، ښکاره ده چې عرفاء او نقباء هغه خلک کيدای شي چې د اهليت په څنګ کې معتمد هم وي، لکه څنګه چې يو سړي يوائې د اهليت او قابليت له اړخه په خپله د چا وکيل نه شي جوړيدای، تر څو چې موکل پرې اعتماد و نه کړي او خپل وکيل يې و نه ټاکي، په همدې توګه د قوم نقيب او عريف يعنې د قوم نماينده يوائې د ذاتي قابليت په اساس تر هغې پورې د شوری غړی نشي جوړيدای تر څو پورې چې د منطقې د خلکو اعتماد تر لاسه نه کړي، د اعتماد لاس ته راوړل د رايو په واسطه هم کيږي لکه څنګه چې په اوسني وخت کې معمول دی او د وټونو (رايو) پرته هم په عرفي توګه معتمد کيده کافي دي. لکه څنګه چې د راشدينو خلفاو رضی الله عنهم په دوره کې د شوری غړو ته د مسلمانانو له خوا د اعتماد رايه ورکړل شوې وه په خاصه توګه انصار او مهاجرين (السابقون الاولون) عملاً د اسلامي امت نمايندګان وو او هغوی ته په رواجي شکل د انتخاب شوو وګړو څخه زيات د ملت اعتماد ور په برخه و، هلته د وټونو د تکليف ضرورت نه و.

د شوری د مجلس د غړو حيثيت د اولوالامر په څير دی او هغه څوک (اولوالامر) ګرځي چې په خپله مسلمانانو ټاکلی وي. د چا له خوا کانديد نه وي، د «امرهم شوری بينهم» په عمومي اصول کې د شوری د غړو ټاکل هم شامل دي، خو د دې مطلب هيڅکله دا نه دی چې د غير منتخبو خلکو څخه مشوره او رايه اخيستل او يا د هغوی په پيشنهادونو او تبصرو عمل کول روا نه دي، په هر ښه پيشنهاد او مشورې باندې عمل کيدای شي، خو په اصل کې د با اختياره او پاليسی جوړوونکې اداري غړي هغه خلک دي چې د اهليت په څنګ کې يې د مسلمانانو اعتماد هم تر لاسه کړی وي. د پورتنيو ذکر شويو شرايطو څخه درې بنسټيز شرطونه امام ماوردي رحمة الله عليه او قاضي ابويعلي هم ذکر کړي دي. د اهل حل و عقد يعنې د ملت په نمايندګانو کې د دې صفتونو موجوديت لازمي دی:

۱.عدالت او ديانت ۲. علم، فهم او پوهه ۳. په معاملې پوه

امام قرطبي رحمة الله عليه فرمايي چې په ديني او قانوني امورو کې د عالم څخه مشوره اخيستل په کار دي، داسې عالم چې ديانت رونکی هم وي او په دنيوي او انتظامي امورو کې تجربه لرونکي او د رای خاوند هم وي.

## دولسم مبحث: د مجلس شورى لپاره د موديٖ ټاكل

د شورا (پارلمان) لپاره د موديٖ ټاكل نه ممنوع دی، او نه لازم، بلکيٖ د مباحاتو له مصالحو مرسلو څخه دي، په اوسني وخت کيٖ د پارلمانونو لپاره د موديٖ ټاكل يوه معروفه او مروجه طريقه ده چيٖ د امت د مصالحو لپاره ګټوره ده، ځکه چيٖ د نفس د غلبيٖ په اساس په ننني وخت کيٖ د شورا او پارلمان غړو ته د اوږديٖ موديٖ پوريٖ اختيارات ورکول د فساد او خرابۍ لامل ګرځي، کيدای شي چيٖ د پنځو کلونو يا لږيٖ ډيريٖ موديٖ د تجربيٖ څخه ثرګند شي، چيٖ د شورای د موجوده غړو پرته، نور ډير اهل او غوره اشخاص پيدا کيږي، ځکه چيٖ پديٖ موده کيٖ به نوي خلک د ملت مخيٖ ته راشي، او خلکو ته به د راتلوونکيٖ انتخاب په وخت کيٖ د خپليٖ رأييٖ صحيح استعمال او د اهلو او پوهو خلکو د غوره کولو فرصت په لاس ورشي، ددي عمل په واسطه د خلکو په سياسي شعور کيٖ بدلون راځي او د قيادت خلاء هم رامنځته کيږي. دا له ديٖ امله چيٖ نوي اشخاصو نويٖ تجربيٖ ترلاسه کوي، البته څو ځليٖ يو شخص انتخابول، بدوالي نه لري، خو د شورا د غړو د ديانت او صلاحيت د داغداره کيدو په صورت کيٖ د شورا څخه عزل کيدای شي، خو دا پريکړه بايد د کوم داسيٖ قاضي په واسطه وشي، چيٖ هغه د شرعي محکميٖ د قاضي کيدو اهل وي.[93]

[93]. اسلامي سياست. د مولانا ګوهر رحمن کتاب. ژباړه: قريب الرحمن سعيد. پيغام خپرندوی مرکز.

## دیارلسم مبحث: څوک اهل مشوره دي

دا پوښتنه چې څوک باید اهل مشوره وي، او له چا باید مشوره واخیستله شي. ددې لپاره علمای کرامو او فقهاؤ څو ډلې او ځیني وګړي ځانګړي کړیدي چې په ترتیب سره په لاندې ډول لیکل کیږي:

### لومړی مطلب: العرفاء

ښکاره خبره ده چې څو میلیونه مسلمانانو څخه مشوره اخیستل، ممکن نه دي او نه اخیستل کیدای شي او نه یې غونډې ته رابلل شونې دي، له همدې امله د مسلمانانو له باوري او معتمدو نماینده ګانو څخه باید مشوره واخیستل شي، د امت او ملت دغه ډول نماینده ګانو او استازو ته په حدیث شریف کې عرفاء (په ملي چارو پوه مشران) ویل شویدي.

**قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان العرافه حق و لابد للناس من العرفاء ولکن العرفاء فی النار.**[94]

ژباړه: د سیمې استازیتوب حق دی او خلکو ته د استازو ټاکل هم لازمي دی خو خراب او بد نماینده ګان به په جهنم کې وي.

عرفاء د عریف جمع ده چې معنأ یې: **القیم و السید لمعرفته بسیاسه القوم** . ژباړه: (ساتونکي، سرپرست، مشر او منتظم چې د قوم په سیاسي لارو چارو پوه وي. ابو سلیمان خطابی رحمة الله علیه فرمایي چې:

**العریف القیم بامرالقبیله والمحله یلی امورهم و یتعرف الامیر منهم احوالهم.**

عریف هغه چا ته ویل کیږي چې د خپلې قبیلې یا محلي منتظم وي او د هغوی د معاملو مسؤلیت په غاړه ولري، امیر المؤمنین ددې قبیلې او محلي حالات د همدې وګړو په واسطه ځانته معلوموي، لکه شاعر چې وایي: **او کلما وردت عکاظ قبیله بعثوا الی عریفهم یتوسهم.** [95]

[د عکاظ میلې ته چې کله کومه قبیله راځي نو هغه خپل عریف یعني مشر او مسؤل نماینده ماته را استوي، او زه د هغه څخه حالات معلوموم]. په صراح اللغات کې د عریف ژباړه پدې توګه شوېده؛ شناسنده و کارګذار قوم.

د هوازن د بندیانو په هکله د صحیح بخاری روایت چې رسول الله ص د عرفاؤ یعني د مسلمانانو د نماینده ګانو د رأی اخیستلو وروسته ټول بندیان خوشې کړل نو ددې څخه دا معلومیږي چې په هغه وخت کې هم د ملت نماینده ګان موجود وو، چې هر یو یې د خپلې قبیلې متعمد او باوري و.

---

94. سنن ابو داود. دریم ټوک. ۳۴۸ مخ.
95. معالم السنن په حاشیه سنن ابو داود. دریم ټوک ۳۴۷ مخ.

همدغو عرفاؤ ته په نننۍ اصطلاح کې د نماینده ګانو مجلس، شورا یا پارلمان ویل کیږي او امیرالمؤمنین د همدوی څخه د مشورې اخیستلو پابند وي.

## دویم مطلب: نقباء

عرفاء ته نقباء هم ویل کیږي موسی علیه السلام د بنی اسرائیلو لپاره د ولس نقباء ټاکلی و، چې د خپلو قبیلو استازیتوب به یې کول. الله ج فرمایلي دي:

**ولقد أخذ الله میثاق بنی اسرائیل و بعثنا منهم اثنی عشر نقیباً. [المائده سورة ۱۲ آیة]**

ژباړه: [او پرته له شکه چې الله ج د بني اسرائیلو څخه وعده اخیستې وه، او مونږ د هغوی څخه دولس کسه نقیبان (سرداران/استازي) ټاکلي وو. په لیلة العقبه کې کله چې د مدینې انصارو بیعت وکړ او لکه څنګه چې تر مخه حواله ورکړل شوه، رسول الله ص د هغوی څخه هم دولس کسه نقیبان وټاکل. د نقیب معناء هم د عریف په څیر ده.

**والنقیب العریف وهو شاهد القوم و ضمینهم وهو کاالعریف علی القوم المقدم علیهم الذی یعترف اخبارهم و ینقب عن احوالهم ای یفتش.** [96]

ژباړه: نقیب هغه عریف ته ویل کیږي چې د خپل ملت په معاملاتو باندې ګواه او مسئول وي. دا د ملت هغه مشر دی چې د هغوی د حالت څخه پوره خبر وي، او د هغوی د کړو وړو پلټنه او څیړنه کوي.

په صراح الغات کې د نقیب معناً: بهتر و داننده قوم یعني ښه او پوه شخص وي.

**ابو اسحاق او زجاج رحمة الله علیها فرمایلي دي: النقیب فی اللغة کاالامین و الکفیل.** [97]

ژباړه: [نقیب د ملت باوري او مسؤل وګړي ته ویل کیږي.

## دریم مطلب: ملاء القوم

د مفسرینو امام ابن جریر رحمة الله علیه فرمایلي دي: چې د ملاء القوم د پریکړې پابندي په مسلمانانو لازمه ده. ابن منظور رحمة الله علیه ویلي دي: **الملاء الروساء و قیل اشراف القوم و وجوهم و رؤساهم و مقدمو هم الذین یرجع الی اقوالهم.** [98]

ژباړه: د ملاء څخه موخه د قوم مشران او شریف استازي دي، چې قوم رامخته کړې وي او د هغوی د خبرې په لور رجوع کوي.

---

96. لسان العرب. لومړی ټوک. ۷۶۹ مخ.
97. زاد المسیر. د ابن جوزی لیکنه. دویم ټوک ۳۱۱ مخ.
98. لسان العرب. لومړی ټوک. ۱۵۹ مخ.

ځرګنده شوه چې د ملاء القوم څخه مقصد هم لکه د عرفاء او نقباء په څیر د ملت او ولس استازي دي.

## څلورم مطلب: اولو الامر

د اولو الامر په تفسیر کې بیان شویدی چې د اولی الامر په مفهوم کې واکمنان او سیاسي مشران ټول شامل دي، نو له دې امله د امر د خاوندانو اطلاق په ملي او قومي استازو هم کیدای شي.

**ابن کیسان رحمة الله علیه فرمایلي دي: هم اولو العقل و الرأی الذین یدبرون امرالناس.** [99]

ژباړه: د ملت عاقل او پوه خلک د هغه ملت (اولو الامر) دي، او د هغوی په معاملاتو تدبیر کوونکي دي. امام زجاج رحمة الله علیه فرمایلي دي: اولو الامر من یقوم بشان المسلمین فی امر دینهم و جمیع ما ادی الیه صلاحهم. [100]

ژباړه: د اولو الامر څخه موخه هغه خلک دي چې د مسلمانانو د دیني امورو، ګټو او ټولو نیکو کارونو لپاره ملاتړلي ولاړ وي.

له پورتنۍ څیړنې او لوستنې څخه دا ځرګندیږي چې د ولس نماینده ګانو او استازو ته هم (اولی الامر) ویل کیږي، چې د هغو د اطاعت حکم ورکول شویدی، هغه امور چې د څیړنې وړ وي، هغه دې د (اولو الامر) په مخ کې کېښودل شي، ترڅو هغو د اجتهاد او څیړنې او تحقیق وروسته مناسبه پریکړه وکړي، او همدا خلک د پارلمان/شورا غړي هم ګرځي.

## پنځم مطلب: اهل الحل والعقد

د ولس استازو ته د اسلامي پوهانو په عمومي توګه (اهل الحل والعقد) وایي یعني د قوم مسوولین او نماینده ګان چې د خلکو باوري او ډاډمن وګړي وي.

امام رازي رحمة الله علیه ویلي دي:

**المراد بقوله اولی الامر اهل الحل والعقد من الامه.** [101]

ژباړه: د اولی الامر څخه موخه د اسلامي امت اهل حل و عقد (د پریکړې کولو خلک دي).

شیخ محمد عبده (رح) ویلي دي: د هغه اولی الامر څخه چې ذکر یې په قرآن کریم کې شویدی، موخه هغه د رأی او بصیرت خاوندان دي چې د اسلام په اصطلاح کې ورته اهل شورا یا اهل حل و عقد ویل کیږي، دا د ریاست هغه مسؤلین چې نور قومونه ورته نواب الامه [د امت نماینده

---

99. تفسیر قرطبي. پنځم ټوک. ۲۶۰ مخ.
100. تفسیر خازن. لومړی ټوک. ۳۹۷ مخ.
101. تفسیر کبیر. لسم ټوک. ۱۴۴ مخ.

ګان] وایي، او دا ضروري ده چې ټول قانوني انتظامي او سیاسي امور دې همدوی ته په غاړه کې ور واچول شي.[102]

همدا خبره د شیخ محمد عبده شاګرد او د مصر پیاوړی محقق سید رشید رضا په المنار کې لیکلي ده چې [د رأی او بصیرت په خاوندانو مشتمله یوه داسې اداره په کار ده چې د هر ډول ټولنیزو، قانوني او سیاسي چارو پریکړې وکړای شي.

همدغه العرفاء، النقباء، ملاء القوم او اولوالامر او اهل الحل والعقد ته د اوسني وخت په سیاسي اصطلاح کې د ولس استازي (وکیلان)، چارواکي، د قوم نماینده ګان یا د پارلمان غړي ویل کیږي، او په اسلامي اصطلاح کې ورته د شورا د مجلس غړي وایي، د ریاست د مشر ټاکلو څخه نیولې د هرې ارښتناکې معاملې د پریکړې پورې ټول اختیارات او واکونه باید د همدې ادارې سره وي.[103] او دا اداره باید خپلې پریکړې د قرانکریم، حدیث شریف، او د خلفای راشدینو د سنت په رڼا کې ترسره کړي. په غیرمنصوصي امورو کې (مباحات او مصالح) به دې ادارې ته د اجتهاد کولو آزادي موجوده وي، که څه هم هر یو وګړي کولی شي چې مشوره ورکړي، وړاندیز وکړي، نیوکه او اعتراض وکړي البته د هیواد د ملي امورو پریکړې د قوم معتمد او مؤمن عرفاء او نقباء څخه جوړه شوې شورا به کوي، چې د دې پریکړې مکلفیت او اجرأ د ریاست په مشر او یا د حکومت په مشر ضروري ده، مګر دا چې هغه پریکړه د قرانکریم، حدیث شریف او د امت د اجماع خلاف وی، نو پدې صورت د دا ډول پریکړو ردول واجب دي.

---

102. الاسلام والتجدید فی مصر. ۱۶۷ مخ په حواله د کتاب ثلاثه من اعلام الحریه ۱۶۰ مخ.

103. اسلامي سیاست. مولانا ګوهر رحمن. ژباړه: قریب الرحمن سعید. ۳۱۵ مخ.

# څلورم فصل
## د اسلامي شورا او د ډيموکراسۍ پرتله

پدې فصل کې د اسلامي شورا او د غربي ډيموکراسۍ پرتله را منځته شوېده او د دواړو نظامونو تفاوت بيان شويدی، همدارنګه په افغانستان کې د شورا په تاريخي مخينې، همدارنګه د دواړو نظامونو د اشتراک ټکي او د تير جمهوري نظام د پارلمان او ملي شورا په څرنګوالي او احوالو څيړنې او ليکنې ترسره شويدي او د دغو موضوعاتو تفصيل او جوانب په پدې فصل کې په څو مبحثونو کې بيان شويدي:

لومړی مبحث: د ډيموکراسۍ پيژندنه

دويم مبحث: د اسلام د سياسي نظام خصوصيات

دريم مبحث: د اسلام او ډيموکراسۍ پرتله

څلورم مبحث: د تحاکم الطاغوت

پنځم مبحث: شريعت او شارع

شپږم مبحث: په افغانستان کې ملي شورا او شاليد يې

اووم مبحث: د ملي شورا جوړښت

## لومړی مبحث: د ډیموکراسۍ پیژندنه

ډیموکراسي لویدیزه اصطلاح ده، په اسلامي او عربي هېوادونو کې یې هلته بازار تود شو چې دلته حریت، استقلال، شرف، عزت، عدل او انصاف په سترګو نه ښکارېده؛ بلکې جهل، فقر، رنځ، ظلم، فساد، دیکتاتوري، اختلاف او ګډوډي واکمنه وه.

په اوسني وخت کې ځیني وګړي د بشري حقوقو او عدالت د را منځته کولو او د ظلم فساد، جبر او استبداد د پای ته رسولو په تکل دغه شعار زمزمه کوي. په دغه نظام کې د اکثریت خواهش د قانون سرچینه او مطلق حاکمیت د ملت سره وي، هغوی به د هېڅ الهي قانون او نظام تابع نه بلکې قانون به د ولسونو د خواهشاتو تابع وي، د حکومت دنده به د نظام او د سپلین او د ټولنیزو ګټو تحقق وي.

موږ به په دغه برخه کې د ډیموکراسي، پېژندنه، تاریخي شالید، ظروف او مهم خصوصیات د اسلام د سیاسي او ډیموکراټیک نظام لنډه مقایسه، د ډیموکراسۍ د مفهوم بدیل قراني نوم شورئ د ډیموکراسۍ او د اسلام د شورایي نظام د اشتراک ټکي او په ډیموکراتو نظامونو کې د ځینو اسلامي ډلو د مشارکت دلایل وړاندې کړو، نور به نو قضاوت درنو لوستونکو ته پرېږدو.

ډیموکراسي لاتین کلمه ده چې له ډیموس او کراتوس څخه اخیستل شوې، ډیموس خلکو او کراتوس حکومت ته ویل کیږي یعنې د خلکو حکومت په خلکو، دخلکو لپاره او ولسواک حکومت. په ډیموکراسۍ کې د قانون جوړولو، د روا او نارو معیارونه د خلکو تر ارادې او خوښې پورې تړلي وي، دلته لوړ اقتدار او حاکمیت د خلکو حق ګڼل کیږي.[104]

## لومړی مطلب: د ډیموکراسۍ تاریخي مخینه

د ډیموکراسۍ تاریخي مخینه د میلاد نه پنځه پیړۍ د مخه یوناني ملت ته رسیږي چې ارسطو او افلاطون ورته په خپلو کتابونو کې اشاره کړې ده. هلته ولسونو د غلامانو او ښځینه طبقاتو نه پرته د حکومت په چارو او د قوانینو په جوړولو کې نیغ په نیغه د ګډون حق درلود په فرانسه کې په ۱۷۸۹ م کال او په انګلستان، امریکا او نورو اروپایي دولتونو کې یې هم په تدریج سره پراختیا و مونده.[105]

## دویم مطلب: د ډیموکراسۍ د رامنځته کیدو شرایط

لویدیزوال ډیموکراسۍ ته په داسې حالت کې ورسېدل چې هلته مطلق استبداد حاکم ؤ، د قدرت واګې د فیوډالانو او پانګوالو کورنیو سره یوځای په میراثي ډول انتقالېدل، روحاني ځواک یې د پاپ په لاس کې وو، دین یې تغییر کړی ؤ او له خپله ځانه به یې خلکو ته قوانین او لارښوونې

104. د اسلام سیاسي نظام. پوهنوال محمد شریف رحمانی. څلورم فصل. ۲۴ مخ
105. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنایي تشریع او وضعي قوانین. ژباړه: هدایت. عبدالهادي. پیغام نشراتي مرکز. ۲۲۵ مخ.

جوړولې او په پټو سترګو له عقله پرته به يې په خلکو تطبيقول، خلکو ته به يې د جنت ټکټونه ورکول او له عصري علومو او ساينسي پوهانو سره يې په دښمنۍ لاس پورې کړی ؤ، په درې لکو او دېرش زره پوهانو يې د ارتداد او مرګ فتوی صادره کړې وه او اروپايي ملتونه اوږده موده د دوی ظلم او تيري ته لاس تر زنې ناست ؤ، چې په پای کې د فرانسې انقلاب را منځته او د ولسواکۍ د اساس ډبره کېښودل شوه، په دې توګه چې هېڅ يوه کورنۍ او يا ياړکی حق نه لري چې د خپلې خوښې او شخصي اهدافو د پوره کولو لپاره د لکونو انسانانو په برخليک لوبې وکړي، د هر قوم خوښه او رضا دې ټولواکه اوسي. د تمدن، ټولنيزو او سياسي چارو لپاره رښتيني اصول هغه دي چې د قوم د عامه رايو په بنسټ تاييد او يا رد کړی شي. حکومت بايد د ولس په خوښه جوړ او او د ولس د خوښې پابند او ټولې هلې ځلې به يې د قومي غوښتنو د پوره کولو لپاره وي.

## دريم مطلب: د ډيموکراسۍ خصوصيات

- ✓ دلته لوړه سلطه او واک په مطلق ډول په ملت پورې اړه لري.
- ✓ د خلکو اکثريت خوښه د حق او باطل معيار ګڼل کيږي.
- ✓ عقل د قوانينو د جوړولو يواځنۍ مرجع بلل کيږي.

## دویم مبحث: د اسلام د سیاسي نظام خصوصیات

- ✓ سیادت او حاکمیت د الله تعالی دی.
- ✓ د حق او باطل، د روا او ناروا د ټاکلو معیار اسماني وحی تشکیلوي.
- ✓ د قوانینو سرچینه بشري عقل، هوا او هوس نه بلکې اسماني پیغام قران عظیم الشان دی.

که چېرې د انسان عقل د ښو او بدو په انتخاب کې مستقل وای، بیا د پیغمبرانو راتللو، د اسماني پیغامونو نازلېدو ته اړتیا نه پیښېدله. دا چې بشري عقل د ښو او بدو، خیر او شر، روا او ناروا په ټاکنه کې له اشتباه سره مخ کیږي، نو پر دې اساس وحی ته اړتیا لیدل کیږي.

الله تعالی جل جلاله د بشپړ او محیط علم څښتن دی او د خپلو بندګانو د مصلحت او ګټې په خاطر یې خپل اسماني پیغامونه او خپل بشپړ وروستی پیغام قران عظیم الشان را استولی دی. د الله تعالی په حاکمیت، اعلی او لوړ اقتدار د اذان الفاظ (الله اکبر) ستر دلیل دی، په همدې توګه په سورت فاتحه او د قران عظیم الشان په ګڼو سورتونو کې د رب کلمه هم د الله تعالی ستر اقتدار ثابتوي.[106]

د اسلام سیاسي نظام له وحی څخه الهام اخلي، لیکن ډیموکرات مکتب له آسماني وحی څخه نه بلکې د انساني عقل څخه خړوبیږي. ډیموکراتان د انسان عقل د الوهیت تر مقامه رسوي؛ په اسلام کې د عقل چاپېریال د ژوند وسایل دي نه د ژوند مقاصد. ښه او بد، روا او ناروا په داسې حال کې چې الله تعالی انسان ته حواس، عقل او د وحی لارښوونې ورکړې دي مګر لویدیز تمدن او دیموکراتنان په حواسو او عقل تکیه کوي.

قران عظیم الشان، نبوي سنت او د ټول امت اجماع الله تعالی د ټولو کایناتو خالق، مالک، تکویني او تشریعي حاکم بولي او اسلامي عقیده د اسلامي دولت بنسټ او حکومت د ملت امانت او د الله تعالی جل جلاله سپېڅلي قانون ته د پرېکړو او فیصلې واک سپاري چې د شوری له لارې اداره کیږي او هغه څوک به یې پر مخ بیایي چې ولس انتخاب کړی وي، همدارنګ د حکومت هدف د عدل او انصاف ټینګول او د ظلم او زور مخه نیول دي.

106. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنایي تشریع او وضعي قوانین. ژباړه: هدایت. عبدالهادي. پیغام نشراتي مرکز. ۲۲۶ مخ.

## دریم مبحث: د اسلام او ډیموکراسۍ پرتله

د لویدیز ډیموکراسي یو سیاسي سیکولر نظام دی چې د دینوي چارو پسې تعلق نیسي، نه آخرت ته توجه کوي او نه له دین سره کومه اړیکه ساتي. په ډیموکرات نظام کې دین شخصي قضیه او ټول دینونه په یو تول تلل کیږي، د دین کومه برخه چې له ډیموکراسۍ سره ټکر ولري؛ هغه له منځه وړل کیږي البته د اسلام سیاسي نظام د دنیا او اخرت د چارو رهبري تر پوښښ لاندې نیسي.

- ✓ اسلام کامل او بشپړ نظام او تر قیامته پورې د ټولو ملتونو د رهبرۍ صلاحیت له ځانه سره لري او بدلون په کې نه راځي، مګر ډیموکرات نظام تل د بدلون ښکار وي چې د مشترکې جغرافیې او نژاد په بنسټ را منځته کیږي. مګر د اسلام په رڼا کې ملت د هغو افرادو مجموعه ده چې دیني اړیکې یې تنظیموي، قران عظیم الشان فرمایي: « ان هذهء امتکم امة واحده و انا ربکم فاعبدون» الانبیاء
- ✓ په ډیموکراسۍ کې حاکمیت اعلی او لوړه سلطه له ملت او د ملت له منتخبو وکیلانو سره وي، مګر په اسلامي نظام کې لوړ اقتدار او حاکمیت د الله تعالی له سپیڅلي ذات او اسلامي شریعت سره وي، د اسلامي شریعت نه د خلاف په صورت کې د مشرانو اطاعت شتون نه پیدا کوي، په دې هکله د قران عظیم الشان ګڼ نصوص دي چې مونږ د موضوع د اوږدېدلو له کبله ور څخه صرف نظر کړو.[107]
- ✓ ډیموکرات نظام د ولسي جرګې د وکالت لپاره هېڅ معیار په نظر کې نه ساتي هلته دین، عدالت، کفایت، امانت، پوهه او درایت په نظر کې نه نیول کیږي. هلته فاسقان، داړه ماران، غله، خاینان، ناپوهان، قاتلان، د مال او شتو د زر او زور څښتنان د وکالت په ګدۍ تکیه لګوي، مګر د اسلام په سیاسي نظام کې عادلان، پوهان، صالحان او امین خلک د ملي مشرتابه او وکالت وړ ګڼل کیږي.
- ✓ په ډیموکرات نظام کې منتخبې ادارې له شریعت نه پرته په ازادۍ قانون جوړونې لاس پورې کوي. هلته زنا، لواطت، قمار، سود، احتکار او شراب آزاد وي، مګر اسلامي منتخبه اداره د اسلامي قانون پابنده وي، د منتخبو وکیلانو دند د شرعي قوانیونو تفسیر، تحلیل او د تطبیق لپاره یې لارې لټول دي.
- ✓ په ډیموکرات نظام کې خلک د الله تعالی د بندګۍ پر ځای د بندګانو د هوی او هوس او شخصي غوښتنو بندګان جوړیږي.
- ✓ د لویدیز ډیموکرات نظام د قانون جوړولو او لغوه کولو صلاحیت هم لري؛ البته اسلامي مقننه یو ثابت شرعي اصل نشي لغوه کولی. د امریکا متحده ایالاتو یو ځل په شرابو بندیز ولګاوه مګره بېرته یې روا اعلان کړل، همدارنګه یو ځل فرانسې د میراث قانون

---

[107]. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين. ژباړه: هدايت. عبدالهادي. پيغام نشراتي مرکز. ۲۲۷ مخ

لغوه کړ، مګر بېرته يې باطل وګرځاوه، په همدې توګه د سويس ولسي جرګې د ازدواج قانون ملغی کړ مګر بېرته يې نافذ العمل و باله.

- ✓ شوری د الله تعالی حکم او فرمان دی او د وحی له سرچينې څخه څرګندیږي. د مسلمانانو مشران پر دې مکلف دي چې خپلې چارې له مسلمانانو سره شريکې کړي، البته شوری په هغو مسايلو کې صورت نيسي چې شرعي حکم موجود نه وي. د شرعي حکم د موجوديت په صورت کې به يې د تنفيذ او تطبيق لپاره اقدامات ترسره کيږي. حقيقت دا دی چې الله تعالی خپلو بندګانو ته ښه او بد ښودلي دي ځکه چې الله تعالی خالق دی د خپلو د بندګانو په ګټه ښه پوهېده، د دوی د دنيا او اخرت د کاميابۍ لپاره يې ورته نظام را لېږلی ، دغه حقيقت هغې مصنوع ته ورته والی لري چې يوې کارخانې جوړ کړی وي د هغې مصنوع د استعمال حق هم د هماغې کارخانې د انجينر ګڼل کيږي.

نو پر دې اساس د الله تعالی احکام د هر وخت او زمانې د شرايطو سره تر قيامته برابر دي مثال يې د لمرا و د مادې د فزيکي خواصو په څېر دی چې هېڅ بدلون پکې نه راځي.

- ✓ د اسلام شورايي نظام د شريعت د سيادت او حاکميت په رڼا کې پر مخ ځي؛ مګر ديموکراسي د ملت سيادت او حاکميت ته اعتبار ورکوي او الهي قوانينو ته پابنده نه وي د حلالو او حرامو، د روا او ناروا د ټاکنې واکې د ملت خوښې ته محول ګرځوي.

د ديموکراسي بديل قراني مفهوم موږ شوری لرو. زموږ د حکومت د مشرانو صفات، د نظام د چلولو اسلوب، زموږ عقيده، زموږ عبادات، زموږ ټولنيز نظام، زموږ اخلاق، زموږ معاملات، زموږ جګړه او سوله ، د نړۍ وال سياست ارزښتونه او لارښوونې، د قوانينو تصويب ، د احکامو او قوانينو استنباط، حلال او حرام ټول د لويديز له جمهوريت سره فرق لري. د اسلامي شوری او پارلمان غړي د ملت د باور وړ، په ايمان، علم او پوهې سمبال، د اجتهادي بصيرت څښتنان او د شريعت مقاصدو آګاه، د فرايضو پابند او د ګناهونو پاک، د عرف او رواج څخه خبر، په حاضرو حالاتو پوه، د ولسونو د اعتماد وړ او په دارالاسلام کې استوګن او د خارجي تابعيت نه درلودونکي وي.[108]

## لومړی مطلب: د شوری د قانون جوړولو چوکاټ

نن سبا د قانون جوړولو مسؤليت د پارلمان په غاړه دی، له همدې امله ورته د هېواد مقننه ځواک ويل کيږي. د سيکولار او لادينه جمهوريتونو پارلمانونه د هېڅ رنګ قيودو پابند نه وي، د حلالو او حرامو، روا او ناروا د ټاکنې واکې د دوی په لاس کې وي، د دين د واک ساحه انفرادي ژوند او د عبادت خانې چاپېريال بولي؛ مګر د اسلامي حکومت لوړ قانون قران عظيم الشان او

[108]. د اسلام سياسي نظام، محمد شريف رحماني. صفحه ۲۹

نبوي سنت دي، له همدې امله دلته ټول قانون سازي د همدغو دوو اصولو په رڼا کې په لاندې توګه صورت نیسي.

- ✓ د قرانکریم او نبوي سنتو د څرګندو احکامو تشریح او توضیح د ملت د باوري وکیلانو دنده تشکیلوي.
- ✓ د شریعت هغه احکام چې په قران کریم او په نبوي سنتو کې په صراحت سره بیان شوي نه دي بلکې اجتهاد ته په کې ضروت وي په دې کې د یو مذهب پابندي او یا ترجیحي دریځ غوره کول او د محاکمو ته یې استول او پریکړې کول شامل دي.
- ✓ دریيم ډول قانون جوړونه د مباحاتو په هکله وي لکه: د حکومتي مامورینو د معاشاتو ټاکنه، ملي بودیجه، د ښارونو پراختیا، کرنیزه وده، صنعتي او سوداګریز سیاستونه، د برېښنا بندونه، د ځنګلونو جوړونه، ځمکني او هوایي ترانسپورت او داسې نور... دغه چارې لومړی د شریعت او د فن ماهرینو او متخصصینو ته وړاندې کیږي او بیا ولسي جرګې ته د بحث لپاره اقدامات ترسره کیږي.

## دویم مطلب: د اشتراک ټکي

د یموکراسي نظام او اسلامي شوری په لاندې توګه یوشان والی لري؛ مګر په مواصفاتو کې سره بېلیږي.

- ✓ دیموکرات نظام او اسلامي شوری دواړه د بشر په حریت، ازادۍ او د نظر په څرګندولو ټینګار کوي چې د ځمکې پر مخ د هر انسان حق ګڼلی شي؛ مګر د دیموکرات نظام ازادي هېڅ چوکاټ نه لري، البته اسلامي شوری د شرعي چوکاټ څښتنه ده.
- ✓ په دیموکرات او اسلامي نظام دواړو کې ټولټاکنې او ملي مشارکت شتون لري لکه: د ولسمشر انتخاب او د وکیلانو انتخاب.
- ✓ دیموکرات نظام د سیاسي مشرتابه لپاره ټاکنې تر سره کوي، د اسلامي قیادت لپاره هم بیعت شرط دی، مګر غرې دیموکراسي د ولسمشر لپاره هېڅ رنګ مواصفات په نظر کې نه نیسي ؛ البته په اسلام کې د اسلامي دولت ریاست ډېر دروند او لوی امانت دی. لازمه ده چې مشر یې د خپل علم، عمل، عدالت، دیانت، قابلیت او صلاحیت له نظره په ټول ملت کې د اسلام عملي نمونه، د پیاوړي فکر، ځواک او پخې ارادې او عزم څښتن وي. دغه ستر مسؤلیت عادي خلک نه شي په غاړه اخیستی، مګر دا چې د سترو مواصفاتو څښتن وي لکه: ایمان، نارینتوب، عدل او صلاحیت، له ګناهونو څخه سپېڅلتیا درلودل، جسماني او فکري ازادي، د عقل او روغو اندامونو درلودل، د شجاعت، مېړانې، درایت، کفایت، بصیرت، قاطعیت او مواطنت یعنې د دارالاسلام دننه او سېدل او د انتخاب له لارې رامنځته کېدل او داسې نور پکې شامل دي.

- ✓ په ديموکراتي نظام کې د حاکم مسؤليت د ولسي جرګې د اکثريت رايې تر لاسه کول دي؛ مګر په اسلامي شورى کې دليل د اعتبار ور ګڼلى کيږي، د شرعي دليل په وړاندې اکثريت هېڅ معنا نه لري؛ البته په مباحاتو او د ژوند په مسايلو کې چې شرعي دليل پورې اړيکه ونه لري لکه: پلانونه او بوديجه تصويبول، هلته بيا د اکثريت رايه د اعتبار مدار ګڼل کيږي.

## څلورم مبحث: تحاكم إلى الطاغوت

(د معاملاتو او شخړو پريکړه د طاغوت په واسطه)

په قرآن کريم کې په يوه بله توګه هم د خدای د حاکميت ثبوت موجود دی او هغه د طاغوت څخه د انکار حکم د د طاغوت په هکله اته آيتونه راغلي دي نو دلته لو مړی آيتونه رانقلوو او بيا د طاغوت حقيقت را برسيره کوو.

**فمن يكفر بالطاغوت و يؤمن بالله فقد استمسك بالعروة الوثقى لانفصام لها و الله سميع عليم.( د البقره سورت ۲۵۶آيت)** [109]

ژباړه: هغه چا چې د طاغوت نه انکار وکړ او په الله ايمان راوړ هغه يوه داسې کلکه اسره ونيوله چې هيڅکله ماتيدونکی نده او د الله **جل** چلاله د هر څه اوريدونکی او په هر څه پوهيدونکی دی.

په دې آيت کې طاغوت د الله **جل** **جلاله** په مقابل کې راغلی دی، او د هغه څخه مخه اوړونه او سرکشي او د الله **جل** **جلاله** په احکامو او فرامينو باندې ايمان راوړلو ته (عروه الوثقی) [ نه شليدونکی حلقه او کلکه تکيه ويل شوې].

کفر بالطاغوت د (لا إله) غوښتنه ده او ايمان بالله د (الاالله) غوښتنه ده د الله **جل** **جلاله** د قوانينو څخه پرته د نورو ټولو قوانينو څخه انکار کول او مخ اړول او د الله **جل** **جلاله** په قوانينو ايمان راوړل د طيبې کليمې حقيقت او د توحيد مفهوم دی.

**و الذين كفروا اولياؤهم الطاغوت يخرجونهم من النور الى الظلمات اولئک اصحاب النار هم فيها خالدون. (د البقره سورت ۱۵۷آيت)**

ژباړه: او کومو خلکو چې د کفر لاره غوره کړې د هغوی ملاتړي او مرستندويان طاغوتان دي، هغوی له رڼا نه د تړ‌ږميو لوري ته را کاږي دا کسان دوزخ ته ورتلونکي دي او هلته به تل اوسيږي.

نو د دې څخه معلوميږي چې طاغوتي قانون توره تياره او د الله قانون رڼا او روښنايي ده.

**الم تر الى الذين اوتوا نصيبا من الكتاب يؤمنون بالجبت و الطاغوت و يقولون للذين كفروا هولا اهدى من الذين آمنو سبيلا اولئک الذين لعنهم الله ومن يلعن الله فلن تجد له نصيرا.**

ژباړه: آيا تا هغو خلکو ته ندي کتلي چې د کتاب له علم څخه يو څه برخه ورکړل شوې ده خو د هغو حالت دا دی چې جبت او طاغوت مني او د کافرانو په اړه وايي چې الله له ايمان راوړونکو څخه خو

---

109. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين. ژباړه: هدايت. عبدالهادي. پيغام نشراتي مرکز. ۲۲۸ مخ.

د همدوی لاره زیاته سمه ده، همدا سې خلک دي چې الله پرې لعنت کړیدی او په چا باندې چې الله لعنت وکړي بیا ته د هغوی له پاره مرستندوی نشې موندلی.[110]

د دې آیت څخه څرګندیږي چې طاغوتي نظام څخه پیروي کول د الله جل جلاله د قهر او لعنت سبب ګرځي، او هغه خلک چې د طاغوت د قانون پیروي کوي هغوی ته د توحید په نسبت د کفر او شرک لاره ښه ښکاري.

**الذين آمنو يقاتلون فى السبيل الله والذين كفر يقاتلون فى السبيل الطاغوت فقاتلو اولياء الشيطان ان كيد الشيطان كان ضعيفا[ د النساء سورت ۷۶آيت]**

ژباړه: کومو خلکو چې د ایمان لار غوره کړې ده هغوي د الله په لار کې جنګیږي او هغه خلکو چې کړې دی د طاغوت په لار کې جنګیږي نو د شیطان له ملګرو سره وجنګیږئ او یاور ولرئ جې د شیطان د سیسې ډیرې کمزورې دي.

د پورتني آیت څخه مقصد دا دی چې د الله جل جلاله د کلیمې د لوړوالي په خاطر جنګ کول د ایمان غوښتنه ده او د طاغوت د قانون د لوړوالي په خاطر جنګیدل کفر دی او په خپله طاغوتي نظام په د شیطان د مکر او فریب څخه عبارت دی.

**من لعنه الله و غضب عليه و جعل منهم القردة و الخنازير و عبد الطاغوت اولئک شر مكانا و اضل عن سواء السبيل[ المائده سورت ۶۰آيت).**

ژباړه: هغه څوک چې الله جل جلاله ورباندې لعنت وکړ او غضب یې پرې راښکته کړ نو له هغو څخه یې بیزوګانې او خوګان جوړ کړل او هغه چا چې غیر الله اطاعت وکړ نو د هغه درجه لږ دیره زیاته بده او له نیغې او سمې لارې څخه دیر بې لارې شوی دی.

په پورتني آیت کې د طاغوت بنده ګي کوونکی او د هغه د قانون پیروان د بیزګانو ،خنزیرانو ، لعنتیانو او غضب کړای شوو په فهرست کې شمارل شوی دی او ویل شوي چې دوی له صحي لارې څخه بلکل اوښتي دي.

**ولقد بعثنا فى كل امة رسولا ان اعبدوا الله و اجتنبوا الطاغوت.( د النحل سورت ۳۶آيت)**

ژباړه: موږ هر امت ته یو پیغمبر ولیږه او د هغه په وسیله مو ټول خبردار کړل چې د الله جل جلاله بنده ګي وکړئ او د طاغوت څخه ځان وژغورئ.

110. د اسلام سیاسي نظام. محمد شریف رحماني. څلورم فصل. ۲۸ مخ

ددې څخه دا څرګندګیږي چې د طاغوت د بنده ګۍ او د هغه د قوانینو څخه د لرې والي حکم هر نبي علیه السلام ته ورکړل شوی و، او د ټولو انبیاو علیهم الصلوه ړ السلام د شریعتونو بنسټ د الله جل جلاله په حاکمیت او د هغه په معبودیت ایښول شوي دي.

**والذين اجتنبو الطاغوت ان يعبدوها و انابوا الى الله لهم البشرى[د الزمر سورت۱۷آیت]**

ژباړه: او کومو خلکو چې د طاغوت له بنده ګۍ څخه ځان وژغوره او د الله جل جلاله په لوري یې رجوع وکړې د هغو لپاره زیری دی. نو ( اې ! پیغمبره زیری ورکړه زما هغو بنده ګانو ته چې په غور سره اوري او په ډیره ښه توګه یې پیروي کوي ).

زیري وړ خلک هغه دي چې د طاغوت د بنده ګۍ څخه لرې والی کوي، پورته اووه آیتونوا کې دا خبره په صریحه توګه څرګندیږي چې د حکم ورکولو پریکړې کولو او د قانون جوړولو اختیار طاغوت ته نده ورکړل شوی او په هر مؤمن فرض دی چې له هغه څخه مخ واړوي او لرې والی ترې وکړي.

**لومړی مطلب: د طاغوت مفهوم د لغت پوهانو له نظره**

د طاغوت کلیمه دې د طغی او طغیان یا طغو او طغوي، طغوان څخه اخیستل شوې ده. طغی، طغیان، طغو، طغوي او طغواان ددې ټولو معنا د اعتدال د پولو څخه وتل دي ددې کلیمو څخه راوتلې کلیمه د سرکښانو او د پولو څخه د اوښتلو په معنا ډیره استعمال شوې لکه

**كذبت ثمود بطغواها (د الشمس سورت ۹آیت)**

ژباړه: د ثمودیانو قوم د خپل سرکشي په اساس حق دروغ وګاڼه.

**فى طغيانهم يعمهون** ( د البقرة سورت **۱۵** آیت، د الانعام سورت ۱۱۰ آیت، د الاعراف سورت **۱۸۲**آیت، د یونس سورت**۱۱** ایت، د الاسراء سورت**۲۰**ایت، د الکهف سورت**۸۰**آیت، د المؤمینون سورت**۷۵**آیت )

ژباړه: او دوی په خپله لکه د ړندو په شان تیندکونه خوري.

د طاغوت کلیمه دې همدې مادې څخه د مبالغې صیغه ده، چې معنا یې ( کثیرالطغیان ) یعنې په سرکشۍ، نا فرمانۍ او د حدودو څخه په وتلو کې د ټولو نه وړاندې کیدل دي چې یوازې ګمراه او سرکشه نه بلکه د کفر او ګمراهۍ مشر او قائد هم وي. لغت پوهانو ددې کلیمې څرنګوالی په دې توګه بیان کړی دی:

**والطاغوت على الواحد و الجمع و المذكر و المؤنث وزنه فعلوته انما هو طغيوت قدمت الياء قبل**

**الغين و هی مفتوحه و قبل ها فتحه فقلبت الفا... و قال ابو اسحاق رحمة الله علیه کل معبود من دون الله عزوجل جبت و طاغوت و قال الشعبی و عطاء و مجاهد رحمة الله علیهم الجبت السحر الطاغوت الشیطان و الکاهن و کل رأس فی الضلال. ژباړه:** (د طاغوت کلیمه د واحد، جمع، مذکر او مؤنث ټولو له پاره راځي چې صرفي وزن يې فعلوت او يا طغیوت دي دلته ی يې په غ باندې رامخته کړې ده او په الف يې بدله کړې ده، ابو اسحاق رحمة الله علیه فرمايلي چې د الله جل جلاله پرته دې د بل هر چا بنده ګي وکړل شي نو هغه جبت او طاغوت دی. شعبی، عطاء او مجاهد رحمة الله علیهم ويلي دي چې جبت جادو ته وايي او طاغوت شيطان او جادوګر ته هم ويل کيږي او هر هغه سړی ته طاغوت ويل کيږي چې د ګمراهۍ ليډر او قائد دی)[111]

دويم مطلب: د طاغوت مفهوم د صالحينو له نظره

عمر فاروق رضی الله تعالی عنه، عامر شعبی، ضحاک، سدي رحمة الله علیهم ويلي دي چې د طاغوت څخه مقصد شيطان دی، او امام راغب اصفهاني ليکلي دي چې: **الشیطان اسم لکل عارم من الجن و الانس و الحیوان.** ژباړه: ( د هر بد خويه او سرکشه نوم شيطان دی که څه هم دا انسان وي يا پيری او يا حيوان وي.

غالبا چې قرآن کريم کې په ۸۸ ځايونو کې د شيطان کليمه ياده شوې ده چې په هغې کې لږ تر لږه په څلورو آيتونو کې په خپله انسان ته په ځرګند ډول شيطان ويل شوی( د البقره سورت ۱۴آيت، د ال عمران سورت ۱۷۵ آيت، د انعام سورت ۱۱۲ آيت، د الناس سورت۲آيت)

کومو اصحابو رضی الله عنهم او تابعينو رحمة الله علیهم چې طاغوت په شيطان معنا کړی دی نو دې هغوی مقصد عام دی( هغه پيريان او انسانان چې خلک بې لارې کوي، د کفر او د شرک مشري او قيادت کوي هغوی طاغوت دي).

امام فخرالدين رازي په خپل تفسير کې فرمايي چې د سوره النساء په ۵۱ آيت کې حيی بن اخطب او کعب بن اشرف ته جبت او طاغوت ويل شوی دی چې دا آيت د هغوی په هکله را نازل شوی و. دا په دې خاطر چې دوی دواړو کوشش کاوه چې خلک د دين څخه واړوي.

**الطاغوت الشیطان فی صورة انسان یتحاکمون الیه وهو صاحب امرهم** [طاغوت د انسان په شکل کې شيطان وي چې هغه ته خلک د خپلو شخړو د پريکړې له پاره ورځي او د هغوی حاکم او قاضي وي.

111. عوده. عبدالقادر. د اسلام جنايي تشريع او وضعي قوانين. ژباړه: هدايت. عبدالهادي. پيغام نشراتي مرکز. ۲۳۳ مخ.

ابن جریر طبري رحمة الله علیه فرمايي: (صحیح خبره دا ده چې د الله جل جلاله په مقابل کې هر سرکش او باغي ته چې د الله جل جلاله څخه پرته یې بنده ګي وشي طاغوت ویل کیږي که څه هغه دا خلک په زور تابعو کړي وي یا خلکو په خپله خوښه او مینه دده بنده ګي او عبادت شروع کړی وي که دا انسان وي یا بت وي یا کوم بل شی).

حافظ ابن قیم[112] رحمة الله علیه چې په ۷۵۱ هجري قمري کال کې وفات شوی لیکلي: (هر هغه شي ته طاغوت ویل کیږي چې د هغه د له امله بنده د بنده ګۍ له پولو څخه ووځي که څه هم د هغه عبادت وشي او یا د هغه تابع داري او اطاعت وشي، د هر قوم طاغوت هغه دی چې هغوی د خپلو شخړو د پریکړو له پاره د الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم پرته هغه (طاغوت) ته ورځي او دا خوا قوم بیا د هغه عبادت کوي یا د هغه تابع ګرځي، پرته له دې چې د هغه بصیرت په واسطه چې الله جل جلاله دوی ته ورکړی دی معلوم کړي چې دا د الله جل جلاله اطاعت دی او که نه؟

دا د دې نړۍ طواغیت او شیطانان، کچیرې تاسې د دوی حالت او کړنه په غور وڅیړئ نو وبه ګورۍ چې ډیرو خلکو د الله جل جلاله عبادت پریښی او د دې طواغیتو عبادت او پالنه یې شروع کړې او د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د قانون پر ځای د طواغیتو پر لور د خپلو معاملو او شخړو د پریکړو له پاره ورځي،

د لغت پوهانو او د تفسیر د امامانو د پورتنۍ څیړنې څخه دا ثابتیږي چې کاهن، ابلیس او بت هم طاغوت دي او هغه حکمران چې د الله جل چلاله پر ځای خپل حاکمیت مسلط کول غواړي او دالله جل جلاله پر ځای خپل جوړ شوي قوانین او د نورو انسانانو جوړ کړي قوانین نافذول غواړي هم طاغوت دي په خپله د انسان اماره نفس هم طاغوت دی چې د هغه په اساس دی بغاوت او سرکشۍ ته تیاریږي، الله جل جلاله د دې ټولو طواغیتو څخه د لرې والي حکم کړی دی.

---

112. علامه ابن قیم چې پوره نوم یې محمد بن ابوبکر بن ایوب بن سعد حریز الزرعی الدمشقی شمس الدین المعروف بابن القیم الجوزیه دی. جوزیه د یوې مدرسې نوم و، چې په هغې مدرسه کې د ده پلار ماجد قیم سرپرست او څارونکی و. علامه ابن قیم په ۶۹۱ هـ ق کې زیږیدلی دی. په متأخرینو کې له شیخ الاسلام ابن تیمیه څخه وروسته له ابن قیم څخه لوی څیړونکی نه دی تیر شوی، هغه په تفسیر او فقه کې نهایت تکړه او وتلی شخص و. ابن کثیر او ابن رجب د نوموړي شاګردان و. هغه چا سره حسد، کینه نه کوله او عابد او خاشع سړی و.

## پنځم مبحث: شریعت او شارع

په خپله د شریعت کلیمې ځخه دا ثابتیږي چې یوازې الله جل جلاله شارع او قانون جوړونکی دی.

شریعت، شرعه، شارع او مشرعه په عربي کې لارې ته وايي، لویې لارې ته شارع وايي او لاربنونکي ته هم شارع ویل کیږي خو د قرآن په اصطلاح له د شریعت څخه مقصد د ( الهي احکامو مجموعه ) ده.

ابن منظور رحمة الله علیه لیکي چې: والشریعه والشرعه ما من الله من الدین و امر به کالصوم و الصلوة و الحج و الزکوه و سائر اعمال البرا ( شریعت او شرع د دین هغه لار ده چې الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته ټاکلې ده او په هغه یې ورته د تللو حکم کړی دی لکه لمونځ، ذکات، روژه، حج، جهاد، غوره اعمال).[113]

**مشهور تابعی سیدنا قتاده رحمة الله علیه فرمایلي دي: و الشریعه الفرائض و الحدود و الامر و النهی.**

( شریعت د فرائضو، شرعي حدودو او امر او نهی نوم دی )

د قرآن کریم په درې آیتونو کې د شریعت د کلیمې په څنګ د الله جل جلاله نوم د قانون جوړونکي په حیث یاد کړل شوي دي.

**لکل جعلنا منکم شرعة و منهاجا.** ژباړه:(د المائیده سورت ۴۸آیت ) **[**مونږ له تاسې نه د هر یوه له پاره یو شریعت او عملي تګلاره ټاکلی ده**]**.

ټول انبیاء علیهم السلام او آسماني ملتونه د دین په اصولو کې یو د بل سره متحد دي خو هر امت ته د هغې د چاپیریال او خاص استعداد مطابق خاص خاص احکام او لاربنوونې ورکړل شوې.

امام بخاري لیکلي دي: ټول پیغمبران علیهم السلام په خپلو منځو کې میرني وروڼه دي لکه د چا چې پلار یو وي او مورګانې یې بیلې بیلې دي.

ددې څخه همدا مقصد اخستل کیږي چې اصول ټول یو خو په فروعو کې توپیر شته د (جعلنا ) څخه را څرګندیږي چې د قانون او شریعت ورکونکی یوازې او یوازې یو الله رب العلمین دی.[114]

ب) **ثم جعلناک علی شریعة من الامر فاتبعها ولا تتبع اهواء الذین لا یعلمون. (د الجاثیه سورت ۱۸آیت)**

---

113. د اسلام سیاسي نظام. محمد شریف رحماني. څلورم فصل. ۴۱ مخ

114. د اسلام سیاسي نظام. پوهنوال محمد شریف رحماني. څلورم فصل. ۴۴ مخ

ژباړه: او ته مو اې پیغمبره ! د دین پر یوه روښانه لاره (شریعت) باندې برابر کړی یې، له دې کبله ته پر همغه لاړ شه او د هغو کسانو د نفسي غوښتنو پیروي مکوه چې علم نه لري.

په دې آیت کې هو د شریعت په مقابل کې ښوولی شوې ده او دا ترې را څرګندیږي چې هغه قانون چې د الله جل جلاله د قانون په خلاف وي هغه به په هوا او نفسي غوښتنې ولاړ وي او د هغه جوړونکی یه په هغه عمل کوونکی به ناپوهه او د خپل نفس بنده وي که څه هم ددې قانون جوړونکی کوم فیلسوف، یا دیني مشر یا پادشاه وي او د قوم وکیلان، کارګران او دهقانان او یا عوام وي.

**ج) ام لهم شركاء شرعوا لهم من الدين ما لم يأذن به الله ولولا كلمة الفصل لقضى بينهم وان الظالمين لهم عذاب اليم( د الشورى سورت ۲۱آیت)**

ژباړه: آیا دا خلک د الله سره داسې شریکان نیسي چې د دوی له پاره یې د دین داسې طریقې غوره کړي چې الله د هغې اجازه نه ده کړې؟ که د فیصلې خبره مخکې نه وه تر سره شوې نو د دوی ترمنځ به پریکړه صادره کړای شوې وه په باوري توګه د دغو ظالمانو له پاره دردناک عذاب دی.

د پورتني آیت د وضاحت څخه دا را په ډاګه کیږي چې دلته د شریکانو مقصد هغه ګډونکي کوونکي ندي چې خلک یې د کومک له پاره په غائبانه ډول راغواړي بلکه مقصد ترې هغه خلک هم دي چې هغه یې ورسره په تشریع او قانون سازۍ کې شریکان ګرځولي دي. د هغوی په ټاکلو قوانینو او احکامو باندې خلک داسې روان دي چې ته به وایې همدا شریعت دی او پیروي یې په دوی ضروري ده، دا څو داسې شرک دی لکه څنګه چې څوک د الله جل جلاله پرته بل چاته سجده کوي، او یا د الله جل جلاله پرته څوک د غیبي کومک له پاره راغواړي، د آیت په آخر کې دې ډول خلکو ته ظالمان ویل شوي، او علت یې دا دی چې د شرعي قانون په خلاف وضعي قانون جوړول یا په هغه عمل کول شرک دی. **(ان الشرک لظلم العظيم)** په ریښتیا چې شرک ډیر لوی ظلم دی.

## شپږم مبحث: په افغانستان کې ملي شورا او شالید یې

په دې مبحث کې د افغانستان د مقننه قوې (ملي شورا ) چې اوسمهال د افغانستان په اسلامي امارت کې موجودیت نه لري، او په تیرو جمهوري نظامونو کې فعاله وه، په فعالیت، څرنګوالي، غړیتوب او مجلسینو یې غږیږو، همدارنګه پدې مبحث ددې شورا په نورو مهمو اړخونو هم خبرې شویدي، چې په لاندې ډول بیانیږي:

### لومړی مطلب: مقننه قوه

ټاکلي مقننه مجلسونه معمولاً د یوه نماینده دولت سمبول ګڼل کیږي. پارلمان ته یې د ولسواکۍ خوځنده زړه ویلی دی او د دولت له دریو قواوو څخه یوه قوه یا رکن ګڼل کیږي. څرنګه چې ناشوني ده، د یوه هیواد هر غړی دې په پالیسۍ جوړونه، قانون سازۍ او نورو برخو کې نیغ په نیغه ګډون وکړي؛[115] نو دوی د خپلې خوښې استازي ټاکي، چې د دوی په استازیتوب په دولت کې دنده ترسره کړي. دا استازي په مقننه جرګه کې سره راټولیږي. ویلی شو چې مقننه قوه هغه مهمه څانګه ده چې د دولت او ولس ترمنځ اړیکه را منځته کوي. د افغانستان اسلامي جمهوریت کې دوه قانون سازه بنسټونه وو، چې یو یې ملي شورا او بله لویه جرګه وه. همدارنګه ملي شورا (پارلمان) بیا دوه رکنه یا مجلسه یې لرل (ولسي جرګه او مشرانو جرګه).

ملي شورا د قانون جوړونې تر ټولو لوړ اورګان دی، د اساسي قانون د (۸۱) مادې لومړۍ فقرې پر بنسټ ملي شورا داسې تعریف شوېده:

"د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ملي شورا د ستر تقنیني اورګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت استازیتوب کوي".

### دویم مطلب: د ملي شورا تاریخي مخینه

په افغانستان کې د ملي شورا یا پارلمان لپاره لومړنۍ هڅې د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال پیل شوې، (افغانستان در مسیر تاریخ) نومي کتاب په دویم ټوک کې پدې هکله داسې یادونه شوېده:

"ه ۱۳۰۷ کال کې د اماني دورې د پغمان زر کسیزې لویې جرګې پریکړه وکړه؛ چې د افغانستان د لوستو انتخابي غړیو (۱۵۰) کسیزه شورا دې تأسیس شي، او ددې جرګې وکیلان نه شي کولی خپله په دغه نوې شورا کې غړیتوب واخلي، خو په همدې کال د سقاوي اغتشاش له امله اماني دولت را وپرځېد، ددغې جرګې مصوبې وځنډیدې. محمد صدیق پخپل کتاب "افغانستان په پنځو وروستیو پیړیو کې" پدې هکله داسې لیکلي دي: " تر ټولو مهم کار چې اماني دوره کې ترسره شو، له شک پرته د دولت د لومړني اساسي قانون تصویب و، چې د ۱۳۰۲ کال د حمل په

[115]. د افغانستان حکومتي سیستم. محمد سرور نیاومن.مومند خپروندویه ټولنه. ۸۴ مخ.

(۲۰) مه نیټه د دولت د اساسي نظامنامې تر عنوان لاندې د اته سوه تنو شخصیتونو د دولت ارکانو او قبایلو مشرانو له لوري چې شاه امان الله د لويې جرګې په نامه دا غونډه رابللې وه، تصويب شو. پدغه قانون کې ملي شورا د دولت د شورا په نامه وړانديز شوې وه.

کانديد اکاډیمیسین محمد ابراهیم عطايي پخپل کتاب "د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه" کې ليکلي دي: "سردار شير احمد خان د سردار فتح خان زوی د دولتي شورا د رئيس په توګه له امان الله خان سره د اروپا په سفر کې ګډون کړی و." له دې څخه ښکاريږي چې د امان الله خان په واکمنۍ کې شورا شتون درلود.

## لومړۍ فقره: د نادرخان د واکمنۍ ملي شورا

نادرخان په ۱۳۰۸ کال کې واک ته ورسيد او خپل دولت يې مشروطه شاهي اعلان کړ؛ مګر د نادر خان په دولت کې د مشروطه شاهي دولت نښې نښانې نه بريښي. نادرخان ټول واک د خپلو ورونو ترمنځ وويشه او يو فاميلي حکومت يې جوړ کړ.

ددې لپاره چې نادر خان خپل حکومت ته مشروعيت ورکړي؛ نو په ۱۳۰۹ کال کې يې د قبايلو او قومونو د سردارانو او سپين ږيرو څخه ترکيب شوې لويه جرګه را وغوښته؛ يادې جرګې د نادرشاه د حکومت د تائيد سربيره د خپل منځ څخه (۱۵۰) کسيز پلاوی وټاکه، چې اساسي قانون تصويب کړي. دغه (۱۵۰) کسيز پلاوی د ملي شورا په نوم ياد شويدی.

يادې لويې جرګې ته د غړيو د راغوښتلو يوازينی معيار د نادرشاه، د هغه د کورنۍ او دولت وفاداري وه. حکومت د ملي شورا د ټاکنو اصولنامه تسويد کړه او په ۱۳۰۹ کال د سنبلې په ۲۸مه نيټه د لويې جرګې غونډې ته وړاندې شوه. د همدې قانون پر بنسټ د ۱۳۱۰ کال د سرطان په ۱۴مه په سلام خانې ماڼۍ کې د ملي شورا غونډه د پاچا لخوا پرانيستل شوه. د نادرخان لخوا د ملي شورا رئيس وټاکل شو، چې دا د مشروطه شاهي حکومتونو خلاف کار دی. نادرخان د وردګو ولايت استازی عبدالاحد مايار د ملي شورا د رئيس په توګه ټاکلی و.

د مير غلام محمد غبار په وينا يو ځل د کندهار استازي د شورا د رئيس په هکله وينا وکړه او د رئيس ټاکنه يې د استازو حق وباله، نه دا چې د دولت لخوا تحميل شي. غبار پر دې باوري دی چې دغه سړی وروسته په همدې جرم، سياسي محبس ته واچول شو او ديارلس کاله په محبس کې پاتې شو.[116]

سره له دې چې دغې شورا د نادرخان پر وړاندې هيڅ واک نه درلود، په ۱۳۱۰ کال کې يې د اعيانو مجلس هم رامنځته کړ، او هغه ته يې داسې واک ورکړ چې عملاً يې د ملي شورا واکونه او غوښتنې محدودولې.

[116]. د افغانستان معاصر تاريخ ته يوه لنډه کتنه. مير غلام محمد غبار. ۲۲۳ مخ.

نادرخان د اعیانو مجلس (۲۷) کسه انتصابي غړي درلودل چې د شاه لخوا د اشرافو، روحانینو، او ملکانو لمنځه ټاکل شوي وو. د غبار په وینا لومړی به د دولت لایحې د اعیانو مجلس ته استول کیدلې، د اعیانو مجلس له تصویب وروسته ملي شورا ته وړاندې کېدې. سربیره پر دې د اعیانو مجلس د ملي شورا د مصوبو د ردولو واک هم درلود. د اعیانو په مجلس کې د دولت خلاف یو غړي هم شتون نه درلود او ټول بحثونه یې د دولت تر څارنې لاندې وو.

نادرخان د ۱۳۱۲ کال د عقرب په (۱۷)مه نیټه د ارګ په باغ کې د نجات لیسې د یو تن شاګرد (عبدالحق) لخوا په مرمۍ وویشتل شو او ووژل شو، تاج او تخت یې زوی محمد ظاهرشاه[117] ته پاتې شو.

## دویمه فقره: د هاشم خان د صدارت ملي شورا

د نادرخان تر وژل کېدو وروسته په هماغه شپه د ده کورنۍ غړي سره راټول شول او د اساسي اصولو پنځمې مادې پر بنسټ یې د هغه زوی محمد ظاهرشاه چې د غه وخت کې (۱۹) کلن و، د پاچاهۍ په تخت کیناوه.

محمد ظاهرشاه د پاچا کېدو سره سم خپل تره محمد هاشم خان، چې پخوا هم صدراعظم و، بیا هم د صدراعظم په توګه وټاکل. د محمد هاشم خان تر صدارت لاندې د ملي شورا دویمې، دریمې، څلورمې، پنځمې او شپږمې دورې خپلو چارو ته دوام ورکړ، د ملي شورا لومړۍ دوره هم د محمد هاشم خان د صدارت پر مهال ترسره شوې وه.

د محمد هاشم خان د صدارت ملي شورا هم د نادرخان د ملي شورا په څیر وه، په دغه وخت کې د هیواد په اړه ټولې پریکړې محمد هاشم خان ترسره کولې، تر دې چې شاه هم دا توان نه درلود، چې د ټولنې په رهبرۍ کې مهم رول ولوبوي.

117. محمد ظاهرشاه د نادر خان زوی، د افغانستان وروستی پاچا و، هغه په ۱۹۱۴ میلادي کال کې زیږېدلی دی، هغه په ۲۰۰۷ کال کې د حامدکرزي په واکمنۍ کې وفات شو او د کابل په مرنجان غونډه کې خاورو ته وسپارل شو. هغه په افغانستان کې څلویښت کاله پاچاهي وکړه، هغه عصریتوب ته کار وکړ، او افغانستان په دویمې نړیوالې جګړې کې بیطرفه وساتل، تر څنګ یې په سړه جګړه کې هم بیطرفه پاتې شو. هغه منظمه اردو او منظم مالیاتي سیستم درلود. د هغه دولت شاهي دوله او نظام یې عسکري و، هغه د افغانستان په تاریخ کې لومړنی پاچا و چې تر ټولو ډیره پاچاهي یې وکړه.

## دریمه فقره: د شاه محمود د صدارت ملي شورا

د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې، چې هرې خوا ته نوي تحولات روان وو، افغانستان هم پر پخواني حال خپل سیاسي ژوندون ته ادامه نه شوه ورکولی، نو ځکه محمد هاشم[118] خان هم استعفاء ورکړه او خپل کشر ورور سردار شاه محمود خان یې د صدراعظم په توګه وټاکل. د هاشم خان صدارت د دورې پر خلاف دا ځل حکومت په ټاکنو کې مداخله نه کوله. پدې ټاکنو کې خلکو په ډیرې مینې رأیې ورکړې، آن تر دې چې صدراعظم د رأیو صندوقونو ته ورغی او هغه چا ته یې رأیه ورکړه چې پر حکومت یې کلکې نیوکې کولې. دا یو نمونه پارلمان و، چې د اوومې دورې پارلمان په نامه یادیږي.[119]

د اوومې دورې په پارلمان کې د محمد صدیق فرهنګ په وینا درې ډلو شتون درلود:

1- د دیرشو نفرو په شاؤخوا کې آزادي غوښتوونکي وو، چې غوښتل یې شورا د مشروطه هیوادونو د پارلمان په څیر خپله دنده سمبال کړي او له حکومت څخه د قانون خلاف کارونو کې پوښتنې وکړي.
2- د محافظه کارانو ډله، چې اکثریت وو او په ډیرو مسایلو کې د حکومت په لار ښوونه تلل.
3- د کمیت له اړخه وړوکې ډله، مګر ډیره فعاله ګڼل شوې، دغه ډله د دولت له پخوانیو کارکوونکو جوړه وه، د دوی موخه د شاه محمود د حکومت کمزوري کول او د داوود خان په وسیله د حکومت جوړول وو.

په ۱۹۵۰ میلادي کال کې د مطبوعاتو قانون تصویبول، د خپلواکۍ او ولسواکۍ پر لوري هغه ګام و، چې د پارلمان په اوومه دوره کې ترسره شوه، د دغه قانون پر بنسټ غیردولتي نشراتو اجازه درلوده، چې په خپلواک ډول خپرونې وکړي. همدا وو چې پر حکومت ډیرې نیوکې وشوې.

د محصلینو اتحادیې او د شاه د کورنۍ تهدید، د شاه محمود حوصله ور تنګه کړه او استعفاء یې ورکړه او د ده پر ځای داوود خان صدارت ته ورسید.

## څلورمه فقره: د داوود خان د صدارت پر مهال ملي شورا

د ملي شورا اتمه دوره له ۱۳۳۱ څخه تر ۱۳۳۳ پورې وه، ددې دورې په ټاکنو کې حکومت او سلطنتي کورنۍ ونشو کولی، خپل پلویان وساتي. په ټاکنو کې یې لاسوهنه پیل کړه چې ملي شخصیتونه او روڼ اندي ملي شورا ته لار پیدا کړي چې تر ډیره پدې کار کې بریالي هم شول.

[118]. سردار محمدهاشم خان د ظاهرشاه د حکومت لومړنی صدراعظم و، او د محمد ظاهرشاه تره هم و، هغه په ۱۳۱۴ هـ ش کې په هند کې زیږېدلی و، هغه یو ډیر ځواکمن او پیاوړی سیاستوال او مدیر و. کله چې محمدظاهر شاه کوچنی پاچا و، ده ورسره په حکومتي چارو کې ډیره همکاري کوله. هغه په لومړیو کې نړیوالو اړیکو، د امنیت ټینګښت او اداري جوړښت ته پام واړول. د هغه په وخت کې د بیان آزادي نه وه، او ډیر خلک یې زندانونو ته واچول.

[119]. د افغانستان معاصر تاریخ ته یوه لنډه کتنه. ۲۴۵ مخ.

د ملي شورا نهمه، لسمه او يوولسمه دوره له ۱۳۳۱ څخه تر ۱۳۴۲ کلونو په موده کې ترسره شوې وې، چې د داوودخان[120] له صدارت سره برابرې دي. د دغه دورو پارلمان ونشو کولی، چې د افغانستان په سياسي او اجتماعي ژوندون کې د پاملرنې وړ رول ولوبوي، او په دغه دورو کې هم ملي شورا د افغانستان د خلکو استازيتوب ونشو کولی او د دولت غوښتنې يې منعکس کولې.

## پنځمه فقره: ملي شورا د جمهوريت په لسيزه کې

د افغانستان دريم اساسي قانون د ډاکټر يوسف د صدارت پر مهال جوړ شو. د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون په هيواد کې د ملي شورا يو بل دور پيل کړ، چې د شورا د ۱۲مې دورې په نامه شهرت لري.

د ملي شورا دغه دوره د ظاهرشاه د زوکړې ورځې پر ورځ، د هغه په وينا پرانيستل شوه. [121]

دغې دورې (۲۱۲) غړي درلودل، د ولسواکۍ (جمهوريت) په لسيزه کې، پارلمان په دوه دورو کې، خپل کار ته دوام ورکړ؛ د پارلمان يوې دورې د ډاکټر يوسف د صدارت پر مهال کار پيل کړ، بله دوره د نوراحمد اعتمادي په صدارت کې پيل شوه.

د ډاکټر يوسف د صدارت پر مهال ټاکنې د اعتمادي د وخت له ټاکنو څخه ولسواکې وې. د نوراحمد په دوره کې پر حکومت سربيره شاهي کورنۍ هم په ټاکنو کې لاسوهنه وکړه. د ۱۲مې دورې (۱۲۰) کسه استازو د ۱۳مې دورې لپاره ځانونه نوماند کړي وو، چې يوازې (۲۰) کسانو يې بيا ملي شورا ته لار وموندله او پاتې سل کسه پر دې ونه توانېدل چې د ملي شورا غړيتوب ترلاسه کړي.

د ۱۳۴۳ هـ ش کال اساسي قانون پر بنسټ ملي شورا دوه مجلسه (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) وه، د ولسي جرګې ټول غړي انتخابي وو، چې د څلورو کلونو لپاره د خلکو مستقيمو او خپلواکو رأيو پر مټ ټاکل کېدل، يعني ټاکنې د واحدې رأيې د سيستم پر بنسټ ترسره کېدې. د پارلمان د نوماندانو لپاره ځينې شرايط هم وضع شوي وو. د بيلګې په ډول نوماندان بايد ليک او لوست وکړای شي؛ د ولسي جرګې نوماندان بايد پنځه ويشت کلن وي. په تابعيت يې لږ تر لږه لس کاله تير شوي وي، تر څنګ يې نوماندان بايد د ذيصلاح محکمې له لوري له مدني حقونو څخه محروم شوي نه وي. د مشرانو جرګې جوړښت داسې و چې يو پر دريمه برخه د شاه لخوا د روحاني، متنفذ او ولسي مشرانو څخه ټاکل کېدل، يو پر دريمه برخه د ولايتي شوراګانو څخه د دريو کلونو لپاره او دريمه برخه د خلکو له لوري د مستقيمو رأيو په وسيله د څلورو کلونو

[120]. سردار داوودخان د عزيز خان زوی د افغانستان لومړنی رئيس جمهور چې پخپل تره زوی ظاهرشاه له سپينې کودتا وروسته واک ته ورسيد. نوموړي د صدارت دوره يوه طلايي او له خدمته ډکه دوره وه، هغه له ۱۹۵۳ څخه تر ۱۹۶۳ پورې د شاهي دولت صدراعظم و. او له ۱۹۷۳ څخه تر ۱۹۷۸ پورې د افغانستان ولسمشر و. هغه په ۱۹۷۸ ميلادي کال کې د نور محمد تره کي په مشرۍ د يوې خونړۍ کودتا په ترڅ کې ووژل شول. د حامدکرزي په واکمنۍ کې د هغه جسد پيدا او د کابل په تاج بيګ غونډه باندې په ځانګړو مراسمو کې دوباره خاورو ته وسپارل شول.

[121]. د جامعه مدني مجله ۴۲ ګڼه. ۱۳ مخ.

لپاره ټاکل کېده. د مشرانو جرګې د نوماندانو عمر د اساسي قانون پر بنسټ (۳۱) کاله ټاکل شوی و. ملي شورا هغه مهال د قوانینو د تصویب تر څنګ ددې واک هم درلود، چې حکومت د کارونو د څېړنې او کتنې لپاره کمیټې جوړې کړې. همدارنګه ولسي جرګې حق درلود، چې حکومت ته د باور او نه باور رأیه ورکړي، ولسي جرګې د حکومت لخوا ترتیب شوې بودجه هم تصویبوله.

## شپږمه فقره: د داود خان د جمهوریت پارلمان

په ۱۳۵۲ کال کې د داود خان لخوا سپینه کودتا ترسره شوه، شاهي نظام ته یې د پای ټکی کېښود او شاهي حکومت یې پر جمهوریت بدل کړ. په ۱۳۵۵ هـ ش کې یې نوی اساسي قانون جوړ کړ، چې ددې اساسي قانون په پنځم څپرکي کې د ملي جرګې نوم راغلی دی. پر داوود خان د ثور له کودتا وروسته د ۱۳۸۲ د اساسي قانون تر تصویب پورې چې په افغانستان کې مختلف حکومتونه راغلي دي، پدې ټولو حکومتونو کې داسې پارلمان شتون نه درلود، چې یادول یې اړین وي، نو ځکه ترې تیریږو.

## اووم مبحث: د ملي شورا جوړښت

د افغانستان په پخواني اساسي قانون کې پارلمان ته (ملي شورا ) نوم ورکړل شوی دی. ملي شورا له دوه جرګو څخه جوړ شوې، چې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په نوم یادیږي. د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په هکله د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره هر جرګه په جلا ډول لولو:

### لومړی مطلب: ولسي جرګه

ولسي جرګه د ملي شورا له هغه مجلس څخه عبارت ده، چې د اساسي قانون د (۸۳) مادې پر بنسټ یې غړي د عمومي، آزادو، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې د افغانستان د خلکو له لوري د پنځه کلونو لپاره ټاکل کیږي.

د ولسي جرګې د غړیو تعداد د هرې حوزې د نفوسو د شمیر په تناسب تر ټولو زیات یې (۲۵۰) کسانو پورې دي؛ خو اوسمهال ولسي جرګه (۲۴۹) غړیو لرونکې ده. [122] له هر ولایت څخه په منځنۍ کچه حداقل دوه ښځینه استازې د ولسي جرګې غړیتوب ترلاسه کوي. د څوکیو له مجموع څخه لس څوکۍ د کوچیانو او پاتې نورې (۲۳۹) څوکۍ د نفوسو د تناسب په پام کې نیولو سره ولایتونو ته په لاندې ډول ځانګړې کیږي.

د ټاکنو پخواني کمېسیون لخوا د ولایتونو مجموعي نفوس[123] پر ځانګړیو شویو څوکیو باندې پر ولایتونو ویشل کیږي، چې د یوې څوکۍ لپاره د نفوسو تعداد معلوم شي، یعني د هیواد ټول نفوس پر (۲۳۹) څوکیو ویشل کیږي، چې معلومه شي څومره نفوس ته یوه څوکۍ رسیږي.

### دویم مطلب: د ولسي جرګې اداري هیئت

د پخواني اساسي قانون د (۸۷) مې مادې پر بنسټ د ولسي جرګې غړي باید په لومړۍ غونډه کې خپل اداري هیئت (رئیس، لومړی او دویم مرستیال، منشي او د منشي مرستیال) وټاکي. رئیس د یوې تقنیني دورې لپاره او پاتې اداري هیئت د یوه کال لپاره ټاکل کیږي.

ولسي جرګه لومړی لنډمهالی (مؤقتي) رئیس ټاکي، چې د اوږدمهالي رئیس لپاره پر ټاکنو څارنه وکړي. د ولسي جرګې اوږدمهالی رئیس د لنډمهالي رئیس تر څارنې لاندې د مستقیم او پټو ټاکنو له لارې د یوې تقنیني دورې لپاره د غړیو د ډیروالي په شتون کې ټاکل کیږي.

---

[122]. د افغانستان د ټاکنو پخوانی قانون ۲۱ ماده.

[123]. **نفوس:** د وګړو هغه ټولنې څخه عبارت دی چې د یوې حقوقي اړیکې پواسطه چې تابعیت نومیږي؛ سره راټول شوي وي او په اوږدمهالې توګه د یو دولت د قلمرو په داخل کې هستوګنه ولري.

## دریم مطلب: په ولسي جرګه کې د قانون جوړونې پړاوونه

ولسي جرګه چې کوم قانون تصویبوي[124]، څلور شکله (مسوده/خامه، تعدیل، زیاتونه او حذف) لري؛ نو د دغه قانون مسوده/خامه به د ولسي جرګې لخوا او یا به د حکومت له لوري جوړه شوې وي، یا به د ولسي جرګې لخوا او یا به هم د مشرانو جرګې د کوم غړي لخوا وړاندیز شوې وي، همدارنګه د قضائیه قوې اړوند مسودې د سترې محکمې لخوا ترتیبیږي، د حکومت او یا د سترې محکمې مسودې د عدلیې وزیر په لاسلیک ولسي جرګې ته وړاندې کیږي.

پدې اړه د دولت د پارلماني چارو وزیر او هغه وزیر چې مسوده ورپورې اړه ولري، جرګې ته د اړتیا پر مهال د مسودې څرګندونه کوي. د ولسي جرګې غړي هم کولی شي د قانون مسودې جوړې کړي. د ولسي جرګې د لسو غړیو لخوا د مسودې وړاندیز کیدلی شي، او له مسودې سره باید دلایل یې هم وړاندې کړي چې د قانون په رامنځته کېدو باندې منتج شي او د غړو وکیلانو لاسلیکونه هم باید ورباندې وي. دوی باید اول خپله تقنیني طرحه/مسوده تصویب کړي. همدارنګه د سیاسي ګوند، سیاسي ډله، د مدني اورګان او د څیړنیزو خدمتونو ریاست لخوا هم د غړیو تقنیني طرحه تسوید کیدلی شي.[125]

ددې لپاره چې مسوده د عمومي غونډې په اجنډا کې شامله شي، د جرګې رئیس د یوې میاشتې په موده کې یادې مسوده د رئیسانو کمیټې ته راجع کوي. وړاندې شوې مسوده ثبتیږي او په عمومي غونډه کې اعلانیږي. د مسودې د ور پیژندلو پر مهال په مسوده بحث نه کیږي. د ورپیژندلو څخه وروسته مسوده اړوند کمېسیون ته راجع کیږي. د حکومت د جرګې لس غړي، د کمېسیونونو رئیسان او پارلماني ډلې (ګروپونه) د مسودې د طی مراحل د اجرأ د لومړیتوب غوښتنه کولی شي، که دغه وړاندیز د جرګې د ډیرو غړیو لخوا تائید شي، د جرګې په اجنډا کې نیول کیږي. هغه کمېسیون ته چې د رئیس لخوا مسوده راجع شوې وي، باید په شلو ورځو کې نوموړې مسوده تصویب کړي.

اصلي کمېسیون کولی شي، د اړتیا پر مهال هغه ذیصلاح شخص چې مسوده ور پورې اړه لري، د کمېسیون غونډې ته د څرګندولو لپاره را وبولي، همدا راز اصلي کمېسیون د مسلکي او تخنیکي پړاوونو د تیرولو په موخه د مدني ټولنې استازي، سیاسي ګوندونه، د اړوند وزارتونو واکمن اشخاص، اهل خبره، او د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د مؤسسو استادان هم راوبولي، او ورڅخه مشورې واخلي. د کمېسیون رئیس د هرې مسودې لپاره یو راپور ورکوونکی ټاکي. راپور ورکوونکی خپل راپور چې پر تعدیلاتو، حذف، بدلون او یا ډیرولو (اضافه کولو) مشتمل وي، ترتیب کوي، یوه یوه نسخه د ترتیب شوي راپور څخه نورو کمېسیونونو او

---

[124]. تصویب؛ د تائید او منلو معناء ورکوي، او په اصطلاح کې د قانون جوړونکي اورګان لخوا د مسودې تائیدولو ته تصویب وایي. په افغانستان کې اساسي قانون د لویې جرګې لخوا او نور قوانین د ملي شورا لخوا تصوییبیږي.

[125]. په افغانستان کې حکومتي سیسټم. محمد سرور نیاومن. مومند خپرندویه ټولنه. ۱۱۴ مخ.

پارلماني ډلو ته هم ور لیږي، نور کمېسونونه او پارلماني ډلې باید د اصلي کمېسیون لخوا په ټاکل شوي وخت کې خپل راپور ترتیب او اصلي کمېسیون ته یې په لیکلې بڼه واستوي. اصلي کمېسیون[126] د دغه راپورونو لپاره یوه نیټه ټاکي او په هماغه نیټه د نورو کمیسیونونو او پارلماني ډلو څخه یو یو نماینده خپلې غونډې ته راوبولي، او په هماغه راپورونو بحث کوي، د بحث څخه وروسته مسوده د رئیسانو کمېټې له لارې عمومي غونډې د تصویب وروسته مصوبه ولسمشر ته د توشیح لپاره وړاندې کیږي او د ولسمشر تر توشیح وروسته مصوبه په قانون بدلیږي.

## څلورم مطلب: په مشرانو جرگه کې د قانون جوړونې پړاوونه

د قانون هغه طرحه او مسوده چې مشرانو جرگه ورباندې بحث کوي، دوه حالته لري، یا به دا مسوده د حکومت لخوا جوړه شوې وي، او د ولسي جرگې له تائید څخه وروسته به مشرانو جرگې ته وړاندې شوې وي، او یا دا مسوده د مشرانو جرگې د غړیو لخوا وړاندې/وړاندیز شوې وي، د غړیو لخوا وړاندې شوې مسوده او د ولسي جرگې تر تائید وروسته، چې کومه مسوده مشرانو جرگې ته د تصویب پر موخه راځي، په مشرانو جرگه کې لاندیني پړاوونه سرته ورسوي:

أ. د تقنیني طرحې پیژندل: د قانون مسوده د جرگې په غونډه کې اعلانیږي، چې همدغه اعلانول یې د مسودې ورپیژندلو معناء ورکوي. که جرگه غونډه ونلري؛ نو د مشرانو جرگې په رسمي خپرونه کې نشریږي. پدې پړاو کې پر مسوده بحث نه کیږي او په وار سره په اجنډا کې نیول کیږي. که حکومت، د کمېسیون رئیسان، د پارلماني ډلو رئیسان او یا هم د مشرانو جرگې لس تنه غړي د مسودې د پړاوونو د تیرولو لپاره د فوریت غوښتنه وکړي او یا ده غوښتنه د غونډې د ډیرو غړیو او یا هم د هغه کمېسیون لخوا چې په مسوده کار کوي، تصویب شي، نو مسوده بې له ځنډه د غونډې په اجنډا کې نیول کیږي.

ب. اړوند کمېسیون ته د مسودې راجع کول؛ وروسته له دې چې مسوده ثبت او غړیو ته اعلان شي، رئیس گوري چې نوموړې مسوده د کوم کمېسیون پورې اړه لري، او هماغه کمېسیون ته یې راجع کوي.

د جرگې د غړیو لخوا وړاندې شوې مسوده مخکې له دې چې کمېسیون ته راجع شي، د جرگې د یو پر پنځمې برخې لخوا باید تائید شي. که مسوده د زیاتو کمېسیونونو پورې اړوند موضوعگانې ولري نو رئیس یې هغه کمېسیون ته راجع کوي چې د مسودې اساسي موضوعگانې ورپورې تړلې وي.

ج. په کمېسیون کې د مسودې پړاوونه: کمېسیون پر مسوده بحث کوي، کمېسیون د پوره غور او دقت څخه وروسته مسوده یا تصویبوي او یا یې ردوي او هم کولی شي، چې د

126. هغه کمېسیون ته وايي چې مسوده د څرنگوالي (ماهیت) له پلوه هغه پورې اړه ولري.

ځینو تعدیلاتو وړاندیز وکړي. د هرې مسودې لپاره په کمېسیون کې یو راپور ورکوونکی ټاکل کیږي. د تعدیلاتو وړاندیز د راپور ورکوونکي، د کمېسیون د غړیو او یا د جرګې د غړیو لخوا عمومي غونډې ته ۲۴ ساعته مخکې وړاندې کیدلی شي، که تعدیلات د کمېسیون لخوا ومنل شي، د مسودې سره ضمیمه کیږي. د اړتیا پر مهال کمېسیون کولی شي، د مسودې د ترتیب کوونکو څخه د مسودې په هکله معلومات وغواړي.

له تفصیلي بحث څخه وروسته کمېسیون راپور ترتیبوي او د جرګې ټولو غړیو باندې یې ویشي. راپور ورکوونکی عمومي غونډې ته د مسودې په اړه تفصیلي راپور وړاندې کوي. حکومت هم کولی شي، جرګې ته د مسودې په اړه وضاحت ورکړي.

د. په عمومي غونډه کې د مسودې پړاوونه: په عمومي غونډه کې د مسودې اړوند بحثونه له حکومت څخه په استماع پیلیږي او د راپور ورکوونکي د راپور پر وړاندې کولو سره دوام مومي، په عمومي غونډه کې د بحث څخه وروسته د هرې مادې په اړه په نوبت سره بحث او رأیه ورکول کیږي. د رأیې ورکولو څخه وروسته په عمومي توګه د مسودې په ټول متن رایې اخیستنه پیل کیږي. هر غړی د خپلې رأیې په هکله پنځه دقیقې وینا کوي، په پایله کې مسوده تصویب یا ردیږي. د تصویب پر مهال مسوده ولسمشر ته د توشیح لپاره لیږل کیږي.[127]

## پنځم مطلب: د ملي شورا دندې او صلاحیتونه

ملي شورا چې له ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه متشکله ده د لاندینیو صلاحیتونو لرونکې ده.

### لومړۍ فقره: د قوانینو او فرمانونو تصویبول

ټولې قانوني طرحې چې د حکومت د عدلیې وزارت لخوا ترتیب کیږي او یا هم د دواړو جرګو د غړیو له لوري د اړتیا پر مهال رامنځته کیږي، د ملي شورا د دواړو جرګو لخوا باید تصویب شي، ملي شورا په قانوني طرحو او د ولسمشر په تقنیني فرمانونو کې د تعدیلاتو د راوستلو واک لري، همدا راز کولی شي، یوه قانوني طرحه یا تقنیني فرمان لغوه کړي.

---

[127]. په افغانستان کې حکومتي سیستم. محمد سرور نیاومن. ۱۳۳ مخ.

## دویمه فقره: د بودجې تصویب او د پور اخیستلو یا ورکولو اجازه

د بودجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې وړاندیزیوازې د حکومت لخوا ترسره کیږي. د دولت بودجه او د دولت پرمختیایي برنامې د مشرانو جرګې له لارې ددې جرګې له مشورتي نظریو سره یوځای ولسي جرګې ته سپارل کیږي او د ولسي جرګې تر تصویب وروسته د ولسمشر په تائید او توشیح پرته له دې چې مشرانو جرګې ته وړاندې شي، د پلي کېدو وړ ګڼل کیږي. ولسي جرګه باید په یوه میاشت کې د بودجې د تصویب په هکله پریکړه وکړي، د پورونو اخیستل او ورکولو وړاندیز چې د حکومت لخوا ترسره شوی وي، باید په پنځلس ورځو کې د ولسي جرګې لخوا تصویب یا رد شي. که په پنځلسو ورځو کې د ولسي جرګې لخوا پریکړه ونشي، وړاندیز تصویب شوی ګڼل کیږي.

## دریمه فقره: د اجرائیه قوې کنټرول او څارنه

د ولسواکۍ او د قواوو د تفکیک اصل پر بنسټ د اجرائیه قوې کنټرولول، د ملي شورا له دندو څخه ګڼل کیږي. د ملي شورا له بنسټیزو دندو څخه د قوانینو جوړول دي او اجرائیه قوه ددې قوانینو پر پلي کولو مکلفه ده او تر کومه چې یو قانون د اجرأ څخه په رسمي توګه نه وي لویدلی، اجرائیه قوه یې په عملي کولو مکلفه ده، ځکه د قوانینو وضع کولو واک د اساسي قانون پر بنسټ معلوم او ټاکل شویدی، نو هره مرجع چې د خپل واک په حدودو کې د قانون د وضع کولو واک لري، د تعدیل او لمنځه وړلو واک یې هم لري. حکومت باید پخپلو ټولو اړوندو چارو کې عادي او اورګانیکي قوانین په پام کې نیسي، چې په اړه یې د اساسي قانون د (۷۵) یمې مادې داسې وضاحت لري:

"حکومت ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو او د محکمو د قطعي پریکړو د عملي کولو دنده لري". په همدې ترتیب د پورتنۍ مادې اوومه فقره داسې وضاحت لري:

"د هغو نورو دندو ترسره کول چې د اساسي قانون او نورو قوانینو پر بنسټ د حکومت له دندو څخه ګڼل کیږي".

# پايله

1. د تيزس ليکل د څېړنې د زده کړې په برخه کې د محصلينو لپاره عملي کار ده، او د دوی د څېړنېزه پوهه ډېروي او پدې يې پوره پوه کوي چې څرنګه څېړنه او تحقيق وکړي او بيا يې څه ډول وليکي او نورو ته يې ورسوي. ددې څېړنې د ترسره کولو لپاره له کتابخانه يي روش څخه استفاده شويده، په کتابخانه يي برخه کې له مرتبطو مأخذونو څخه کار اخيستل شويده چې لومړي لاس کتابونه وو، تر ډېره هڅه شوېده چې د موضوع حق اداء کړم او پوره کارور باندې وکړم.
2. دا موضوع ژوندی او ګټوره ده، او هغوی لپاره د کار خبرې دي چې سياست سره ليوالتيا لري او د سياسي علومو محصلين او لوستوونکي وي. شورا د دولتونو د تقويت او تداوم لپاره ډېره اړين ده. دا ډېره مهمه پايله وه چې پوه شوم چې شورا چاروا کي، متنفذين او ولس ډېره سره نژدې کوي، او د مسايلو ښه حل راوباسي، او استبداد لمنځه وړي. دا تيزس ددې څرګندونه کوي چې د تيزس اصلي پوښتنه چې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتياوې دي، ځواب يې پيدا او په تفصيلي ډول ليکل شويدی. زما موخه له دې تيزس دا وه ترڅو د شورا په هکله په جامع ډول معلومات پيدا کړم او په ښه شکل دغه موضوع وڅېړم.
3. استبداد د ملتونو او حکومتونو لپاره لوی سرخوږی دی، په مقابل کې شورا د ملتونو د ستونزو حل او د دوی اتفاق او اتحاد ته لمن وهي. شورا د حکومت لپاره حياتي ده او دولتي برنامو او ملي پروسو د تطبيق لپاره اساسي شرط ده. شورا د حکومتونو سوکالي او نيکمرغي ده، بې شورا حکومتونه مستبد او بې نظمه وي.
4. پدې تيزس کې د اسلام د سياسي نظام لغوي، او اصطلاحي تعريف، سرچينې يې، همدارنګه د اسلام د سياسي نظام ارکان تر څېړنې لاندې نيول شويدي، ترڅنګ يې د اسلام د سياسي نظام اهداف او داسې نورو مهمو موضوعاتو باندې خبرې شويدي. ورپسې د شورا په لغوي او اصطلاحي پيژندنې څېړنې شويدي، د شورا په هکله نظريات، په سياست کې د شورا نقش، د شورا سياسي ګټې، د شورا اهميت او ارزښت، همدارنګه آيا امام د شورا په پريکړو مکلف دی، ترڅنګ يې د قران کريم له نظره د غير اسلامي نظامونو شورا باندې خبرې اترې او بحثونه ترسره شويدي.
5. د شورا په اړه قرآني آيتونه، د شورا په هکله د رسول الله ص احاديث راوړل شويدي، له ژباړې او سرچينې سره بيان شويدي همدارنګه په نبوي دور کې د شورا تاريخي غونډې، د شورا د غړو صفات، د شورا اساسي اهداف، د شورا صلاحيتونه، د زياتو رأيو پر بنسټ پريکړه، په شورا کې د ميرمنو غړيتوب، په شورا کې د نامسلمانو متنفذو ګډون، د شورا د غړو ځانګړنې، د مجلس شورا لپاره د مودې ټاکل، او پدې بحث شويدی چې څوک اهل مشوره

دي. د ډیموکراسي او اسلامي نظام ترمنځ تفاوت او توپیر بیان شویدی، همدارنګه په افغانستان کې د شورا په تاریخي شالید خبرې شویدي.

6. که چیرې په ولسي برخه کې حکومتي چارواکي له ولس سره ربښتیني نه وي، له عامو وګړو سره کبر او ظلم کوي، د ولس مقابل کې احترام، شفقت او شفافیت نه وي او ولس سره شته فاصلې لمنځه و نه وړل شي نو حکومت خامخا بې ثباته کوي. څومره چې د یو هیواد خلک متحد ، باسواده او کاروباري وي په هماغه اندازه به حکومت پیاوړی او د امنیت لرونکی به وي. د یادونې وړ ده چې حکومت باید د سیاسیونو ترمنځ وحدت او زغم رامنځته کړي او د دوی د وصل مکان او حلقه وي او دوی تل په حکومتي محور راټول کړي ترڅو د ولس او نظام په ګټه وساتل شي.

7. زما باور دا و چې د شورا احکام او مسایل پیدا کولی شم او دا تحقیق به په زړه پورې او ما به دغه آرمان ته رسوي، الحمد لله، ددې څیړنې نتایج څرنګه چې توقع کېدله په هماغه ډول مثبت وو ، ددې څیړنې لوستل د حکومتي چارواکو او سیاسیونو او علماؤ لپاره ضروري ده، ځکه دوی پدې قانع کوي ترڅو څه ډول خپل حکومت او ریاست له استبداد وژغوري او په شورا یې متکي کړي، او د حکومت پرمختګ او د ولس خدمت ته کار وکړي. د سیاسي علومو استادان او محصلین چې دا څېړنه لولي، مرسته ورسره کوي چې پدې پوه شي چې د شورا احکام، او ځانګړتیاوې څه دي؟ د شورا په هکله لومړي لاس معلومات پیدا کول آسانه نه و، پوره څېړنې او لوستنې ته اړتیا وه، ځکه چې پدې برخه کې ډیر کم کار شویده، او په پښتو ژبه کې یې علمي سرچینې ډیر کمې دي. دا څېړنه بشپړه شوېده او د شورا احکام، مسایل او ځانګړتیاوې پیدا شویدي. په ملي کچه استبداد د حکومتونو ضعف او عدم مشروعیت ته زمینه برابروي. استادان دې محصلینو ته د اصلي زده کړو تر څنګ ددې تیزس لوستل توصیه کړي ترڅو د اسلامي شورا په اړه یو لازم ذهنیت ترلاسه کړي.

8. دولتونه پدې لټه کې وي چې د بې اتفاقۍ عوامل او اسباب لمنځه ویسي ترڅو ثبات او استحکام ته ورسیږي. زما رساله هم په همدې موضوع راڅرخي چې د شورا احکام، مسایل، موارد او ځانګړتیاوې یې پیدا شي او استبداد او خپلسري څنګه لمنځه لاړه شي او د شورا دغه احکام کوم کوم دي، خوشبختانه زه پدې تیزس کې پدې وتوانیدم چې د افغانستان د شورا احکام پیدا کړم او پدې هکله د علمای کرامو نظریات را واخلم.

# وړاندیزونه

1. د سلام پوهنتون علمي شورا ته د څېړونکي وړاندیز دی چې د شورا احکام، ارزښت او ځانګړتیاوې چپټرایز کړي او تحصیلي نصاب کې یې شامل کړي، ترڅو د سیاسي علومو او شرعیاتو محصلین له شورا اګاه شي؛
2. ددې څېړنې پایلې ښیي چې حکومت باید له متنفذو اشخاصو سره په ملي او غیر نصوصي مسایلو کې لازمه مشوره وکړي، او د اړونده شوراګانو سپارښتنې او مشورې ومني؛
3. د ماسترۍ بورډ استادان دې، ددې تیزس هر فصل په جلا جلا ډول څېړونکو محصلینو ته د څېړنې او لوستنې په موخه ورکړي ترڅو شورا په ښه ډول وڅېړي.
4. د افغانستان حکومت ته وړاندیز دی چې ولسي مشروعیت او ملاتړ لپاره خپلې تګلارې ملي کړي، سیاسي زغم ولري او ملي غوښتنو ته اهمیت ورکړي ترڅو حکومت یې له بې ثباتۍ وژغورل شي؛
5. حکومت څخه مې غوښتنه ده چې د سیاسي بې اتفاقۍ، استبداد او ملي مشارکت لپاره د شورا احکامو ته ارزښت ورکړي، او شورا په ټولو ملي مسایلو کې په پام کې ونیسي.
6. حکومتي چارواکو او سیاسي مشرانو ته ددې څېړنې د لوستو وړاندیز دی، څکه دوی سره مرسته کوي چې څه ډول او په کومو مسایلو له خلکو او متنفذینو سره لازمې مشورې وکړي.
7. څېړونکی د سلام پوهنتون د ماسترۍ بورډ مسؤلینو ته احترامانه وړاندیز کوي که چیرې د علمي او تخنیکي پلوه د تیزس لیکلو او د ماسترۍ څېړنو لپاره یو لارښود او رهنمود چاپ کړي ترڅو محصلین او څېړونکي ترې د څېړنې پر مهال استفاده وکړي ډېر به ښه شي او دا کار به محصلینو ته ډېر ګټور تمام سي.
8. بل وړاندیز مې دادی چې د سلام پوهنتون رهبري ددې تیزس د کتاب په بڼه په چاپولو کې راسره مرسته وشي، ترڅو عام خلک هم د شورا ارزښت او احکام وپیژني، څکه پدې برخه کې په پښتو کې کوم اثر نشته.
9. همدارنګه احترامانه وړاندیز کوم چې حکومت ژر تر ژره شورا رامنځته کړي او اهل غړې ورته وټاکي ترڅو په حکومت نظارت وکړي او مسؤلینو ته شرعي او منطقي مشورې ورکړي.
10. وروستی وړاندیز مې دا دی چې حکومت په شورا متکي نظام رامنځته کړي، او یو خاص قشر ته له خدمت کولو ډډه وکړي بلکې ځان د ټولو افغانانو استازی او خادم وګڼي؛

# د قرآني آیتونو فهرست

| گڼه | آیات | سورتونه | پاڼې |
|---|---|---|---|
| ۱ | وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ | شوری | ۵ |
| ۲ | و شاوِرهُم فِی الأمر | آل عمران | ۵ |
| ۳ | اطِیعُوالله وَ اطِیعُو الرَسُول و اولی الأمرِ مِنکُم. | سورة النساء | ۲۰ |
| ۴ | و تِلکَ الایامُ نُداوِلُها بَینَ الناس | آل عمران | ۲۰ |
| ۵ | اتخذو اَحَبَارَهُم وَ رُهبَانَهُم اَربَابا مِن دُونِ الله | سورة التوبه | ۳۰ |
| ۶ | وَ مَن لَم یَحکُم بِمَا اَنزَل اللهِ فاؤلئَک هُم الظَّالِمُون | سورة مائده | ۳۵ |
| ۷ | وَ مَن لَم یَحکُم بِمَا اَنزَلَ اللهُ فَأؤلئِکَ هُم الکَافِرُون | سورة مائده | ۳۵ |
| ۸ | وَ مَن لَم یَحکُم بِمَا اَنزَلَ اللهُ فَأؤلئِکَ هُم الفَاسِقُون | سورة مائده | ۳۵ |
| ۹ | شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ | آل عمران | ۳۸ |
| ۱۰ | وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ | یونس | ۳۸ |
| ۱۱ | الیَوم اَکمَلتُ لکُم دِینُکُم وَ اَتمَمتُ عَلَیکُم نِعمَتِی | سورة المائده | ۳۹ |
| ۱۲ | انَ الدِینَ عندَ الله الإسلاَم | آل عمران | ۳۹ |
| ۱۳ | فَإن اَرادَا فِصَالَا عَن تَراضِ مِنهُما وَ تَشاوُر فَلَا جُنَاحَ عَلَيهِمَا | سورة البقره | ۵۰ |
| ۱۴ | قَالَت یَاَیُّهَا المَلوَ اِفتُونِی فِی اَمرِی مَا کُنتَ قَاطِعه اَمرًا حَتا تَشهدون۳۳ قالو نحن اولو قوه واولوا باس شدید و الامر الیک فانظری ماذا تامرین۳۳ | النمل | ۵۴ |
| ۱۵ | یَقَومِ لَکم المُلکَ الیَوم ظَهِرین فِی الاَرضِ فَمَن یَنصُرنا مِن بَاس اللهِ اِن جَاءنا قَالَ فِرعُون مَا اُرِیکُم اِلا مَا اَرَی وَ مَا اهدِیکُم اِلا سَبِیلَ الرَشَاد۲۹ | غافر | ۵۵ |
| ۱۶ | فَبِماَ رَحمَةٍ مِنَ اللهِ لِنتَ لَهُم وَ لَو کُنتَ فَظَا غَلِیظَ القَلبِ لانفَضوا مِن حَولِک فَاعفُ عَنهُم وَاستَغفِرلَهُم وَ شَاوِرهُم فِی الاَمرِ فَإذاَ عَزَمتَ فَتَوکَل عَلَی الله، انّ اللهَ یُحِب المُتوکلین | آل عمران | ۵۸ |
| ۱۷ | اِن اللهَ یَامُرکُم اَن تُؤدِو الاَمَانَاتِ اِلیَ اَهلِها | سورة النساء | ۸۷ |
| ۱۸ | وَلَقَد أخَذَ اللهُ مِیثَاقَ بَنِی اِسرَائیل وَ بَعثنا مِنهُم اِثنیَ عَشَر نَقِیباً. | سورة المائده | ۹۱ |
| ۱۹ | فَمن یَکفُر بِالطاغُوتِ وَ یُؤمِن بِالله فقد استمسک بالعروة الوثقی لانفصام لها و الله سمیع علیم. | سورة البقره | ۱۰۲ |
| ۲۰ | وَ الذِین کَفَرُوا اولیاؤهم الطاغوت یخرجونهم من النور الی الظلمات اولئک اصحاب النار هم فیها خالدون. | سورة البقره | ۱۰۲ |
| ۲۱ | الذِین آمنو یُقاتِلون فِی السبیل الله والذین کفر یقاتلون فی السبیل الطاغوت فقاتلو اولیاء الشیطان ان کید الشیطان کان ضعیفا | سورة النساء | ۱۰۳ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۴ | النحل | وَلَقَد بَعَثنَا فِي كُل اُمةٍ رَسُولا اَنِ اعبُدوُا الله وَ اجتَنِبُوا الطَاغُوت. | ۲۲ |
| ۱۰۳ | زمر | وَالَّذِينَ اجتَنِبُو الطَاغُوتَ اَن يَعبُدوهَا وَ اَنابُوا اِلَى اللهِ لَهُم البُشرَى | ۲۳ |
| ۱۰۷ | سورة المائده | لِكُل جَعَلنَا مِنكُم شِرعَةَ وَ مِنهَاجَا | ۲۴ |
| ۱۰۷ | الجاثيه | ثَم جَعَلناكَ عَلَى شَرِيعَة مِن الاَمرِ فَاتَبَعُها وَلَا تَتبِع اهوَاء الذِين لَا يَعلَمُون | ۲۵ |
| ۱۰۸ | شوری | اَم لَهُم شُركاء شَرَعوُا لَهُم مِن الذِين مَا لَم يَاذَن بِهِ الله وَلَولَا كَلِيمَةِ الفَصل لَقُضِى بَينَهُم وَاِن الظَالِمِينَ لَهُم عَذاب اَلِيم | ۲۶ |

# احادیث

| پاڼې | حدیثونه | ګڼه |
|---|---|---|
| ۲۶ | مَا رَأَيْتُ أَحَدً أَكْثَرَ مَشْوَرَةٍ لِأَصْحَابِهِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) | ۱ |
| ۲۷ | أَمَا اَنَّ اللّه وَرَسُولَهُ لَغَنِيَّانِ عَنْهَا وَلَكِنْ جَعَلَهَا اللَّهُ رَحْمَةً لِأُمَّتِي فَمَنْ اِسْتَشَارَ مِنْهُم لَمْ يَعْدِم رُشْداً وَمَنْ تَرَكهَا لَمْ يَعْدِمْ غياً. | ۲ |
| ۲۸ | و بک خاصمت و الیک تحاکمت | ۳ |
| ۲۷ | عن عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه اوصی بکتاب الله تعالی | ۴ |
| ۲۸ | ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله و سنة نبیه | ۵ |
| ۲۸ | و لو استعمل علیکم عبد یقودکم کتاب السنه فاسمعوا له و اطیعو | ۶ |
| ۲۸ | ان هذا القران طرفه بیدالله و طرفه بایدیکم فتمسکوا به فانکم لن تضلوا و لن تهلکوا بعده ابدا | ۷ |
| ۲۹ | عن ابي ايوب انصاري رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم علیکم بکتاب الله احلوا حلاله و حراموا حرامه | ۸ |
| ۲۹ | قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما آمن بالقرآن من استحل محارمه. | ۹ |
| ۳۱ | فاذا وصع الکتاب و السنه لم یتعدوه الی غیره اقتدا بالنبی صلی الله علیه وسلم | ۱۰ |
| ۶۰ | عن سهل بن سعد الساعدي رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ما شقی عبد قط بمشورة و ما سعد باستغناء رای | ۱۱ |
| ۶۱ | عن ابي هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المستشار مؤتمن | ۱۲ |
| ۶۱ | عن ابي هريره رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من استشاره اخوة المسلم فاشار علیه بغیر رشد فقد خانه و من افتی بغیر ثبت فاثمه علی من افتاه | ۱۳ |
| ۹۱ | قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان العرافه حق و لابد للناس من العرفاء ولکن العرفاء فی النار. | ۱۴ |

# اعلام


| گڼه | اعلام | پاڼې |
|---|---|---|
| ۱ | ابن منظور افريقي رحمه الله عليه | ۲ |
| ۲ | شيخ علاؤالدين طرابلسي رحمة الله عليه | ۳ |
| ۳ | ابن خلدون رحمة الله عليه | ۴ |
| ۴ | امام راغب اصفهاني رحمة الله عليه | ۵ |
| ۵ | امام ابوالحسن ماوردي رحمة الله عليه | ۵ |
| ۶ | ابن عابدين شامي رحمة الله عليه | ۶ |
| ۷ | امام غزالي رحمة الله عليه | ۱۷ |
| ۸ | امام ابو اسحاق الشاتبی رح | ۱۸ |
| ۹ | استاد راشد غنوشی رح | ۲۷ |
|  | جلال الدين سيوطی رح | ۴۴ |
| ۱۰ | امام ابوحنيفه | ۶۴ |
| ۱۱ | ابن حجر عسقلانی رحمة الله عليه | ۴۶ |
| ۱۲ | امام نووی رح | ۴۷ |
| ۱۳ | امام ابو يوسف رحمة الله | ۶۰ |
| ۱۴ | امام ابن قيم رح | ۹۱ |
| ۱۶ | محمد ظاهرشاه | ۹۶ |
| ۱۷ | محمدهاشم خان | ۹۷ |
| ۱۸ | داوود خان | ۹۸ |

# مأخذونه


1- د کابل پوهنتون د ثقافت اسلامی استادان. نظام سیاسي اسلام. کابل پوهنتون. د چاپ کال ۱۳۹۹.
2- ادیب، غلام ربانی. تأمین امنیت از دیدگاه اسلام. انتشارات حامد رسالت-کابل، د چاپ کال ۱۳۹۳.
3- عوده. عبدالقادر. د اسلام جنايي تشریع او وضعي قوانین. ژباړه: هدایت. عبدالهادي. پیغام نشراتي مرکز. د چاپ کال ۱۳۸۴ هـ ش.
4- ابن خلدون. عبدالرحمن. د ابن خلدون مقدمه. ژباړه: شفیقي. محمد زبیر. د اکسوس کتابپلورنځی. وایګل چاپ. د چاپ کال ۱۳۹۹ هـ ش.
5- راسکین، مایکل. کورډ، رابرټ. یورس، جیمزمیډ. جونز، والټر. پولیټیکل ساینس ته یوه کتنه، ژباړه: ظهیر، محمد صدیق. علامه رشاد خپرندویه ټولنه- کندهار، د چاپ کال ۱۳۸۷ هـ ش.
6- ظریفي. دکتور شیرعلي. د نوښتونو په هکله د شرعي احکامو بدلون. د اصلاح دارالترجمه-کابل. د چاپ کال ۱۳۹۲ هـ ش.
7- مودودي. سید ابوالاعلی. اسلامي سیاست.ژباړه: سعید.قریب الرحمن. پیغام خپروندی مرکز. د چاپ کال ۱۳۹۳
8- حکمتیار. دین او سیاست. میثاق ایثار نشراتي اداره. د چاپ کال ۱۳۹۹ هـ ش. د چاپ ځای؛ کابل.
9- مولانا ګوهر الرحمن.اسلامي سیاست.ژباړه: سعید.قریب الرحمن. پیغام خپروندی مرکز. د چاپ کال ۱۴۳۰ هـ ق.
10- ابن تیمیه. تقی الدین.شرعي سیاست.ژباړه: مل.عبدالحکیم. میوند خپرندویه ټولنه. د چاپ کال ۱۳۸۲ هـ ش
11- قرضاوي. ډاکټر یوسف. دین او سیاست. ژباړه: خلیل الرحمن حنیف. انتشارات اصلاح افکار. د چاپ کال ۱۳۹۱
12- معتصم. امین الله. شورا و آثار اجتماعي آن. دارالترجمه اصلاح. د چاپ کال ۱۳۹۱ هـ ش. کابل.
13- نیاومن. محمد سرور. په افغانستان کې حکومتي سیستم. مومند خپرندویه ټولنه. ننګرهار چاپ.
14- غبار. میر غلام محمد. د افغانستان معاصر تاریخ ته یوه لنډه کتنه. ۲۲۳ مخ.
15- الاسلام والتجدید فی مصر. ۱۲۷ مخ په حواله د کتاب ثلاثه من اعلام الحریه ۱۲۰ مخ.
16- اسلام او سیاسي اندونه، مفتي محمد تقي عثماني. ژباړه: مولوي نورالله عزام. ۳۰۲ مخ

17- ثلاثه من اعلام الحریه له قدری څخه ۱۳۴ مخ. نظام الحکم فی الشریعه و التاریخ د طافر قاسمی لیکنه. ۷۴ مخ. د ۱۹۷۰ میلادي کال. بیروت چاپ.
18- السیاسة الشرعیه. ۷ فصل. ۱۵۷ مخ.
19- تفسیر قرطبي. ۴ ټوک. ۲۴۹ مخ.
20- سنن الدارمی. مقدمه. باب انقیاد و مافیها من الشدة حدیث ۱۲۳.
21- تاریخ الاسلامی للذهبی. ۳ج. ۲ مخ.
22- تفسیر ابن کثیر: ج ۲. مخ ۱۵۰
23- تاریخ طبری: ج ۲. مخ ۲۴۶
24- عبدالحمید اسماعیل الانصاری، الشوری و اثرها فی لادیموقراطیه. المکتبة العصریه، بیروت.
25- مجمع الزوائد. ۹ ټوک. ۴۶ مخ (المناقب).
26- تفسیر ابن جریر. ۴ ټوک. ۱۵۲ مخ، د ۱۹۵۴ میلادي کال د مصر چاپ.
27- زاد المسیر فی علم التفسیر. د ابن جوزي لیکنه. لومړی ټوک. ۴۸۸ مخ. د ۱۹۶۴ میلادي کال د بیروت چاپ،
28- تفسیر کبیر ۹ ټوک.۶۶ مخ
29- الشوری و الدیمقراطیه: اشکالات المصطلح و المفهوم، ص ۲۰.
30- (اخرجه الخطیب فی رواة مالک، الدرالمنثور، للسیوطی، ۱۰ ج، ۲مخ).
31- شرعي سیاست. ابن تیمیه. تقی الدین.ژباړه: مل.عبدالحکیم. میوند خپرندویه ټولنه. ۴۵ مخ.
32- تفسیر مظهری. ۲ ټوک. ۱۵۳ مخ. د هندوستان د ډهلي چاپ.
33- .(علاء الدین علی بن محمد البغدادی، تفسیر الخازن، (د محمد امین دمج له منشور څخه-بیروت)، ۱ ټوک، ۲۹۲ مخ، همدارنګه د آلوسي تفسیر روح المعانی، ۴ ټوک، ۱۰۲ مخ).
34- لسان العرب، ج ۳. ص ۳۹۱.
35- تفسیر النسفی، ج ۲. ص ۱۰۹.
36- الجامع لاحکام القرآن الکریم. ج ۳، ص ۱۷۲.
37- التفسیر الکبیر. ج ۶، ۱۰۶ ۲.
38- دور اهل الحل و العقد فی النموذج الاسلامی لنظام الحکم، ص ۱۲۵.
39- روح المعاني، ج ۱۳، ص ۴۶.
40- الشوری و الدیمقراطیه: اشکالات المصطلح و المفهوم، ص ۱۰.
41- الاعتصام. د شاطبي لیکنه. ۳ ټوک. ۲۵۰ مخ. ۱۹۱۴ میلادي. د مصر چاپ.
42- تحریر الاصول سره د شرحه. ۲ ټوک. ۲۵۰ مخ.

43- مجموعه شامی. لومړی ټوک. ۲۳ مخ. د ۱۳۲۴ هـ ق کال. د مصر چاپ.
44- مناقب الامام الاحمد بن جوزی. ۴۰۱ مخ. د ۱۹۷۹ میلادي کال چاپ. البدایه والنهایه ۱۰ ټوک. ۳۳۳ مخ.
45- تاریخ بغداد. د خطیب لیکنه. ۱۳ ټوک، ۳۲۸ مخ. د بیروت چاپ-مناقب الامام اعظم رحمه الله علیه للموفق الدین ملکی. ۱ ټوک، ۷۲ مخ.
46- المیزان الکبری. د شعراني لیکنه. لومړی ټوک. ۸۵ مخ.
47- تاریخ بغداد. د بغدادي خطیب لیکنه. ۱۴ ټوک. ۳۵۴ مخ.
48- موطا مالک. القدر. باب النهی عن القول فی القدر.
49- الترغیب د منذری لیکنه. لومړی ټوک. ۳۷ مخ. ۱۳۴۲ هـ ق کال. د مصر چاپ.
50- تفسیر فتح الباری. ۱۷ مخ. ۱۰۵ مخ. د سنن بیهقی رحمه الله علیه په حواله.
51- مصنف لعبد الرزاق رحمة الله علیه، ۹ ټوک، ۲۳۱ مخ، باب الشراب فی رمضان ۱۹۷۲ بیروت چاپ).
52- (الذریعه الی مکارم الشریعه ۸ باب، ۱۸ مخ).
53- (مصنف لعبد الرازق رحمة الله علیه ۹ ټوک ۲۳۱ مخ، باب الشراب فی رمضان ۱۹۷۲ بیروت چاپ).

7. Shura/council creates tolerance and solidarity among politicians and connects them, government oriented shura is so important for stability and peace of country.

8. I had believe that I can find the matters and orders of shura in the related resources, and I can reach to this hope as soon as possible. Thanks God that this wish was so positive and I reached to this wish so quickly. Studying of this thesis is so important fot governemtal officials and politicians and lecturers of universities, because the thesis satisfy them to save government from despotism and separation and rely it on shura, to finally work and serve for people.

9. The despotism pave the way for weakness and lack of legitimacy of governments. When the lecturers and students of political sciences faculty study this thesis helps them to know that what are the matters and orders of shura? Why shura is important, this thesis gives them accurate and first hand information. Beside the basic studies the students and lecturers can read this thesis as well because the thesis has more issues regarding shura/council from the Islamic perspective. The states seek to find the reasons of instability of government and unite the politicians' agaisnt foreign obtacles.

Getting first hand information is not easy it needs strives and hard working for researchs and studyings, it main reason is this that we can not find any credible resources and books regarding shura. My thesis is completed and matters, orders and particulars of shura/council have been found, and the theis is ready for reading. I feel so lucky that I found the matters, orders and particulars of shura and get the important opinions of scholars regarding the mentioned issue.

**Thanks**

# Conclusion

1. Thesis writing is a practical work for learning research for university students. Thesis writing increases their knowledge, and it ubnderstands students that how to research, and how to write it and how to distribute to others. I this thesis I used library research method, in this method the routine is searching the related books. I tried my best to discuss the thesis betterly.
2. This is a live and effective issue, and has the important talks for those who focus on politics, and students of political science. Council/shura is so important for the strengthen and power of states. This was so significant result that I knew that council closes influentials, officials and public, it clears the better solution, and eliminates despotism. This thesis expresses the main question of the thesis which is orders, importance and particulars of council, its answer is found and it is written with details. My purpose of thesis is to find and search comprehensive information regarding council and researching about the mentioned issue betterly.
3. Despotism is a big headache for nations and states, opposite of this is council and consultation is solution of nations' problems and connects officials and public. Shura/Council is vital for government and basic condition for the implementation of governmental programs and national processes. Council has significant role in stability and peace of nations. Non-council goverments are despotic and disorder.
4. I discussed the definition of political system of Islam, its resources, pillars of Islam Political system. As well as goals of Islamic Political System and other important issues were discucssed. The second chapter includes the definition of council, perspectives of councils, council role in politics, political benefits of shura, importance of shura and its value.in shura subject we explained that president is obliged to accept shura's consultation. I researched regarding the Non-Islamic countries' council/assembly according to Quran's perspective.

In this thesis I used the reliable resources in all issues and subjects, and the information is typed accurately and comprehensively. All the related issue discussed completely and the presented information is relatively.

5. I written the related hadiths and Ayats to religious issues of theiss, the mentioned the scholars perspectives as well regarding the related issues. The thesis also explained the membership of women in Islamic shura/council. Beside, difference between Islamic shura and democratic assembly and the historical background of Afghan Parliament in Afghanistan. The issue of shura/council is so important in nowadays world.
6. If the officials are not being trutful to people in public affairs, they treat with cruelty and pride and they do not respect to people and to not eliminate the spaces between them, the government will instable neceesarily. The educated, united and trader citizens has vital role in stability and security, and their government will be powerful in all affairs.

**Islamic Emirate of Afghanistan**
**Ministry of Higher Education**
**DM of Academic Affairs**

**Salam University**
**Faculty of Sharia and Law**
**Master Program of Jusiprudence & Law**

# Orders, Importance and Particulars of Shura in Islam Political System

**Student: Mohammad Tahir Atshan**

**Supervisor: Dr. Rafiullah Ataa**

**Year: 2022**

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

Salam University
Faculty of Sharia and Law
Master Program of Jusiprudence & Law

# Orders, Importance and Particulars of Shura in Islam Political System

Student: Mohammad Tahir Atshan
Supervisor: Dr. Rafiullah Ataa

Year: 2022